


Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب : د ناوي بنګړي

ليکوالان :بېلابېل

ژباړن : نثار احمد آريا

خپروونکې:

بېنوا فرهنګي ټولنه_ کندهار

د خپرونو لړ) : 17(

چاپکال : 1383ل کال

کمپوز/ ډيزاين : مختار احمد انتقام

کمپيوټرچاري:

بېنوا کمپيوټر څانګه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مورِ څه وايو!

ډېره د خوښۍ خبره ده، چي په دې وروستيو کي د ځوانانو مينه له خپل فرهنګ او ادب سره اورنۍ شوې ده او د خپل فرهنګ د بډاينې لپاره يې لارې چارې مشخصې کړې او درانه ګامونه وربانديې اخلي، چي پر دې لار يې ټولو اړتياوو ته په پام سره چوپړ ته ملا تړلې ده .

د دغسې فرهنګ مينو، هڅاندو او خواريکښو زلميو له ډلې څخه يو هم ځوان او با استعداده نثار احمد آريا دی، چي همدا اوس- اوس يې د غوره کيسو يوه ژباړل شوې ټولګه ستاسو په لاس کي ده او زمورِ دا هيله ده چي د ذوق ژبه، به پر وټکوئ.

ښاغلی اريا که له يوې خوا د پښتو لنډې کيسه ليکني پر ډګر راټوکېدلی خدايې غاټول دی، خپله هم لنډه کيسه ليکي او د لنډې کيسې ليکنې برياليۍ تجربې کوي، دغه راز د نورو ليکوالو له غوره کيسو څخه هم ژباړې کوي.

ښاغلی اريا د لنډو کيسو په ټاکنه کي د ښه ذوق څښتن دی او زمورِ د دې خبرې زبات به ان شا الله تاسو د دغي ټولګي په منځ- منځ کي ووينئ. د ګران اريا يوه ډېره ښه ځانګړنه دا ده چي ده خپله ټوله پاملرنه يوازې او يوازې د لنډې کيسې مطالعې او تجربې ته اړولې ده، دی هڅه کوي چي يو کار وکړي او پوخ يې وکړي. نو مورِ به د ده د لومړني فرهنګي چوپړ لومړنۍ بېلګه (د ناوې بنګړي) ستاسو د ذوق مخې ته کښېږدو.

خدای دې وکړي چي خوښي مو شي او مورِ به خپلې خبرې په دې دعا رالنډې کړو، چي خدای دې وکړي زمورِ دغه نوی غوړېدلی ګل د وخت له سړو او نامردو سيليو څخه تر ډېره په امان واوسي او خورِبويي يې تر ډېره په لره او بره پښتونخوا کې خپره وي او د ټولو پښتنو دماغونه په تر او تازه وي.

امين ثم امين

په ادب، مينه او درنښت

بېنوا فرهنګي ټولنه_ کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پایله

## ګیدو موپاسان/فرانسه

له ډوډۍ څخه وروسته مېلمستیا ته راغلي سړي د چلم څکولو لپاره په بله کوټه کې سره راټول شول، او له غره، وره خبري پیل شوې، په خبرو، خبرو کې د هغو میراثونو یادوني پیل شوې، چې ډېري عجیبې او نادري وې، پدې وخت کې ښاغلي انتوني یوه په زړه پوري کیسه وکړه، ښاغلی انتوني د ښار له وتلو وکیلا نو څخه دی، هغه وویل" نن سبا زه د یوه داسي وارث په لټه کې یم چې په ډېر بد حالت کې غیب شوی دی، هسي خو دا یوه عادي کیسه ده، چې په نړۍ کې هر مهال رامنځ ته کیدای شي، خو تفصیل یې ډېر دردونکی دی.

تقریبا شپږ میا شتي مخکې یو ې شتمني کونډې ما ته د یوه سړي له لاري بلنه راکړه، چې د هغې کور ته ورشم، هغې بخښنه غوښتې وه چې د ناروغۍ له امله هغه خپله زما دفتر ته نشي راتلای، زه د هغې لیدو ته ورغلم، له څو رسمي جملو وروسته هغې راته وویل:" وکیل صاحب! زه غواړم چې تاته یوه ډېره مهمه او سپېڅلې دنده دروسپارم، ما ته د دې کار لپاره تر ډېر غور وروسته غوره کړی یې ، زما د ژوند شېبې نوري لنډې شوي دي، کوم کارچي غواړم تا ته یې وسپارم، هغه به ته زما له مړیني وروسته پیل کوې، پر مخا مخ مېز زما وصیت نامه پرته ده، او ورسره د لسوزرو "فرانکو" نوټونه هم دي، که چېری ته پخپل کار کې پاته راغلې، نو همدا لس زره فرانکه خپل فیس وبوله، اوکه چیري بریالی شوې، نو زما له وصیت سره به سم یو لك فرانکه نوري تاته د جایزې په توګه درکړل شي، ماله هغې وپوښتل چې هغه غواړي په ما کوم کار وکړي؟ هغې ځواب راکړ، چې زه به د هغې ورك زوی ور پیدا کوم، چې د دې د ټولي شتمنۍ یوازینی وارث دی، کونډې دا خبره بیا تکرار کړه چې زه به د هغې له مړني وروسته خپل لټون پیل کوم، او هغه باور لري چې دا به ډېر ژر مړه شي، هغې له ما هیله وکړه چې زه هغې ته تکیه ورکړم او پرکټ یې د دې لپاره کښېنوم، چې هغه خپله کیسه ماته وکړي، چې کیسه واورم، نو کیدای شي، چې زه د خپلي دندي پلان ترتیب کړم،کونډه په ریښتیا هم ډېره ناروغه وه، سره له دې چې زه ډاکټر نه وم خو بیا مي هم اندازه لګولای شوه، چې هغه نوره د یو څو ورځو مېلمنه ده.

کونډې خپله کیسه داسي پیل کړه "ښاغلې! ته هغه لمړنی کس یې چې زه داکیسه ورته کوم، د دې لپاره چي تاته زما د درد اوخوړ احساس وشي، ځکه ته یو خواخوږی انسان رامعلومیږې، زه باور لرم، چي ته زما بدبختي داستان واورې نو زما د زوی په لټه کې به هیڅ کمزوري نه ښیې، زه نه غواړم چي ډېره لیري لاړه شم ځکه داسي نه وي چې د څه درښودلو وړاندي زما ځواك ځواب راکړي."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر واده وړاندې ما له یوه هم سینه ځوان سره مینه کوله، ما پټيلې وه چي له هغه سره به واده کوم، خو زما مور او پلار په دې خوښ نه وو، ځکه زما محبوب شتمن نه و، زه يې یوه لوړ او شتمن سړي ته ورکړم، ما د دې واده مخالفت و نه کړ، ځکه چي زه هغه وخت کم سینه، بې تجربې او د مور او پلار په خوښه وم"

څو کاله ورسته ځینې مهمي پیښې را منځ ته شوې، له یوه لوري زما محبوب بل واده وکړ او له بل لوري زما یو ډېر ښکلی زوی وزېږېد، د زوی له پیدا کېدو دوه کاله وروسته زما مېړه مړ شو، او په دې لویه نړۍ کي زه د یوه زوی او خپلي ډکي ځوانۍ پیټي ته یوازي پاته شوم"

"زما محبوب چي زما د مېړه له مرګه خبر شو، نو هغه ډېر خواشینی شو، په دې نه چي زما مېړه مړ شوی و، بلکي په دې چي هغه بل واده کړی و، او اوس سره له دې چي د هغه لار پاکه وه، هغه له ما سره واده نشوای کولای، هغه د عذر لپاره ماته راغی، او پر دې غم يې په چيغو، چيغو وژړل، زما زړه ټوټې، ټوټې شو.

"له دې وروسته زما کور ته د هغه راتګ پیل شو، همدا زما لویه غلطي وه، ځکه ما باید په لمړیو شپو کي هغه له خپله کوره منع کړی وای، خو دا چي زه د مېړه بې وخته مرګي ډېره ځورولې وم، نو ځکه مي خپل محبوب ته د دوستۍ تر بریده د اړیکو ساتلو اجازه ورکړه، خو دا اړیکي ډېر ژر د دوستۍ له بریده واوښتې، معلومداره خبره ده چي همداسي به کېدلای، ځکه زه ځوانه وم، یوازي وم، او له هغه سره مي مینه وه، موږ ښځي باید ځنکه راز، راز تکلیفونه وزغمو"

بیا داسي وخت راغی چي د هغه ډېري شپې به له ما سره تېرېدې، هغه واده درلود، زه کونډه وم او یو زوی مي هم درلود، نور نو موږ ته مناسبه نه وه چي مینه او عاشقي وکړو، ما باید لمړی لا دغه خطر حس کړی وای، خو افسوس چي احساساتو مي پر عقل پرده غوړولې وه، زه له فطري غوښتنو څخه مغلوبه شوې وم، نتیجه يې دا شوه چي هغه ټول څه وشول چي باید نه وای شوي، زه د هغه یو ډول یارانه وګرځېدم، ښایي ته به فکر کوې چي دا ټوله ګناه زما زه، خو داسي نه ده، کیسه دا سې وه چي زما میني او یوازیتوب زما د محبوب حوصله ور لوړه کړه، د هغه غوښتني له یوې نه بلي ورځي ته پسې ډېرېدې، ما ډېر مزاحمت وکړ خو حقیقت دادی چي د ښځي کردار چي هر څومره کلك وي، که له یو سړي سره څو ساعته یوازي پاته شي نو د کردار ټول بنسټ يې له منځه ځي او داچي هغه تر واده وړاندې زما محبوب و...

همداسي څورلس کاله تېر شول، دغه څولس کاله زما د ژوند تر ټولو ښې شیبې وې، په دې زمانه کي زما زوی لوی شو، هغه دومره ځیرك او صالح هلك و چي یو مور ویاړ پرې کولای شوای، زما پر یار هم ګران و، موږ دواړو په ګډه هغه لوی کړ، د هغه د زده کړې لپاره زما محبوب ډېر زیار وکیښ، زما زوی به هغه ته کاکا ویل، له هغه سره يې بې کچه مینه کوله او د هغه يې ډېر درناوی کاوه، هغه يې خپل پلار، ښونکی، پالونکی او ملګری باله او په هر څه کي به يې له هغه سره مشورې کولې، هغه هیڅکله په خپل کور کي د کاکا پر شته والي نیوکه نه وه کړې، نیوکه خو لا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږده هغه تر اوسه دا هم نه و پو ښتلي چي کاکا هره ورځ زموږ کور ته داسي بې خاره ولي راځي، هغه له کوچنيوالي هغه خپل ځان او مور ته نژدې ليدلی و او هغه يې د خپل ځان مخلص ګڼلی وو هغه په خپل کور کي په کاکا عادي شوی و او هغه يې د ځان او مور خير خوا ګڼلی و.

بيا يو وخت زما يار له خپلي ښځې سره د يوې مياشتي لپاره په سيل برتانيې ته ولاړ، هغه به هر وخت په کال يا دوو کلونو کي بهر ته په سيل تلی، خير کله چي بيرته له برتانيې څخه راغی نو تر ټولو لمړی زما ليدو ته راغی، موږ ډېر احساساتي سره يو ځای شوو او په يو بل کي ورك شو، زما سد والوت،نه پوهيږم چي څومره وخت به تېر شوی و، خو چي ځان او شاوخوا ته مي پام شو، نو ټکان مي وخوړ، زه ناببره پوه شوم چي په کوټه کي دريم کس هم شته، ما چي سر را پورته کړ او د وره خوا ته مي وکتل نو پر سترګو مي توره شپه شوه، ما خپل زوی "هنري" وليد چي ژر وګرځېد او لاړ"

"زما پر سر اسمان را ولوېد، کشکي مځکه چاودلې وای او زه په ننوتلې وای او يا مي پر کړي وای او د همېش لپاره ورکه شوې وای، نه پوهيږم چي ما تر کومه سلګۍ وهلې او ژړل مي، زما زړه د چاودېدو په حال کي و، ټول بدن مي لکه په اور چي کبابېدی، زه د هغه کب په څېر تړپېدم چي له اوبو را ايستلی شوی وي او پر وچه يې غورځولی وي، وکيل صاحب! هغه مهال چي زما کوم حالت و، هغه زه په ژبه نه شم بيانولی، زما يار هم چوپ و، هغه له ما څخه ليري ناست و، هغه نه ماته ډاډ راکړ، نه يې له ژړا څخه منع کړم او نه هم نژدې راته راغی، ډېر ورسته هغه چوپتيا ماته کړه او و يې ويل:"زه د هنري پسې ځم، د هغه ... د هغه د پوهولو هڅه کوم، زه ... زه هغه ته وايم"

هغه هم لاړ، زه يوازي پاته شوم، د اوښکو چينې مي وچي شوې او ډېره کمزوري شوم، کله چي ښه سترې شوم نو پر کټ ولوېدم او د خپل تللي زوی په تمه شوم، زه چوپه وم په زړه کي مي ډول، ډول انديښنو سر کړی و او له وېري په رېږد وم، کله چي به په نغري کي د کوم لرګي ټك شو نو زما ترهنده سترګي به د وره خوا ته واوښتې، يوې نا څرګندي وېري زما زړه په اوسپنزو زولنو کي را حصار کړی و، زه پوره باور لرم چي کوم سخت مجرم به هم داسي درد نه وي ليدلی،"د شپې په نيمايي کي ماته د خپل محبوب له لوري خبر راغی، چي هغه تر اوسه د هنري په پيدا کولو کي پاته راغلی دی، هغه پوښتلي و چي هنري خو به کوګر ته بيرته نه وي راغلی؟ ما ځواب ور ولېږه چي نه هغه تر اوسه بيرته کور ته نه دی راغلی، ته خپل لټون جاري وساته"

"زه ټوله شپه هغه ته په تمه ناسته وم، څو ځلي پر خپل زهني توازن باندي شکمنه شوم، کله به مي زړه راته ويل چي جامې وشلوم، ټوپونه ووهم او دومره منډې کړم، چي عصاب مي شل شي، کله به مي زړه و چي پر مځکه ځان وغورځوم، خو هيڅ غوښتنه دومره قوي نه وه چي ماته يو کوچنی حرکت راکړي، زه ټوله شپه ډول، ډول انديښنو لاندي کړې وم، بد، بد چورتونه رالوېدل د توپاني جګړو غوندي په زهن کي راګرځېدل چي اوس به څه کيږي؟ که هغوئ دواړه سره مخامخ شول نو بيا به زما د زوی غبرګون څه وي؟ که هغه بېرته راغی نو زه به دومره توان ولرم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي له هغه سره مخامخ شم؟ هغه به بېرته راشي؟ که را نه شي نو زه به څه کوم؟ دا دومره لوی ژوند به یوازي څنګه تېروم؟

شین سهار و، چي زما مزدوري کوټې ته سر را ښکاره کړ، ما له دې پرته چي هغې ته وګورم په لاس د تلو اشاره ورته وکړه، نه پوهېږم چي هغه ولاړه که پاته شوه خو لږ وروسته په داسي حال کي چي یو ډاکټر ورسره ملګری و ماته نژدې راغله، ډاکټر ویل زه سربداله شوي یم، هغه زه پر کټ پرې ایستم او نور په ځان پوه نه شوم"

"مزدوري مي ویل چي زه تر ډېرو ورځو پوري سمه په هوښ کي نه وم، په همدې نا سم حالت کي به مي کله چیغي وهلې، کله به مي بغاري وهلې او کله به مي اپلاتي ویلې"

"کله چي زه پر سد شوم نو زما محبوب ماته نژدې ناست و، هغه ډېر ستړی او پرېشانه ښکارېدی، زما چي پر هغه سترګي ولګېدې نو سملاسي مي بېرته ورڅخه واړولې او د خپل زوی حال مي ورڅخه وپوښت، هغه راته وویل: ما چي هر څومره د هغه لټه وکړه بیا هم د هغه په موندلو کي پاته را غلم" ما هغه ته په قار وویل: سملاسي له دې ځایه پورته شه او زما زوی را پیدا کړه، تر څو چي دي هغه نه وي پیدا کړی له ما سره د لیدو هڅه مه کوه، هغه ولاړ"

"وکیل صاحب! له هغې ورځي راهیسي، نه زما زوی بېرته راغی او نه زما محبوب، ما له تېرو شلو کلونو راهیسي د هغوئ یوه مخ نه دی لیدلی، له شلو کالو څخه پرلپسې زه دغه عذاب ګالم، زه هره شیبه په تمه تېروم، هر وخت مي زړه دربیږي چي خدای خبر زوی به مي کله بېرته راشي، ته د دې سزا درد نه شې محسوسولای، دا یوازي د یوې مور زړه محسوسولای شي، هغه تمه چي پای نه لري ، اف " هغه چوپ شوه، بیا یې څو شیبې ورسته پسې وویل:" خو اوس هغه وخت رارسګېدلی چي دغه تمه پای ته ورسیږي، زما وخت رارسېدلی زما ژوند په خلاصېدو دی، ما د مرګ ښکالو اورېدلې ده، مرګ دي کور ته را ننوتلی دی او نور زه هم د ژوند هیله نه لرم، له دې شلو کلونو را هیسي چي زه کوم ژوند تېروم تر هغه مرګ وېرونکی نه دی"

او هغه زما محبوب، هغه له تېرو شلو کلونو څخه بې له ناغې زما کور ته راځي او زما د نوکرانو په منځګړیتوب له ما څخه د لیدو غوښتنه کوي، له هغه راهیسي ماته لوی، لوی لیکونه لیکي، زما له نوکرانوسره غوړمالۍ کوي، هغوئ ته لوی، لوی رشوتونه ور مني چي په یو ډول ځان دننه را پرېږدي او د یو څو شیبو لپاره له ما سره ووینې، خو ما هیڅکله هغه ته د لیدو اجازه نه ده ور کړې، د یوې شېبې لپاره هم نه، ځکه چي ... نه پوهېږم چي ولې؟ زه په دې پوره باور لرم چي که په هره شېبه کي هغه زما مخي ته راغی نو په هغه شیبه به زما زوی هم بیرته راشي او مور دواړه به یو ځل بیا یو ځای ووینو، اف، زویه ... خدای خبر هغه به چیري وي؟ مړ به وي که به ژوندی؟ خدایزده چیري به پټ وي؟ په همدې وطن کي به وي که به له سمندر پوري وتلی وي؟ زه به کله ور یادېږم که نه؟ نه پوهېږم چي اولاد خپل مور او پلار دومره ولي ځوروي؟ داسي سختي سزا وي ولي ورکوي؟ خپل زامن دومره بې رحمه کیږي ولي؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوې مور په داسي حال کي چي د مرگ شېبې يې شمېرلې په اسمان کي سترگي ښخي کړې او په دردناك ږغ يې خپل زوی ته ور ناري کړل:" زويه! زما زويکه! ته خو دومره ظالم نه وې، تا خو همېشه خندل او زه دي خندولم، ته دومره احساس نه لرې چي تا خپلي مور ته څومره سخته سزا ور کړې ده، تا خپله مور ژوندۍ ښخه کړې ده هغه مور چي له تا سره يې دومره مينه کول، چي کله به ستا تبه وه نو هغې به خوب پر ځان حرام کړ او کړۍ شپه به ستا سرته ناسته وه"

"گوره دغه ټولي خبري هغه ته وکړه" کونډې ماته وويل:" ورته کوې يې که نه؟ ژمنه ده؟ هغه ته ووايه ... هغه ته ووايه زما زويه زما زړگيه! پر خپلي تللي مور رحم وکړه، وخت له هغې سره ډېره جفا وکړه، له کله راهيسي چي ته تللی يې، له هغې ورځې څخه ستا له مور څخه د گور مړی جوړ شوی دی، اوس هغه په ريښتيا مړه شوې ده، ته خپله مور وبخښه، يو ځلي يې په مينه ياده کړه، ستا د دغه شل کلن بېلتون هره شيبه د هغې لپاره تر مرگ په کمه نه وه، او ستا په ياد کي يې د وينو اوښکي توی کړي وې او يو ځل د هغې قبر ته ورشه او هغې ته ور چيغي کړه چي مور جاني! هغه به پوه شي چي تا هغه بخښلې ده" کونډه په چيغو شوه، او بيا يې سلگۍ پيل شوې، زه چوپ ناست وم هغه دردېدلې ننداره مي کول چي يوازي يې پای زما په مخکي و، هغې په لاس ماته د تلو اشاره وکړه، زه چي پورته شوم نو هغې پرته له دې چي ماته وگوري په سلگيو راته وويل:"هغه ته دا خامخا ووايه چي ما ... چي ما له هغه وروسته بيا هيڅکله د هغه (خپل يار) مخ لا نه دی ليدلی، دا به ستا ډېره لويه مهـرباني وي، نور نو ما يوازي پرېږده چي په خپلو گوروړمونو کي ډوبه مړه شم"

زه دباندي راووتم له سترگو مي اښکي رواني وې، څو ورځي وروسته خبر شوم چي هغه کونډه مړه شوې ده، ما د هغې په جنازه کي گډون وکړ"

بيا ما له خپلو ټولو امکاناتو او اړيکو څخه کار واخيست، په پټو سترگو مي هڅي وکړې چي د هغې زوی پيدا کړم خو تر اوسه په خپلو هڅو کي بريالی شوی نه يم، تاسو چي د هغه په اړه هر فکر کوئ خو زه هغه يو مجرم زوی بولم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بندي

## جرالډ کيريش

"تل خونه هلته ده!" د محبس مشر په داسي حال کي چي يو لور ته يې اشاره کول وويل:" لاندي د ورکښته کېدو پر مهال لږ پام کوئ ځکه چي ځيني ډيري زړې وهلي دي، تاسو خبر ياست چي دغه سيمه رود ته ډېره نژدې ده ځکه يې نو ځيني ډېري بوس شوي دي او پر ډېرينو ځينو باندي د لندبل له امله خپل سري بوټي را شنه شوي دي، که څه هم هغه تاسو ته چنداني زيان نه در رسوي خو ښايي جامې مو در چټلي کړي، هو رښتيا! اوس دغه تل خونه تشه ده، اوربېدلي مي دي چي په "کلوري" کي يې پر روغتيايي اوصلو برابر محبس جوړ کړی دی، خو زما په فکر محبس بايد محبس وي نه هوټل، محبس ته سم خلك نه ځي، بد خلك ځي، د دې لپاره محبس بايد محبس وي، ته څه په کي وايې؟"

"دا ځای اته سوه کاله پخوانی دی، خو اوس هم د اولي ورځي غوندي دی، بده به نه وي که ووايم چي دغه محبس په دولسمه پېړۍ کي جوړ شوی دی، له دې ورستيو لسو کلونو پرته نور له هغه راهيسي کار ورڅخه اخستل شوی دی، لمړی تل خونه وينئ؟ که مخامخ شکنجه خانې ته ورځئ؟ تل خونه وينئ ؟ ښه، لاکن هلته ستاسو د ليدو وړ څه نه شته" د محبس مشر چي يو زوړ سړی و، يو ستر اوسپنيز وره ته اوږه ور کړه او ور يې پرانيست، بيا په داسي حال کي چي په لړزېدلو لاسونو کي يې ډېوه نيولې وه موږ ته لار را ښوول.

تل خونه يو هيبت ناك ځای و، لس مربع فټه غولی يې و، اته فټه يې هسکوالی و، ښوی مځکه يې وه او ساه په کي بندېده، دومره سړه وه چي د انسان زړه په کي تنګېدی، زموږ يو ملګري ناره کړه "دا ډېوه خو يو وار دلته راوړئ، دلته پر دېوال څه نقاشي ښکاري"

"بلې هو" د محبس مشر وويل:

"پر څلورو واړو دېوالونو نقاشي شته، دا وګورئ دلته رڼا ښه پرېوزي"

موږ ټول جنوبي دېوال ته نژدې ور ټول شوو، پر دېوال د ډېوې ژړه رڼا پرېوته، يو چا پر ډېرينو دېوالو باندي ډېره ښکلې انځورګري کړې وه، د عيسی د ژوند او د هغه د زندۍ کولو انځورونه ښکارېدل، انځورګر د پوره هنر مظاهره کړې وه، د عيسی پر څېره باندي نا پايه سپېڅلتيا ښکارېده، د محبس مشر وويل:

ښه په غور يې وګورئ دغه انځورونه پخواني نه دي، کوم چا چي دغه انځورونه جوړ کړي دي هغه مړ... زما يې نېټه سمه ياد نه ده، تقريبا لس کاله پخوانۍ خبره ده زما د هغه نوم ياد نه دی، فکر کوم چي نوم يې "جون" و، که کوم بل څه و، زه په دې هم نه پوهېږم چي هغه يې دلته د څه لپاره راوستلی و، ګومان کوم چي جرم يې سياسي و"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هغه ته يې د ټول عمر نظر بندي او يوازيتوب سزا ټاکلې وه، هغه زلمی و او له يوې درنې کورنۍ څخه و، په هغه شپو کې زه نوی د محبس مشر ټاکل شو ی وم چې هغه يې دلته راوست، کوم سپاهي چې هغه دلته راوست، هغه ماته وويل چې ښاغلې ارتهره ! دا سړی د توري تل خوني لپاره دی، دا کوټه موږ توره تل خونه بولو، سپاهي وويل چې دا بندي بايد له بهر سره هيڅ تماس و نه لري، دی بوزئ بندي يې کړئ"

ما ورته وويل ډاډه اوسه ! له دې ورسته به دی له دباندې نړۍ څخه مطلق بې خبره پاته شي "

"زه وياړم چې ما خپله دنده په پوره ايمانداري سره تر سره کړه، درنو مېلمنو! ما هغه په تل خونه کې بند کړ، هغه هيڅ ونه ويل، هيڅ شور يې ونه کړ ځکه هغه له يوې درنې کورنۍ څخه و، زه چې په لمړي ځل هغه ته د ډوډۍ ور وړلو لپاره ورغلم نو هغه ماته داسې وکتل لکه زه چې د يوې مرداري ويالې چنجی وم، ما په زړه کې وويل، ښاغلې ! ته ماته ډېر په حقارت سره ګورې، خير ژر وي که ورسته ته به زما په قدر پوه شې"

"پوره يوه مياشت وروسته، يوه ورځ هغه له ما څخه وپوښتل چې نن کومه ورځ ده؟ ماته امر شوی و چې هغه بايد له نړۍ سره هيڅ ډول تماس و نه لري، مانا داچې له بندي سره بايد خبري هم ونه شي، ما هغه ته هيڅ ونه ويل، پټه خوله دباندې راووتم، دويمه ورځ بيا هغه له څخه وپوښتل، مهرباني به دې وي که راته ووايې چې نن کومه ورځ ده؟ ايا زما د بند يو کال تېر شوی؟ زه و نه توانېدم چې خپله خندا پټه کړم، يو کال؟ تر اوسه خو پنځه اونۍ نه دي تېري شوي "

د دويمي مياشتي وروستيو شپو ته د هغه حال خراب شو، له هغه سره د يوې جملې خبري کولو په بدل کې هغه هر څه راکولو ته چمتو و، خو زه يو ساده ريس وم، نه مي حرس درلود او نه يې لرم"

د هغه حال نور پسې خراب شو، هغه به پر ځنګنو ولوېد او په ژړغوني ږغ به يې وويل: پر ما رحم وکړه، له ما سره ورغږېږه، ما به سر ورته وښوراوه او ورڅخه تېر به شوم، سړی بايد خپله دنده په اماندارۍ تر سره کړي، ما به ډېر کله اورېدل چې هغه به په لوړ ږغ خندل او يا به يې په ړزېدلي ږغ چيغي وهلې، تاسو ته به زه ډېر ظالم ښکارم، ښايي همداسې وي خو زه د خپل امر پابنده وم، ماته امر شوی و چې زه له هغه سره هيڅ خبره و نه کړم ځکه نو ما له هغه سره خبري نه وکړې "

"درې مياشتې ورسته هغه ماته لوی، لوی وړانديزونه راکړل، هغه ويل انسان خو به يې؟ پر ما رحم وکړه، پښو ته دې درلوېږم، له ما سره خبري وکړه، زه به تاته هر څه درکړم، ما هيڅ جرم نه دی کړی، زه لوړه کوم چې ما هيڅ ګنا نه ده کړې، زه تاته په زرګونو پيسې درکولای شم، د يوه توري په بدل کې به زر، زر پونډه درکړم، د هغه ځکېروی خوت خو زه رشوت خور نه يم او بل زما په زهن کې دا خبره هم وه چې بندي به دومره پيسې له کومه کړي ؟ ما هغه ته د "نه " په دود سر وښوراوه، هغه ډېري بغاري ووهلې اخير چې ښه سترۍ هلاك شو نو چوپ شو"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ماته ویل شوي و چي که چیري هغه د ځان وژني هڅه کول نو مخه یې مه نیسئ، یو چاقو، پنجه، قاچوغه، غاب او یو ګلاس د هغه په اختیار کي وو"

"یوه ورځ هغه له ما څخه یو نوی چاقو وغوښت، ما د هغه زوړ چاقو وکوت، د چاقو لاستی مات شوی و، زما په فکر کي را وګرځېدل چي کیدای شي هغه ځان ته د تېښتي لار جوړوي ځکه نو د چاقو لاستی مات شوی دی، ماته خندا راغله ځکه د تل خوني دېوالونه د فولادو غوندي کلك دي، پنځه میتره پنډ دي او په پوښښ کي یې اوسپنه کار شوې ده "

"ما له مرکز څخه امر وغوښت، ځکه ما دا اختیار نه درلود چي هغه ته نوی چاقو ورکړم، کله چي اجازه راکړل شوه نو بیا ما هغه ته نوی چاقو ورکړ "

ډیري ورځي تېري شوې یوه ورځ ما د ډېوې په رڼا کي دننه وروکتل، هغه هڅه کول چي پر دېوال باندي یوه څېره انځګور کړي، په څېره کي د ژوند اثار ښکارېدل، هغه د ځان د بوختیا یوه ښه لار پیدا کړي وه"

هره اونۍ به هغه له ما څخه دا پوښتل چي ایا زما د راتلو لس کاله شوي دي ؟ ایا زما د راتلو شل کاله شوي دي؟ ایا زما وېښتان سپین شوي دي ؟ خو د وخت په تېرېدو سره د هغه دا عادت هم پای ته ورسېد، هغه پر انځورونو انځورونه جوړول، تاسو یې وینئ هغه پر یوه څېره باندي بله څېره تورل، تر ټولو د حیرانۍ خبره دا ده چي هغه دغه ټول انځورونه په تیاره کي جوړول، ځکه هغه ته د رڼا ورکولو اجازه هم نه وه .

"بندي به هر وخت په نقاشیو اخته و، خورا ډېر چاقوګان یي خرابول، ځکه نو موږ هم د لرګي چاقوګان ور شروع کړل، د هغه د کار لپاره مو زاړه مېخونه او پیچونه هم ورکول، په دېرشو کلونو کي هغه د تل خوني ټول دېوالونه ډك کړل" د محبس مشر چوپ شو.

موږ خپل چار چاپېره توړلي ډېري لیدلې، موږ داسي محسوسوله لکه د وخت رفتار چي تم شوی و، موږ یوې عجیبې وېري اخیستي و، تل خونه د قبر غوندي تیاره وه او موږ ته خپل ځانونه داسي ښکارېده لکه مړي چي وو، ډېر بد یخ و، موږ بالاپوښونه اغوستي وو بیا هم رېږدېدلو، ما ویل " اف، دېرش کلونه"!

"درو دېرش کلونه" د محبس ریس وویل: "اوس را یاد شول، هغه درودېرش کلونه بندي وو، هغه چي څه وخت دلته راغلی نو زما د لور لمړی کلیزه وه، په درودېرش کلونو کي هغه څلور سره دېوالونه له انځورونو څخه ډك کړل او پو هېږئ چي بیا څه وشول؟ دولت د هغه سزا ور کمه کړه او د هغه د ایله کېدو امر یې وکړ، تاسو ته به پر دې خامخا خندا درشي ځکه زه چي هغه ته ورغلم او پر هغه مي د خوشي کېدو زېری وکړ نو هغه زه پر ځنګون په یو شي ووهلم او ویې ویل: څه ورك شه، پنځه دقیقې مي پر ارامه نه پرېږدې؟ موږ هغه په زور له تل خوني څخه راوویست او له محبس څخه دباندي مو ایله کړ، خو ښاغلې! چي څنګه موږ هغه دباندي ایله کړ نو هغه ساه ورکړه، زه پوره باور لرم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي پر هغه باندي دغه خلاصه او تازه هوا سمه ونه لګېده، ازادي هوا له هغه څخه ژوند واخیست ځکه هغه د بندي هوا عادي شوی و "

"نو زما درنو مېلمنو! اوس تاسو د شکنجه خانې لیدلو ته چمتو یاست، که نه؟."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې ټاټوبي

## ناډين ګورډيمر/جنوبي افريقا

په هغه شپه چي زموږ مور بازار ته لاړه، نو بيا رانه غله، نه پوهيږم چي په هغې څه وشو، يوه ورځ زموږ پلار هم همداسي تللى و، بيا هيڅکله رانه غلی، لاکن هغه جګړې ته تللي و، که څه هم موږ هم د جګړې په سيمه کي وو، خو خير موږ کوچنيان وو، موږ دخپل نيکه او انا غونډي وو، چي لاسونه يي له وسلې خالي وو، زما پلار له هغه چاسره جنګېدی چي حکومت داړه ماران بلل، هغوی هر ځګای لوټ او تالان ګډ کړی وو، موږ ټولو له هغوئ څخه د ځان ژغورلو لپاره له ويري دا رنګه منډي وهلې، لکه چرګان چي د سپيو له ويري منډي وهي، موږ نه پوهيدلو چي چيري لاړشو، زموږ مور بازار ته ددې لپاره تللې وه، چي غوړي راوړي ، ځکه کوم چا ورته ويلي و، چي په بازارکي غوړي ورکوي، موږ لدې خبري ډير خوښ وو، ځکه موږ له ډيري مودې راهسي د غوړو څکه نه وه کړې، ښايي هغې ته به يي غوړي ورکړي و، ددې لپاره به کوم چا په تياره کي وژلې وه، او غوړي به يي ترې اخيستي و، او يا ښايي له داړه مارانو سره مخ شوې وي، که کله تاسو له داړه مارانو سره مخ شئ ، نو هغوئ به تاسو هم ووژني، هغوئ دوه ځله زموږکلي ته راغلل، موږ منډه کړه په لوخو کي پټ شوو، بيا چي کله هغوئ لاړل نو موږ له لوخو نه را ووتو او خپلو کورونو ته راغلو، چي وموکتل نو د کور هرڅه يې وړي وو.

خو په دريم ځل هغوئ ته هيڅ په لاس نه ورغله ، نه غوړي او نه هم د خورك کوم بل شی، هغوئ زموږ دکور تيرانو او لرګو ته اور اچولی و، چي له امله يې زموږ د کور چت پر مځکه رالوېدلی و، زموږ مور د اورسپني ټوټې راوړي وې، چي په هغه موږ د خپل کورڅه برخه پوښلې وه، په هغه شپه موږ تر هغه چت لاندي د خپلي مور د بيرته راتلو په تمه ناست وو.

موږ د کار لپاره لا هم له وېري دباندي نشوای وتلای، ځکه داړه ماران په رښتيا بيا راغلي وو، زموږ کور ته خو لا خير نه وو راغلي، پدې چي بې چته کور هغوئ ته له انسانانو او شيا نو تش ښکاره شوی و، که نه نو نور يي ټول کلي ته بې پتي او سپکاوی اړولی و،سره لدې چي موږ د خلکو چيغي، شور او ږوږ اورېدی،خو بيا هم د مور له ويلو پرته له تښتي وېرېدولو، زه په خپلو خويندو او وړونوکي ميا نځوی وم، زما کوچنی ورور زماله سينې سره داسي نښتی و، لکه د بيزو بچی چي د خپلي مورله نس سره نښتی وي هغه خپل داړه لاسونه زماله غاړي څخه تاوکړي وو، او پښې يې زما تر ملا راګرځولي وې، زما مشر وړورچي دکور له سوځيدلو لرګيو څخه يې يو لوی ډانګ په لاس کي و، د دې لپاره ټوله شپه ولاړ و، چي که داړه ماران راشي، نو دی به خپل ځان ورڅخه وژغورلای شي.

موږ ټوله ورځ مور ته په تمه تېرکړه، زه نه پوهيږم چي نن کومه ورځ ده داچي په کلي کي نه کوم ښوونځی پاته و، اونه هم کومه کليسا ځکه نو نه ځرګنديده چي کله جمعه او کله شنبه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لمرلويدو مهال و، چي زموږ انا اونيکه راغلل، کوم چا خبرکړي وو، چي موږ کوچنيان په کورکي يوازي يو، مور مو بيرته نه راغله، زه هرکله تر نيکه مخکي د انا يادونه کوم، دا ترتيب همداسي دی، انا مو چاغه شلنډه او دنگه ونه لري، هغه تراوسه ډېره زړه شوې نه ده خو نيکه مو بې اندازې کوچنی دی،ځوك نه پو هيږي چي هغه د خپل لوی او ارت پتلون په کوم کونج کي دی، بې له دې چي وپو هيږي چي ته څه وايې، بې ځايه مسکی شي، ويښتان يې داسي ښکاري لکه د صابن له ځگه چي ډك وي، انا موږ ټول ياني زه، زما کوچني ورور، مشر ورور او نيکه خپل کور ته بوتلو موږ زما د کوچني ورورپرته چي زما د انا پرشا ويده و، بيا هم وېرېدلو له ټولوسره دا وېره وه، چي هسي نه په لارکي له داړه مارانو سره مخ شو .

ډيري شپې مو د انا په کورکي د مور په تمه تېري کړې، تقريبا يوه مياشت موږ وږي پاته وو، خو زموږ مور بيا هم رانه غله، موږ په تمه و، چي هغه راشي او موږ له دې ځايه بوزي،له اناسره مو نور نه زموږ او نه هم دځان او نيکه د خورك لپاره څه پاته وو، يوې ښځي چي په تيوکي يې شيدې لرلې، خپلي لږي شيدې زما کوچني ورورته ورکړې،ځکه هغې هم په کورکي زموږ رنگه اوربشنه خوړل، انا موږځو ځله له ځان سره د ځنگلي سبو په موندلو پسې بوتلو، خو داچي د کلي هر کس د همدې په لټه کي و ځکه نو د سبو يوه پاڼه هم هيڅ ځای پاته نه وه.

نيکه مو له نورو ځوانانوسره د موړپه لټه پسې ووت،خو پيدايې نه کړه، انا مو د نورو ښځگو په گډون له نهيلۍ څخه ساندي پيل کړې، زه هم په ساندو کي ورگډه شوم، يوځلي ځينوخلگو لږي پلۍ او نورشان د خورك لپاره راوړي و، خو دوې ورځي وروسته بيرته هغه لوږه وه، نيکه مو پخوا درې پسونه، يوه غوا او د ترکاريو پټۍ درلود، د پسونو او غوا خو ډيري ورځي کيدې چي داړه مارانو ورڅخه وړي وو، ځکه هغه خو هسي هم د هغوی وو، او څنگه چي د کر وخت راغلی نو له نيکه سره مو تخم نه و.

وروسته دوی دواړو وپتيېله بلکي انا مو وپتيېله چي نور بايد له دې ځايه لاړشو، نيکه چي مو هرڅومره چيغي سوري ووهلي، او دلته هلته کښته پورته شو، خو انا موهيڅ پروا ونه کړه، موږکوچنيان ډېر خوښ وو ځکه موږ له داسي ځايه تللو چي هلته مو نه مور وه اونه هم ډوډۍ ، زموږ زړه وو چي داسي ځای ته لاړشو، چي ډوډۍ وي او داړه ماران نه وي، موږ له دې تصوره لا من، من غوښه اخيسته چي چيري ليري داسي ځای هم شته.

انا مو د خپلو ځانگړو جامو چي کليسا ته به يي اغوندلي، په بدل کي وچ جوار واخستل، هغه يې و ايشول او په يو زوړ ټوکر کي يې وتړل، کله چي موږ له هغه ځايه روانېدو نو هغه جوار له موږ سره وو، انا مو فکرکاوه چي په لارکي به د رود اوبه پيداشي، خو رود په مخه نه راغلی، او موږ دومره تېنگ تږي شوو، چي بېرته را گرځېدو ته اړ شوو، کله چي بيرته را وگرځيدو، نو بيرته د خپلي انا کورته نه لاړو، بلکي په يو بل کلي کي تم شوو، ځکه په هغه کلي کي د اوبو برمه وه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انا مو هغه کڅوړه پرانیسته چي ټوکران او جوار یې پکي اچولي وو، بیا هغې خپل بوټونه خرڅ کړل، اوپه پیسو یې د اوبولپاره یوه لویه ډبه واخیسته، ما پوښتنه ورڅخه وکړه: "ګوګو! ته به په لوڅو پښوکلیسا ته څنګه ځې؟

هغې په ځواب کي یواځې دومره وویل: "سفرلوی دی، موږ ډېر شیان له ځان سره نشو وړلای"

په هغه کلي کي موږ له نورو خلکو سره هم ولیدل چي د بارېدو په حال کي وو، موږ هم له هغوئ سره ملګري شوو، څکه هغویئ زموږ په پرتله له لاري سره ډېر بلد ښکاریدل، منزل ته د رسېدو لپاره موږ اړ وو چي له "ګروګرپارك" څخه تېرشو، د ګروګرپارك په اړه موږ له اوله خبر وو چي په هغه کي په بشپړ ډول دځناورو واکمني ده، هاتیان، زمریان، ګیدړي، سمسارې، لنډه داچي هر رنګه ځناور پکې وو، په ځانګړي ډول بیا له جګړې وراندي، د نکه مو یاد دي څکه موږ هغه مهال پیدا شوي نه وو، اوس خو داړه مارانو ټول هاتیان وژلي وو، او غاښونه یې پلورلي وو، زموږ جنګیا لیو او داړه مارانو هوسۍ هم ټولي خوړلي وې، زموږ په کلي کي یو سړی په دواړو پښو شل و، د هغه پښې د رود یوې سمسارې ورڅخه خوړلي وې، خو پردې ټولو خبرو سربېره زموږ ټاټوبی د انسانانو ټاټوبی و، نه ده ځناورو، موږ د کروګرپارك په اړه په ډېرڅه خبروو، ولي چي زموږ د کلي ځیني خلك به د خوارۍ لپاره دا رنګه ځایونوته دکا رونو لپاره راتلل چیري چي به سپین پوستو د ځناور د سیل لپاره پړاو اچولی و.

موږبیا تګ پیل کړ، زموږ په کاروان کي ځنیې ښځي وې، او ځینې زما رنګه نجوني، کله چي به ښځي د دمي لپاره کښېنا ستې، نو کوچنیان به د هغوی ور په شا کېدل، یوه سړي موږ ټول د کروګرپارك په لور ور سم کړو "ایا پارك راورسېد؟ ایا پارك راورسید؟" ما په وار، وار له انا څخه پوښتنه کول، انامي ځواب نه راکاوه،بیا هغه سړي راته وویل ،چي نه تر اوسه نه دی رارسېدلی، هغه دا هم وویل چي د دې لپاره چي موږ د پارك د اغزن سیم په څنګ کي تېرشوو، موږ اړ یو چي ډېره اوږده لار پرې کړو، هغه د اغزن سیم په اړه داهم وویل چي هغه ته مازې څوك لاس وروړي، نو وژني یې، بلکل همداسې کبابیږي لکه په ښارونوکي چي د برېښنا غځیدلو مزو ته څوك لاس ور وړي، ما په عامه روغتون کي د اوسپني پر ډبه جوړشوی د ککرۍ هغه انځور لیدلی و، چي نه یې سترګي لرلې، نه څرمن او نه هم وېښتان، وروسته بیا هغه روغتون هم په ماین والوزول شو.

له ښه مزل وروسته، نه پوهېږم چي څومره وخت به تېرشوی و، چي ما بیا وپوښتل ایا پارك را ورسېد؟ یوه شوم چي هو پارك را رسېدلی دی ، او موږ له یوه سا عته په کروګر پارك کي تګ کوو، لاکن دا خو هم په لیدو هغه رنګه لوخي ښکارېدې، لکه موږچي ټوله ورځ تګ پکي کړی و، دلته زموږ هیڅ ځناور نه ترسترګو کېدی، بس یوازې هغه رنګه بیزوګاني او مرغۍ وې لکه زموږ دکور شاوخوا چي وې، موږ یو کشف ولید، چي ویې نه نشو کولای په منډه له موږ څخه ځان وباسي زما مشر ورور او نورو هلکانو کشف هغه سړي ته د دې لپاره ور وړ چي د وژلو وروسته یې پو خ کړي او ویې خوري خو هغه سړي کشف بیرته ایله کړ ځکه هغه ویل موږ دلته اور نشو بلولای، تر څو چي موږ په کروګر پارك کي دننه یو، موږ نشوکولای چي اور بل کړو، هغه ځکه چي د لوګي څخه زموږ درك لګیده ،پولیس او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېره داران راتلل ، او مورې يې ببرته خپلو سيمو ته لېږلو، هغه سړي وويل مورږ بايد د ځناور په سيمه کي د ځناورو رنګه لاړ شو، ياني له سرك او د سپين پوستو خلکو له کيږديو څخه ليري، ليري.

ما يو ږغ واورېد، زه باور لرم،چي تر ټولو لومړی ما هغه ږغ واورېد، داسي ښکارېدل لکه څانګي چي ما تيرې او يا لکه کوم څوك چي را روان وي او په پښو باندي وچ واښه کوټې، زما له خولې يوه چيغه ووته، ځکه ما فکر کا وه چي پوليس او پېره داران دي، موږ يې ليدلي يو، د دوی په اړه مورږ ته هغه سړي ويلي و، چي بايد بيدار ورڅخه واوسو خو هغه يو هاتي و، د هغه پسې بل هاتي او د هغه پسې بيا نور ډېر هاتيان... لکه د شنه کوړم په منځ کي چي لوې، لوې توري ټېلي يوې خوا بلي خوا ته ګرځي هغوئ په خپلو شونډکونو کي د "موپين" وني سري، سرې پاڼي ننويستلې، د هاتيو بچي له خپلو ميندو سره نښتي روان و،لږ لويو د هاتي بچيو په خپلو کي دا رنګه حملې وهلې، لکه زما مشر ورور چي له خپلو ملګرو سره وهلې توپير يوازي دومره چي دوئ د لاسونو پر ځای په شونډکونو زور واهه، ماته يې دومره خوند راکاوه، چي وېره مي بيخي له ياده ووته، هغه سړي ويل تر څو چي هاتيان تېر شوي نه وي، مورږبايد چوپ پاته شوو، او سپږ هم ونه وهو، هاتيان ورو، او په خوند، خوندتېرېدل، هغوئ دومره چاغ شلنډ وو،چي د چا له وېري د منډي اړتيا ورته نه وه.

هوسيو زمورږ له وېري دلته هلته منډي وهلې، هغو په هوا کي دومره لوړ، لوړ ټوپونه وهل، چا چي ويل الوزي، ځنګلي سرکوزي زمورږ د ښکالو په اورېدو پر ځای نېغ ودرېدل، او بيا داسي ځپه، ځپه په ځغاسته شوه، لکه زمورږ په کلي کي چي يوه هلك هغه بايسکل چلاوه،چي پلار يې ورته اخيستو، مورږ د ځناورو پسې د هغوئ د اوبو څښلو تر ځايه ورتلو، او د هغوئ له تلو وروسته به مو اوبه څښلې، مورږ هيڅکله د اوبو له کمي سره مخ نشوو، خو ځناورو به هر مهال څه نا څه خوړل، چي ليدل به مو نو کله به يې واښه، کله به يې د ونو ريښې يا خورونه خوړل ،خو له مورږ سره د خوړك لپاره هيڅ نه و، جوار هم تمام شوي وو، که مو د خوړك لپاره څه لرل، نو هغه يوازي همدا کوچني، کوچني او له مګېږيو ډك انځر وو، چي د هغو ونو پر څانګو راځوړند وو، چي د رود پر غاړه ولاړي وې،لنډه داچي مورږ له ځناورو سره سيالي نشوای کولای.

د ورځي چي به ګرمي ډېره وه، نو زمريان ليدل کېدل چي ويده به وو، د هغوئ رنګ وښو ته ډېر ورته و، لمړی مورږ ونه ليدل خو هغه سړي وليدل، او موږ يې له هغه ځايه ډېرليري چپ خوا ته بيرته بوتلو، چيري چي زمريان ويده وو، زما هم ډېر زړه کېدی چي د زمريانو غوندي ويده شم، زما مشر له يوې نه بلي ورځي ته ډنګرېدی، خو "بهاری" لا هغه رنګه و، کله چي به زما انا د هغه د را په شا کولو لپاره ماته وکتل، نو ما به هڅه کول چي د هغې خوا ته ونه ګورم، زما مشر ورور له خبرو هم لوېدلی و، کله چي به مورږ د دمې لپاره پړاو اچاوه او غځېدلو به نو دبه موبېرته په ډېر زور را ويښاوه، لکه هغه چي هم زمورږ دنيکه غوندي هيڅ نه اورېدل، يوځل ما وليدل چي د اناپر مخ مچان بوڼيږي، او هغه يې نه الوزوي زه ډېره ووېرېدم، او د خورما د ونې په يوې څانګي مي هغه والوزول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورږ د شپې او ورځې تګ کا وه، اوس نو مورږ د سپین پو ستو تر کیږدیو رسېدلي وو، هلته اور بل و، او ډوډۍ پخېده، مورږ ته د لوګي او غوښي بوی راتلی، مورږ لیدل چي "کاږه" د غوښي د بوی پسې منډې وهي، د هغوملاوي دا رنګه رابوکي وې، لکه هغوی چي په کومه خبره شرمېنده وي، کله چي به کوم کوږ شاته راکتل،نو د هغه سترګي به داسي ښکارېدې، لکه زموږ سترګي چي له شپې یو بل ته د کتو پر مهال ښکاري، باد له ځان سره د هغو خلکو ږغ راوړه چي زموږ په ژبه ږغېدل، او اغزن سیم ته څېرمه یې پړاو اچولی و، هلته د کیمپونو کارکونکي اوسېدل، د شپې یوې ښځې غوښتل چي د مرستي لپاره هغوئ ته ورشي، هغې ویل دوئ مورږ ته له "چټل دان" څخه هم د خوړك لپاره څه راکولی شي، کله چي هغې ساندي پیل کړي، نو انا مي اړه شوه، چي هغه راوګرځوي او خوله یې وربنده کړي، ولي چي هغه سړي مخکي لا راته ویلي و،چي په کروګرپارك کي مورږ باید له خپلو کارکونکو څخه لیري واوسو، ځکه که هغوئ زموږ مرسته کړي وای، نو خامخا به له خپلي دندي ګوښه شوي وای، که چیري هغوئ مورږ لیدلي وای، نو د هغوئ لپاره همدا ډېره وه،چي هغوئ داسي ښوولې وای چي مورږ هلته نه یو او هغوی یوازي ځناور لیدلي .

کله نا کله چي به مورږ په شپه کي د ویدېدو لپاره څه تم کېدو، نو له یو بل سره به جوخت څملاستو، نه پوهېږم چي هغه کومه شپه وه، مورږ ټوله شپه مزل ګ وکړ، په هغه شپه مورږ د زمریانو ږغ بیخي له نژدې واورېد، دا رنګه ږغ نه لکه زمریان چي له لیري غوړمبیږي، بلکي داسي لکه یو شی چي ساه باسي، بلکل همدا رنګه لکه مورږ چي له منډې وروسته له خولې ساه باسو، خو دا د سا ایستلو ږغ بېل غوندي و، ولي چي هغوئ په منډه نه وو بلکي همدلته نژدې د کوم چاپه تمه وو، مورږ وخوځېدو، او یو بل ته لا پسې جوخت شو، څوك چي په څنډه کي وو، هغوئ به هڅه کول، چي منځ ته ځان ننباسي، زه له یوې ښځې سره نښتې ولاړه وم، د هغې له بدن څخه بدبوی پورته کېدی، هغه وېرېدله خو زه له خوښی نه له هغې سګره جوخته شوم، ما له خدایه(ج) غوښتل چي زمری له هغو خلکو څخه چي په څنډه کي ولاړ وو، یو پورته کړي او لاړشي ماسترګي پټي کړې، د دې لپاره چي هغه "ونه" ونه وینم له کومي څخه چي زمري زموږ منځ ته راټوپ کولای شوای، بلکل منځ ته چي زه ولاړه وم.

هغه سړی جګ پورته شو، او یوه وچه څانګه یې په زور، زور له ونې سره ووهله، مورږ ته یې وویل چي "سپنې" و نه باسو، خو خپله یې چیغي پیل کړې هغه پر زمریانو دا رنګه چیغي وهلې، لکه زموږ په کلي کي چي کوم چغال خوله په هوا نیولې وي، او چغي وهي، زمریان لاړل او مورږ یې له لیري غوړمبی واورېد.

***

مورږ ستړي شوي وو، ډېر زیات ستړي شوي وو،کله چي به په لارکي له کوم رود څخه پوري وتلو، نو زما مشر ورور او یو بل کس به زما نیکه پورته کاوه، او له یوې نه به یې بلي ډبري ته لیږداوه، زما انا ډېره ځواکمنه وه، خو له پښو یې بیا هم ویني تلې، مورږ دومره ستړي شوي وو، چي نور د کوم پېټګي د وړلو توان را پکي نه و، د کوچني وروو پرته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور د هرڅه وړل راته ګران و، ځکه مو نو ټول شیان تر یوې " ترخې" لاندې پرېښودل، انا مو ویل "چې مورې خپله تر هغه ځایه ورسیږو، همدا ډېره ده."

مورږ له ډېرې لوږې ځینې داسې ځنګلي بوټې وخوړل چې زمورږ د کلي په شاوخوا کې نه و، په نتیجه کې یې زمورږ ټولو خیټې خرابې شوې دستونه راولوېدل، پدې مهال مورږله هغو وښو څخه تېرېدلوچې د "هاتي" وښو په نامه یادېدل او د هاتي غوندي لوړ وو، زمورږ خېټو درد پیل کړ، داچې نیکه مو د کوچنې ورور غوندې د ټولو په مخکې حاجت نشوای پوره کولی نو د حاجت پوره کولو لپاره په وښو ننوت" روان اوسۍ ،روان اوسۍ" هغه سړي پرلپسې همدا ویل، خو مورږ هغه ته وویل چې نیکه ته مو تم شې، ټول خلك هغه ته په تمه شول، خو هغه نه راتلی او نه راغلی،غرمه مهال و، زمورږ غوږونه د "مچیوو" بزهار نیولي وو، ځکه مو د وښو سرکې نشو اورېدګلی، چې له هغه څخه مو درك لګولی وای چې نیکه مو بېرته را روان دی، د وښو د جګوالي له امله مورږ هغه لیدلی هم نشوای، ځکه واښه ډېرجګ وو، او هغه ډېرټیټ، خوبیا هم مورږ باور درلود،چې هغه به په خپل ارت پتلون او ځیري کمیس کې همدلته چیرې وي، انا د تار د نشتوالي له امله د هغه کمیس ګنډلی نشو، مورږ پوهېدلو چې هغه به ډېرلیرې نه وي تللی، ځکه هغه کاواکه و، او ورو تلی.

مورږ د ورو، ورو ټولیو په بڼه د هغه په لټه ووتو، ځکه مورږ ویل، هسې نه چې مورږ هم د یو بل له سترګو پنا شو، واښه زمورږ سترګو او پزو ته راباديږ، مورږ هغه ته ورو، ورو چغې ور وهلې خو داسې ښکارېدل چې د هغه په غوږنو کې د اورېدولپاره کوم ځای پاته و، هغه هم د مچیو بزهار وړدك کړی و، مورږ د هغه په موندلو پسې ستړي ستومانه شوو، خو پیدا مو نه کړ، مورږ ټوله شپه په همدې لویو وښوکې پاتې شوو، ما خوب لیدی چې نیکه مو یوځای د یو کیندلې ډېب ځنګ ته پروت دی، ډېب هم ده پخپله کیندلی وي، لکه هوسۍ چې یې د خپلو بچیانو د پټولو لپاره کیندي، خو ما چې سترګې پرانیستې بیا هم د هغه هیڅ درك نه و، مورږ بیا د هغه لټون پیل کړ، مورږ په وښو کې په وار، وار تېر راتېګر شوو او لارې مو جوړې کړې، سرېه که یې مورږ پیدا نه کړو نو هغه خو به مورږ په اسانۍ سره پیدا کړې، مورږ ټوله ورځ هغه ته وکتل، چې لمر به سر ته راغلی نو هر لور ته به چوپتیا خورېده، که څه هم څوك به د ځناورو غوندي سیورې ته پراته وو، خوبیا هم د لمر وړانګې په سر ننوتلې، زه ستونې سټخ پرته وم او هغو کړمښکو لغړغاړو بدرنګو مرغیو ته مې کتل،چې زمورږشاوخوا الوتې، مورږ مخکې هم هغه مهال دوئ لیدلې وې، چې دمردارو شوو ځناورو هډونه یې چیچل، په هغه هډونوکې زمورږ دخورك لپاره هیڅ نه و پاتې، هغوئ لوړ په هوا کې ګردې، ګردې راګرځېدلې، خو کله به بیا لاندې او بېرته پورته لاړلې، ما هغوی لیدلې چې غاړه به یې کله یوه او کله بل لور ته اړولې، را اړولې او پرلپسې یې په هوا کې چکرونه وهل، ما خپلې انا ته وکتل، د هغې زما کوچنی ورور په غېږ کې و او د مرغیو سیل یې کاوه.

ماښګام مهال و، چې هغه سړی زما انا ته راغلی او ورته ویې ویل چې پاته خلګ نور باید لاړ شې، ځکه هغه ویل که د دوئ کوچنیانو ته د خورك لپاره څه ور ونه رسیږي، نو هغوئ به ډېر ژر ومري، انا هیڅ ونه ویل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي وویل" زه به تر تلو وړاندي تاسو ته لړ اوبه راوړم"

انا زما خوا ته زما د مشر ورور او په غېږ کي ورسره کوچني خوا ته وکتل، موږ هغه نور خلك لیدل چي د تلولپاره پورته کېدل، زما هیڅ باور نه راتلی چي دا له خلکو ډك د وښو میدان به تش پاته کیږي، او موږ به پدې ځای یاني کروګرپارك کي یوازي پا تیرو او وروسته به څناورو یا پولیسو ته زموږ پته لګیږي، زماله سترګو اوښکي بهېدې او پرلپسې مي پر لاسونو څڅېدې، خو انا مي هیڅ پروا نه راکوله، بیا هغه ناڅاپه پورته شوه او خپلي پښې یې دا رنګه وغوړولې لکه څوك چي یې د لرګیو د پورته کولو په مهال غوړوي، هغې په یوه جټکه سره زما ورور په شا کړ او په یو ټوکر یې پر ځان وتاړه، د هغې جامې ځیري شوي وې، او هغه لوی،لوی تیونه یې ترې راوتلي ووچي زما د کوچني ورور لپاره هیڅ پکي نه و، انا ویل" درځئ" موږ له لوړو، وښو څخه وړاندي تېر شوو، هغه ځای مو شاته پرېښود، او بیرته له هغه سړي او نورو خلکو سره یوځای روان شوو.

***

یوه لویه کیږدۍ پر مځکه ولاړه وه، تر یوې ښوونځۍ او کلیسا هم لویه، موږ چي تر اوږده مزل وروسته دلته را ورسېدو، نو ما فکر نه کاوه چي دا دي هغه ځای وي، دا رنګه ځایونه ما هغه مهال هم لیدلي وو، چي کله موږخپلي مور بازار ته بېولي وو، هغې اورېدلي وو، چي زموږ جنګیالي هلته راغلي دي، هغې غوښتل چي له جنګیالیو څخه زما د پلار درك څرګندکړي، په هغه کیږدۍ کي خلکو دعاوي غوښتې او سندري یې ویلې، دا کیږدۍ هم هغه رنګه شنه او سپینه ده، خو په دې کي داسي څوك نشته چي دوعا وي وغواړي او سندري ووایي، موږ دلته له هغو کډوالو سره اوسو، چي زموږ له ټاټوبي راغلي دي، د ډاکټر نرسه وایي موږ له کوچنیانو پرته ټول ټال دوه سوه کسان یو، ځیني نوي کوچنیان هم شته چي له کروګرپارك څخه د راتېرېدو په مهال زیږېدلي وو، د ورځې سره له دې چي لمر ځلیږي بیا هم په کیږدۍ کي تیاره وي، او داسي ښکاري لکه ټول کلی چي همدلته مېشت شوی وي، دننه د کورونو پر ځای هري کورنۍ له خپل استوګنځي څخه بورۍ او بکسونه بلکي څه چي په لاس ورغلي، ترې راچاپېر کړي دي د دې لپاره چي وښیي، دا د هغوئ کور دی، او نور باید ور نشي، حال داچي دلته نه ورونه شته، نه کړکۍ او پوښښونه، او هر دنګ سړی کولی شي، چي تم شي، او د کور دننه سر ورښکاره کړي، ځینو خلکو ډېري کوټلي دي رنګ یې ترې جوړکړی دی او پر ګونیو یې انځورونه کښلي.

په اصل کي پوښښت شته خو لوړ، ډېر لوړ دکیږدۍ "سایه وان" یادوم چي بیخي د اسمان غوندي ښکاري، لکه موږ چي په یو لوی غره کي اوسو، د کیږدۍ له سوړو څخه چي کوم ګرد دننه راځي، هغه بیخي د لارو غوندي ښکاري، دغه لاري دومره پلني دي چي سړی فکرکوي چي هغه به پرې ختلی شي، که څه هم د کېږدۍ چت دباران اوبه ګرڅولي خو اوبه له کښته څخه په بهېدو سره دننه راځي، او د کېږدۍ په کوڅو کي ډم درېږي، دا کوڅې دومره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنګي دي چي په يو وخت يوازي يو سړی پکي تېرېداشي، کله چي زما د کوچني ورور غونډي کوچنيان په ختو کي لوبي کوي، نو سړی اړ وي چي د هغوئ له سر څخه ټوپ کړي او تېرشي.

زما کوچنی ورور لوبي نه کوي، انا هغه هره دوشنبه چي ډاکټر راشي، ډاکټر ته ورښکاره کوي، هغه وای، د ده په سر کي څه ستونزه شته، او لامل يي هم ښايي همدا وي چي له کوم ځايه چي موږ راغلي وو، هلته پوره خواړه نه ترلاسه کېدل،او يا ښايي لدې امله و چي هلته جګړه وه او زموږ پلار نه و او يا هم کېدای شي له دې وجي و چي له کروګرپارك څخه د راتېريدو په مهال هغه وړی پاته شوی و، هغه ته يوازي همدا خوند ورکاوه چي ټوله ورځ يا د اناپه غېږکي ناست وای، اويا يې هغې ته څنګ وهلی وای، هغه موږ ته وچ، وچ ګوري، څه ويل غواړي خو ږغېدلی نشی، کله چي يې زه تخنوم، نو هغه يوازی راته مسکی شي، ډاکټر هغه ته يو ډول پوړی ورکړي چي په اوبو کي له خشتولو وروسته د هغه لپاره خواړه ترې جوړيږي، ښايي يوه ورځ هغه جوړشي،

په لمړي سر کي چي موږ دلته راغلو نو زه او زما مشر ورور هم همدارنګه وو، زما سم ياد نه دي خوکيږدی ته څېرمه اوسېدونکو کليوالو موږ ډاکټر ته بېولي وو، په کېږدی کي له اوسېدو مخکي په کار ده چي څوك هلته ورشي، او خپل نومونه وليکي چي د کروګرپارك له لاري له هغه ځايه راکډوال شوي دي، موږ پر وښوکښېناستو ټول شيان سګرچپه ښکارېدل، يوه نرسه د خپلو لنډو پرېکړو وېښتانو او جګو بوټونو له امله ډېره ښه ښکارېده، هغې موږ ته يو ډول ځانګړي پوړی راوړې او راته ويې ويل چي په اوبو کي يې واچوئ او ورو يې وڅښئ، ما کڅوړه په غاښونو پرې کړه او پوړی مي په خوله کړه، هغه مي پر خوله پوري ونښته، بيا مي پر شونډانو او ګوتو نښتي پوډر وڅټل، ځينو نورو کوچنيانو چي له موږ سره راغلي وو، خواګرځی وکړ، ما هم په خپله خېټه کي حرکت حس کړ، او داسي راته ښکاره شول، چي پوډر دکوم مار غونډي بدن ته راننوځي، لږ وروسته مي سلګی پيل شوې او بدحال مي شو، يوې بلي نرسي موږ ته وويل چي د ډاکټر په دالېزکي په قطار ودرېږو خو په موږ کي د درېدو توان نه و، او دلته هلته پر يو بل لوېدلي ناست وو، نرسانو يو، يو پورته کاوه او په لاسونو کي يې پېچکاری کاوه، په نورو پېچکاريو کي يې زموږ وينه واخسته او په کوچنيو، کوچنو ښيښوکي يې واچول، دا هر څه د ناروغيو د مخنيوي لپاره کېدل خو زه په هيڅ نه پوهېدم، هر وار چي به مي سترګي سره ورتلې نو داسي به راته ښکارېده چي اوس هم په لوړو وښو کي روانه يم ، هاتيان به مي هم تر سترګو کېدل، زه به نه پوهېدم چي موږخپل منزل ته رارسېدلې يو.

انا اوس هم غښتلې وه، ولاړېدلې شوه، هغې ليك لوست کولای شو، ځکه يې نو زموږ پر ځای هم لاسليکونه وکړل، انا دکېږی دېوال ته څېرمه ځای ونيو، همدا د کېږدی تر ټولوغوره ځای هم و، هسي خو د باران اوبه دلته هم راځي، خو کله چي هوا ښه وي، نو موږ د کيږدی پرده پورته کولی شو، لمر راته مخامخ وي، د "لنده بل" بوی ژر ورکيږي، انا له يوې ښځي سره پېژندل، هغې وروښوول چي د ويدېدو لپاره د پوزيو جوړولو ښه واښه له کومه تر لاسه کيږي، بيا انا موږ ته پوزي راجوړ کړل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په میاشت کي یو وار د خوراكي شیانو ډكي لارۍ کیمپ ته راځي، اناله خپل لاسلیك کړي کارټ سره ورځي او د کارټ د ټاپه کولو وروسته د جوارو یوه بورۍ راوړي، بورۍ ترکیږدۍ پوري د راوړلو لپاره یوه اربیزي لاسي گاډۍ شته، زما مشر ورور د جوارو بورۍ په همدې گاډۍ کي راوړي اوکله چي تشي گاډۍ بېرته بیايي نو هغه او نور هلکان له یو بل سره د ځغاستي سیالۍ پرې کوي، کله، کله به له ښه مرغه هغه ته داسي څوك ورپیدا کیدی، چي له کلي څخه به یې د "بیر" بوتلونه راوړل، هغه چي به بوتلونه راورسول نوځه پیسې به لاس ته ورتلې، کنه هسې خو د دې اجازه نه وه،گاډۍ بایدسیده نرسانو ته رسول شوې وای، زما وروربه په دې پیسو شربت اخیستل او کله چي به ما ورته وویل نو لږ به یې ماته هم راکول.

په میاشت کي یوه بله ورځ و کیمپ ته له کلیسا څخه جامې هم راځي له انا سره یو بل کارټ هم شته، چي د هغه له ټاپه کولو وروسته موږ له هغه ځایه د خپلي خوښي جامې اخستلاشو، له ماسره دوې جوړې جامې، دوه پتلونه او یوجاکټ شته، ځکه نو اوس ښوونځي ته هم تللې شم.

کلیوالو موږ ته په ښوونځي کي د درس ویلو اجازه راکړې ده، زه په دې ډېره هېښه شوم چي هغوئ هم همدا زموږ ژبه وایي، انا وایي چي ښایي همدا وجه ده،چي هغوئ موږ پخپله سیمه کي اوسېدو ته پرېښودو، پخوا یاني زموږ د پلرونو او نیکونو په زمانه کي داسي اغزن سیمونه، نه وو چي د لاس له وروړلو څخه دې یې څوك مړ شوی وای او نه هم زموږ او د دوئ ترمنځ کوم کروگرپارك و، موږ ټول یو وو، له دې ځایه زموږ تر کلي پوري یوازې یو باچا و.

***

اوس نو زموږ په کیږدۍ کي د اوسېدو ډېري ورځې شوي دي، زه یوولس کلنه شوې یم، او کوچنی ورورمې د دریو کالو په شاوخوا کي دی، خوبیا هم هغه ډېرکوچنی دی او یوازې سر یې ډېر غټ دی، هغه تر اوسه سم نه دی جوړشوی،ځینو خلکو دکیږدۍ شاوخوا شاړه مځکه اړولې ده، جوار او گوبی یې پکي کرلی دی زړو خلکو لښتي یو ځای کړي دي او تر خپلو گلانو یې راتاو کړي دي،هیڅوك اجازه نه لري، چي ښار ته لاړشي او خواري وکاږي خو ځینو ښځو په همدې کلي کي کار پیدا کړی دی او څه سودا کولاشي، انا مو اوس هم ځواکمنه ده، هغې هم داسي ځای کار پیدا کړی دی چیري چي خلك کورونه جوړوي، دلته په کلي کي خلك له خښتو او سمېټو څخه ډېر ښکلي کورونه جوړوي، زموږ رنگه له خټو او ډبرو یې نه جوړوي، انا خلکو ته له خښتو او ډبرو ډکي ټوکرۍ پر سر باندي وروړي، اوس له هغې سره دومره پیسې وي چي چای، بوره شیدې اوصابن پرې واخلي، په مغازه کي یې هغې ته یوه کلیزه هم ورکړې ده، انا هغه زموږ سر ته د کیږدۍ پر دېوال ټکوهلې ده.

زه په درسونوکي ډېره ښه یم، انا د غورځول شوو علانو پاڼې راټولې کړې دي او زموږکتابونه یې پرې را پوښلي دي، هغه هره غرمه تر دې وړاندي چي تیاره شي، ما او زما مشر ورور کښېنوي او د ښوونځي کورنۍ کار راباندي کوي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه په کيږدۍ کي يوازي دومره ځای شته چي په متي زموږ د ځنګ پر ځنګ ويدېدو بس شي، لکه له کروګرپارك ځخه د تېرېدو په مهال چي ويدېدلو،شمعي هم ډېري ګراني دي.

انا مو تر اوسه پدې نه ده توانېدلې چي بوټونه رانيسي په پښو يې کړي او کليسا ته لاړه شي خو هغې ما او زما مشر ورورته د ښوونځي لپاره تور بوټونه او رنګ را رانيولىدی، هر سهار د را ويښېدو په مهال د کوچنيانو چيغي او بغاري وي او پرهغه نلکه چي له کيږدۍ ځخه دباندي ده، د خلکو ټګېلې ټمبې وي، ځينو کوچنيانو بيا د ماښام پاته شوی سوړسك په خوند، خوند خوري، زه او زما مشر ورورچي بوټونه رنګ کړو،نو انا مو پر کټ کښېنوي، پښې مو راسمي کړي او زموږ بوټونو ته په غور وګوري چي سم مو رنګ کړي دي که خراب، په کېږدۍ کي بل هيڅ کوچنی د ښوونځي کريميچ بوټونه نه لري، موږچي خپلو بوټونو ته ګورو نو داسي راته ښکاري لکه موږچي پخپل کورکي يو چي نه جګړه شته او نه هم کوم بل چيري تللي يو.

ځنيي سپين پوستي خلك راغلي وو چګي په کيږدۍ کي د اوسېدونکو کډوالو عکسونه واخلي، هغوی ويل موږ فلم جوړوو، که څه هم ما هيڅکله فلم نه دی ليدلی، خو بيا هم په دې اړه معلومات لرم، يوه سپين پو ستې ښځه زموږځای ته را ننوته او له انا ځخه مو يې پوښتني وکړې، يوسړيچی په هغه ژبه پوهيدی د هغې پوښتني زموږ په ژبه تکرارولې.

"تاسو له کله دلته دا رنګه اوسئ؟"

"څه شي؟ "دلته" انا وويل: "په دې کيږدۍ کي؟ له دوو کلونو او يوې مياشتي راهيسي"

"د راتلونکي په اړه څه نظرلرئ؟"

"هيڅ نه، بس موږ همدلته يو"

"خو ستا اولادونه؟"

"زه غواړم چي دوئ زده کړه وکړي او ښه دنده او پيسې پيدا کړي"

"ايا امېد واره يې چي بېرته به خپل ټاټوبي ته لاړ شئ؟"

"نه زه بېرته نه ځم"

"لاکن چي جګړه ختمه شي نو تاسو به د دې اجازه ونه لرئ چي دلته پاته شئ نو ايا ته به بيا هم ونه غواړې چي بېرته خپل کور ته لاړه شې؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي راته ځرګنده شوه، چي انامي نور نه غواړي چي څه ووايي، ان تر دې چي د سپين پوستي ښځي پوښتني يې لابې ځوابه پرېښودې، سپين پوستې ښځه مسکۍ شوه او زموږ لور ته يي مخ راواړوه، انا چي له هغې مخ وګرځاوه نو يې وويل" نور مو هيڅ کور، مور نشته هورې"

انا دا ولي وويل؟ آخير ولي؟ زه خو بيرته ځم، زه به له همدې کروګر پارك څخه تېره شم او بيرته به لاړه شم، د جګړې وروسته چي داړه ماران ورك شي نو ښايي مور مو هلته زموږ په تمه وي،کيدای شي نيکه مو هم بېرته لار پيداکړې وي، هغه چي موږ شاته پرېښوولی و، ښايي هغه له کروګرپارك څخه ورو، ورو تېرشوی وي او بېرته خپل کور ته رسېدلی وي، هغوئ ټول به په کور کي وي او زه به يې په ياد لرم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډېوه

## هربجن سنګ ساګر/پاکستان

خدايزده هغه دکومي زمانې بوډۍ وه، داسي ښکارېده چي دايې لمرى ځل و چي ښار ته راغلې وه ښار ته د راتلو په وخت هغې له ځان سره د ورځني اړتيا پر شيانو سربېره ځينې نور شيان هم راوړي وو

لکه دځان د تکيه کولو لپاره لکړه، د لمر او باران لپاره سايه وان، د خيرو اوزړو جامو دګنډولو لپاره ستن اوتار، او په تياره کي د رڼا لپاره يوه ډېوه او څراغ، دسايه وان، ستن او تار په اړتيا هر څوك پوهيږي خو په ښارکي ډېوې يا څراغ ته څه اړتيا شته؟ هره شپه چارچاپېره د برېښنا سېلاب غوړېدلی وي.

بوډۍ چي د ښارسترګي برېښونکې رڼا وليده نوخپله ډېوه او څراغ يې بېخي هېر کړل او هغه د کوټې په يو کونج کي يادګار پاته شول، څراغ خو ګردسره د غنې په ځاله کي پټ شو.

خو يوه ورځ چي ناڅاپه د ټول ښار برېښنا لاړه او داسي محسوسه شوه لکه ټول ښار چي د يوه تور څادر په منځ کي لوېدلی وي نو بوډۍ وارخطا نشوه ځکه هغه له تيارو سره بلده وه، د هغې ټول عمر په تياره کي تېر شوی و، دا چي برېښنا لاړه او تياره شوه نو څه پروا؟ هغې خپله د تيارې چاره لرله، هغه ژر پورته شوه خاورينه ډېوه يې بله کړه او کوټه يې په رڼاکړه.

د ډېوې رڼا د غنې پر ځاله ولوېده، په ځاله کي د پټ څراغ ښيښه داسي ښکاره شوه لکه پر هغه ګروپ چي يې خندل چي پر چت راځوړند و، بوډۍ ولاړه شوه څراغ يې راواخيست د هغه ښيښه يې پاکه کړه، بل يې کړ او په کوڅه کي يې کښېښود چي لارويان له ستونزي سره مخ نشي او هغوئ په دې توره تياره کوڅه کي دړندو غونډي لار ورکه نه کړي، بوډۍ چي څراغ دباندي په کوڅه کي کښېښود نو لکه يو لوی فرض چي يې پوره کړ، په بې غمه زړه کوټې ته لاړه.

له کوڅې څخه د تيارې وېره ورکه شوه، لږ ورسته يو لاروی په کوڅه کي تېرېدی هغه چي په کوڅه کي بل څراغ وليد نو هېښ پاته شو.

اهو... دا څراغ ! لکه چي له کوم چا څخه هېر شوی دی لاکن په دې تياره کي څراغ څنګه د چا هېرېدای شي؟ د هر چا ډېوې ته اړتيا ده .

څه هر څه چي دي، دغه ډېوه بايد زه اوس له ځان سره درڼا لپاره يوسم...

لاروي ښخاره څراغ پورته کړ او هغه په رڼا کي د يوه وېره ونکي تور سوري غونډي ورك شو او لار يو ځل بيا په توره تياره کي ډوبه شوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تورګل

## ډیمن رنیان

یوازي د نوم یووالی د نفرت کوم معقول دلیل نه دی ځکه نو دا خیال یوه احمقانه انګېرنه وه چي زما یاني "جمي کولنز" له خپل حمیده جمي کولنز څخه یوازي پدې کرکه وه، چي هغه زما حمیده و.

پخوا په خپل کنډك کي ماته یوازي کولنز ویل کېده، خو کله چي یو بل کولنز هم له کومه راپیدا شو نو لکه ټولو ته چي ناڅاپه وریاد شول چي زه تور پوستی یم او زما رنګ تور دی، هغه بل کولنز سپین پوستی و، د هغه له راتلو سره سم زه ټولو د یوازي کولنز پر ځای "تور کولنز" ونومولم، زما پوست به تور و، خو زړه ته مي چا نه کتل.

بیا ورو، ورو هغه جمي کولنز ته "اتل کولنز" وویل شول، ځکه یو خو هغه سپین پوستی و او بل هغه د فلمي ستوري غوندي شاړپاړ هم و، د هغه سترګي رڼې او خماري وې او پوست یې صاف و، هغه یو نازك اندامه سړی و او عسکري ژوند ډېر سخت وي، د عسکرو لهجې اوڅېرې تُوندي وي، زما په خیال په دې سخت او تند چاپېریال کي نازك اندامه او ښکلی څوك نه شي اوسېدلای، خو اتل کولنز اوسېدی، هغه له موږ ټولو څخه بېل و، د کومي شتمني کورنۍ سر او سترګي به و، د هغه د له تلو راتلو او ناستي پاستي څخه د خانۍ ځرك لګېدی، نابلده عسکر چي به هغه ولید، نو ناحقه به ورته تیارسی شو.

د هغه په اړه بېلا بېلي کیسې هم کېدې، چا ویل هغه یوازي د ضد له امله په فوځ کي تشکیل شوی دی، که نه هغه د یوه شتمن سوداګر زوی دی، د هغه مور غوښتل چي دی د ملیاردونو ډالرو کاروبار ته راجلب کړي، خو د اتل کولنز له تجارت مجارت سره مینه نه درلوده، هغه غوښتل چي د ژوند تجربه تر لاسه کړي، ځکه خو یې هغه لوی پورته کښته کاروبار پرېښود او د فوځ د تشکیل فورمه یې لاسلیك کړه .

زموږ لوی آمر صاحب به اتل کولنز ته دومره په مینه او زړه سوي کتل، لکه کوم شفیق پلار چي خپل شوخ زوی ته ګوري، هغه آمران چي پر کوچنۍ خبره به قهرېدل، هغوی به هم له اتل کولنز سره په نرمي مخامخ کېدل، دا هم ویل کېدل چي ځینو آمرانو د دې لپاره چي هغه د عسکري ژوند له سترپاوو څخه وژغوري، هغه ته ویلي و، چي که چیري هغه غواړي چي فوځ پرېږدي نو هغوی یې مرستي ته چمتو دي، خو اتل کولنز دا کله کولای شوای، هغه غوښتل چي د ځانمرګي او نه ستړي کیدونکي زیارپه بټۍ کي پوخ او کنده شي.

د دې خرافاتو په اورېدو، اورېدو زما غوږونه پاخه شول، د هغه پر بدن د غیر عادي ډاډ په لیدو به زما د فشار ستن پورته شوه، اتل کولنز، کولنز، اتل کولنز هر لور ته به د هغه لنډ فکره خو ښکلي او شاړپاړ ځوان یا دونه کېده، حال داچي د هغه لنډ فکره تر اوسه د توپك چلول نه و زده، زما د هغه له رنګ او سپین و سور بدن څخه کرکه کېده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتل کولنز هم لړ او ډېر په دې پوهېدی، چې زما له هغه څخه ښه نه راځي... او بیا یوه ورځ داسي هم راغله چې د هغه دا اندازه رښتیا وخته، هغه داسي چې یوه ورځ هغه په خبرو، خبرو کي پر ما وار وکړ، ما د هغه دغه وار ونشو زغملای، پر هغه مي ورټوپ کړ، او په نتیجه کي نژدې پنځلس سانیې پر مځکه پراته وو، رېږدېدلو، زما خطرنا کو تورو ګوتو د هغه مری نیولې وه.

خلکو منځګړیتوب وکړ، او کیسه پا ی ته ورسېده، خو ما هغه ته ډېر بد درب ورکړ، د دې لپاره چي که کوم بل وخت داسي حماقت وکړي، نو پرېږدم یې نه، ترڅو، څو میاشتي ماته زامه ونه ګرځي، په داسي حال کي چي د هغه بنه له ویري سپینه اوښتې وه، د روغي لپاره یې لاس را اوږد کړ، "کولنزه! هغه راته وویل "زه بخښنه غواړم"!

ما هغه ته لاس ور نه کړ، مځکي ته مي وکتل او تو مي کړل،لدې پیښي وروسته بیا هغه له ما سره خبره ونه کړه، خو سره له دې هم زما په کرکه کي هیڅ کمی رانه غلی.

سپین پو ستي صاحب منصبان د رنګ او نسل د بې مانا تعصب له امله له ما څخه خوښ نه وو، سخت کارونه به یې ټول په ما کول، ما تر ټولو ډېره خواري ایسته خو هغه ؟ هغه شهزاده و، په خوند، خوند به یوې او بلي خوا ته ګرځېد، ما به اکثره غاښونه چیچل او له ځان سره به مي ویل، چي یوه ورځ نه یوه ورځ به لدې بدمخي څخه ځان خلاصوم، سملاسي له زغم او چوپتیا پرته بله چاره ګ نه وه.

بیا یوه ورځ داسي هم راغله چي موږ ته د جګړي لمړۍ کرښي ته د تللو امر وشو، جګړه پیل شوې وه، زموږکندك ته په کار و،چي په لمړۍ کرښه کي خامخا پر مختګ وکړي.

مورچي لمړۍ کرښي ته ورسیدو، نو زموږ نورو ملګرو وار له مخه پر دښمن د ګولیو باران جوړکړی و، په هوا کي د باروتو بوی و، هر لور ته خوړسکي پورته کېدې او چاودني کیدې، ما داسي حس کړه، چي دویني رفتار مي په تېزېدو شو، دا هغه ځای و، چي د سرتېرو د مېړاني او همت امتحان اخیستل کیږي.

ما چي کله له مورچګې نه ډزي کولې نو ښي لور ته مي وکتل، او سملاسي مي د اتل کولنز څېره تر سترګو شوه، خو نن هغه څېره نه وه، چي هر وخت به ډاډ اتې پرې کاوه، او موسکا به پر خوره وه، نن د اتل کولنز پر څېره د مرګ وېره غوړېدلې وه، د هغه لاسونه رېږدل، زه ناڅاپه پوه شوم چي "اوه! دا خو ډارن دی، پر ما د خوښۍ څپه راغله، دا زما لپاره یوه په زړه پوري تجربه وه چي اتل کولنز مي په وېره او ډارکي لیدی، هغه په سخت عذاب اخته و، او زه پوهېدم چي دا عذاب څومره دردناکه وي، پخواهم ما ځینې ډارن عسکر لیدلي وو، چي د جګړې په لمړۍ کرښه کي به رېږدېدل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ما پرته نور هیڅوا هغه نه دی لیدلی، چي دومره ډاریږي، ملګري په ډزو بوخت وو، خو اتل کولنز ته څرګنده شوه، چي زه د هغه له دې حالت بلکې د هغه له دې ژړغوني حالت څخه پوهیدلی یم، هغه چي یو دوه ځلي زما لور ته مخ راواړوه او راته وبه یې کتل، نو خړ غوندي به یې وموسل او مخ به یې واړاوه.

برید ژر پای ته ورسېد، ځکه له دښمن سره دوسلې او جنګیالیو کمی و، دې کوچني برید اتل کولنز له ژونده ایستلی و، خلکو فکرکاوه، چي هغه د سخت لمر له امله لمبې وهلی دی، خو زه له اصلي کیسې نه خبر وم او اتل کولنز هم په دې پوهېدی، له څو کلونه ورسته ما خپل ځان خوښ او مطمین احساس کړ.

اتل کولنز له ما سره په دې اړه هیڅکله څه ونه ویل، خو د هغه سترګي ماته مرې وې، ما هغه ته ما ته ورکړې وه، او هغه خپله ماته منلې وه.

جګړه روانه وه، جګړې عموماً رواني وي، تر هغه وخته چي د وشتلو لپاره ګولۍ او د مرګ لپاره سړي وي، نو د جګړې د بندولو څه اړتیا وي.

یوه ورځ موږ بیا اړ و، چي پرمختګ وکړو، زموږ او دښمن تر منځ یولوی ډاګ پروت و، خو جګړه یوازې د توپونو او ډزو وه، یاني داچي د ګولۍ په چلولوکي د زغم جګړه وه.

ګولۍ زموږ له سرونو سره تېرېدې، موږ په مورچو ننوتلي وو، او یوازې مو سرونه راویستلي وو، زموږ قومندان په چیغه تورن ته وویل: "نیلسنه! خپل یو سړی چپ لورته ولیږه،چي ډګروال "هیري" ته ووایي چي هغه دې خپل جنګیالي سملاسي راوړاندې کړي" دا د مرګ غیږې ته د لوېدو امر و، د دې مانا داوه چي د ګولیو په باران کي دې سړی پورته شي، او په منډه دې دوه سوه ګزه لار پرې کړي، تورن نېلسن په ببړه مخ را واړاوه، پر خپلو سرتېرو یاني موږ باندې یې نظګر واچاوه، او په چیغه یې وویل "کولنزه! ورشه" دا امر هغه اتل کولنز ته وکړ، د هغه د رنګ بڼه له وړاندې لا الوتې وه، د تورن د دې امر په اورېګګګګګدو یې بیخي د مړیني سوری پر څېره وغوړېد، د یوې شیبې لپاره داسې ښکاره شوه، چي هغه به بې هوښه شي، او لاندې به ولوېږي، تورن هغه ته رډ، رډ وکتل، دا درې سانیې نه وې، درې پېړۍ وې ما شا وخوا وکتل، اوبیا خدایزده څه راوشو، زه د ګولیو په باران کي ناڅاپه پورته شوم، او د برېښنا غوندي مي چپ لور ته منډه کړه، نورو دا فکر وکړ چي تورن نېلسن ماته دا امر راکړی، خو د تورن ښکاري سترګو هرڅه لیدلي و.

د شلو، پنځویشتو سانیو لار وه، ما دچیغو نارو او چاودنو په منځ کي په پټو سترګو منډې وهلې، ښایي په هغه ورځ ژوند وفا راسره کړې وه، ځکه زما یو ویښته هم ما ت نشو، زه د ګولیو په باران کي د "ډګروال هیري" پوستې ته ورسېدم، او په همدې مهال لمړۍ ګولۍ زما له څنګلي سره تېره شوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه شپه چي کله زه په استوګنځي کي د ويدېدو په حال کي وم، نو ناڅاپه مي د تورن نېلسن ږغ واورېد، هغه په پس،پسي ډګروال هيري ته ويل " قومندان صاحب پرېکړه کړې ده چي تورکولنز ته مډال ورکړي، نن پر ټيليفون باندي هغه خپله غوښتنه مرکز ته ولېږله.

"دا ټول د هغه کم عقله له لاسه" ډګروال وويل.

"هو" تورن نيلسن ورو، وويل:" ما اتل کولنز ته د پورته کېدو او منډي امر وکړ، دا د هغه د پرمختګ ښه چانس و، خو زه نن پوه شوم چي هغه د موږك غوندي بې زړه دي" هغه اتل کولنز ته کښنځل وکړل او ما سترګي پټي کړې، ويده شوم.

نور نو حالاتو تغير وکړ، خلکو ماته تر پخوا په درنه سترګه کتل، زما دې زړورتيا زه خلکو ته محبوب کړی وم.

څو ورځي وروسته جګړه پای ته ورسېده، او موږ خپلو بارکونو ته بيرته راغلو.

يوه ورځ ماته په يوه رسمي غونډه کي مډال راکړل شو، له مډال سره يو اوږد ستا ينليك هم ملګری و، په ستا ينليك کي زما ياني " تورکولنز" زړورتيا او مېړانه بې کچه ستا يل شوې وه، او د هيواد لپاره د نورو غورو خدمتونو تر څنګ په جګړه کي د غير عادي مېړاني پر ښودولو، د يوبل مډال د راکړي ژمنه هم ليکلې وه، د دې سند مانا د معاش لوړېدل او ترفع وه، په عام ډول خلك داسي سندونه د وياړ لپاره کورونو ته ليږي، د هغوئ سپين ږيري پلرونه او ميندي دا سندونه په طلايي چوکاټونوګ کي نيسي او خلکو ته يې ورښکاره کوي ، خو داچي زما نه کور و، او نه کورنۍ نو مي سند قت کړ په جيب کي مي واچاوه.

يو سهار نا ببره خبر شوم چي اتل کولنز ورك دی، هغه تښېدلی و، د نظامي قانون له مخي لس ورځي هغه ته تمه وشوه، او بيا تښتېدلی اعلان شو، خلك حيران وو، د هغه لټه پيل شوه، څو ورځي د هغه د تېښتي بانډار تود و، له څارونکو څخه پټېدل اسانه، نه وي، آخير يوه ورځ هغه ونيول شو، هغه يې څو ميله ليري په يوه شراب خا نه کي په نشه کي ډوب موندلی و.

هغه نظامي محاکمه شو، اتلس مياشتي بند ورته اعلان شو، دا د دې جرم تر ټولو کوچنۍ سزا وه، زه خبرشوم چي ځينو لوړ پوړو فوځي چارواکو غوښتنه کړې وه، چي هغه ته لږ تر لږه سزا ورکړل شي.

دا هم يو تصادف و چي په هغو ورځو کي د بنديانو پېره زما پر غاړه وه، هسي خو ما په خپله دنده کي هيڅکله هم لټي نه کوله، خو پر اتل کولنز باندي د پيرې پر وخت ما ځانګړی نظر درلود، هغه څو کسانو ته زما د دې امتيازي سلوك شکايت هم کړی و، او ويلي يې و چي زه هر وخت هغه ته رډ، رډ ګورم، ښکاره خبره ده، چي د داسي شکايتونو پسي څوك سر نه ګرځوي، ځکه بنديان دا ډول بې مانا شکايتونه هر وخت کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ ما پر بندیانو پېره کوله، حالت هم عادی و، خو یو دم خدایزده څه وشو، چې اتل کولنز په داسي ډول د تېښتي هڅه وکړه چې هیڅ تمه یې نه کېده، د یوې شیبې لپاره زه په هیڅ پوه نشوم، تر نن ورځي یو مات عسکر د داسي بې تمي تېګښتي هڅه نه وه کړې، ښایي هغه بیخي یو مخ لېونی شوی و، هغه په پټو سترګو منډه کړه، ما ناره ورباندي وکړه، خلکو یوې بلي خوا ته وکتل، ما بیا ورباندي ناره کړه او بیا مي د دریم ځل لپاره د هغه د درېدو هڅه وکړه، چې هغه ونه درېد نو مي توپك ورته په نښه کړ، هغه په پوره زور سره منډې وهلې او له مرکز څخه وار په وار لیري کیدی، ما د هغه د پښو نښه واخیسته او ډزي مي پرې وکړې، هغه ټوپ کړل پر ځمکه ولوېد او په لغتو شو.

پر ټول مرکز لکه د قیامت ورځ چې شوه، پر ما او هغه د خلکو ګڼه ګوڼه شوه.

نور مي یاد نه دي، چې بیا څه وشول، البته تر ماښامه ماته د تبدیلۍ امرونه راغلل، زه یې بل کنډك ته لېږلم، د اوسني کنډك عسکرو له ما سترګي چپولې، هغوئ له ما سره له خبرو هم ډډه کول، د یو چا له خولې مي واورېدل چي اتل کولنز مړ شوی دی.

هغه شپه ما هلته تېره کړه، خو هیچا هم خبره راسره ونه کړه، د خلکو له کړو څخه داسي راته څرګندېدل چي د هغو ی زړونه راڅخه مات شوي دی، او خواشیني دي، هیچا ماته هیڅ نه ویل، خو ځینې وختونه هیڅ نه ویل د ډېرڅه ویلو مانا ورکوي.

سهار تورن نیلسن د مخه ښه لپاره له ما سره وکتل او راته ویې ویل.:

"کولنزه! تا خپل فرض پوره کړی دی، زه پر تا هیڅ تور نه لګوم، خو دا ښه وي، چې ته نور له دې ځایه کوم بل کنډك ته لاړ شې، ته باید غرمنۍ ګ اورګاډي ته ځان چمتوکړې ځکه له وژل شوي کولنز سره د دې ځای خلك ډېره خواخوږي لري،خو زه پدې حقیقت پو هیږم،چي هغه څه شی و، زه په دې هم پوهیږم چي ته یو زړور عسکر یې، ته به ډېر پرمختګ وکړې، او زما نیکي هیلي له تا سره دي.

د غونډ په سلګونو عسکرو کي یوازي د تورن نیلسن په سترګو کي زما لپاره مینه وه، هغه یو ښه سړی و، ریښتونی سرتېری یې پیژندی، او د هغه درنا وی یې کا وه، که چیري دا پېښه نه وای را منځ ته شوې، نو ښایي هغه هیڅکله زه له خپلي ډلي څخه نه وای ایستلی.

کله چي تورن نیلسن زه دا اورګاډي تم ځای ته رسولم، نو موټر ته د پورته کیدو پر مهال هغه زه پر اوږه وټپولم، او راته ویې ګ ویل " ته به فکر کوې چي زه تا دومره په بېړه او تلوارسره لدې ځایه ولي باسم، کیسه داسي ده، چي نن غرمه په اورګاډي کي د اتل کولنز مور او پلار راځي چي د هغه مړی یوسي، زه نه غواړم چي په دې نازك حالت کي ته دلې وې، ښه ځه، خدای دي بریالی لره" هغه موټړوان ته اشاره وکړه، او موټر روان شو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي تم ځای ته ورسېدم، نو خبرشوم چي د غرمې اورګاډی ماښام ته رارسيږي، ځکه چي ځلويښت پنځوس ميله ليري کومه پيښه رامنځ ته شوې وه.

ما په تم ځای کي يوه او بل لور ته قدم وواهه، سګرېټونه مي وڅکول، ما ښا م پر پنځه بجې يوه رستورانت ته ورغلم ډوډی مي وخوړه.

شپږ بجې شوې، بيا اوه بجې شوې، نورنو په ګرځېدو راګرځېدو هم ستړی شوی وم، د لرګي پر يوه څوکۍ پرېوتم، نوی سګريټ مي ولګاوه او په چت کي مي سترګي ښخي کړې، په همدې مهال د جنوب له لوري يو اورګاډی راغی او په تم ځای کي ودرېدی، په مسافرو يو زوږ ګډ شو.

زه را پورته شوم، کښېناستم.

ليري زما د کنډك ملګرو يو تابوت را اخيستی و په يوه ډبه کي يې ايښاوه، له تابوت سره يو زوړسړی او يوه ښځه هم مل و، په پوره باور سره ويلای شم چي هغه به د اتل کولنز مور او پلار وو، د سپين سري ښځي سترګي سرې وې، د اتل کولنز پلار يو ډول قيمتي جامې اغوستي وې، او سګرېټ يې څکاوه، تابوت چي يې دننه کښېښود، نو د اتل کولنز مور او پلار هم ډبې ته ور پورته شول، د هغوئ پسې عسکر هم دننه ورغلل.

زه پورته شوم، او په شوم، او په چم، چم د ډبې خوا ته ورغلم، د مسافرو ګڼه ګوڼه وه، ځکه نو ګرانه، نه وه چي پرته له دې چي څوك مي ووينې هلته نژدې ورشم، زه وړاندې ور روان وم، تر دې چي د هغوئ ږغونه مي واورېدل، د اتل کولنز پلار ويل: " زه به په دې خبره هرکله ويارم، چي زما زوی د مېړو غوندې مړ شو، زه پخوا هم پوهېدم، چي هغه بې زړه ځوان نه دی، هغه نر و او د نرانو غوندې يې ځان ور کړی دی"

"هو،صاحب!" زما د يو ملګري ږغ راغلی "د هغه مېړانه وګوره، هغه بندې په هيڅ ډول پرېنښود چي وتښتي، او داسي زبردسته مبارزه يې وکړه، چي يوازې يوه رېښتوني عسکر کولای شوه، دا نو بيا زموږ بد مرغي وه، چي له بندي سره توپنچه وه، که نه لږ وروسته کولنز هغه رانيولی و، زما په ټوله لوبه سر خلاص شو، چي د اتل کولنز مور او پلارته دا باور ورکول شو، چي د هغوئ زوی د تېښتي پر مهال نه بلکي د يو بل بندي د راګرځولو پر مهال مړ شوی دی، مانا دا چي د فرض پر ځای کولو پر مهال مړ شوی دی، زما په وينه کي د نفرت اور بل شو، فکر راولوېد چي اخير دوئ څه اړتيا لري، چي دروغ ووايې؟ له هغه موړك غوندې بې زړه کولنز څخه د اتل جوړولو اړتيا څه ده؟

هغوئ د اتل کولنز پلار ته لاس ورکړ، د خواشينۍ مراسم يې پر ځای کړل او رهي شول.

په همدې مهال له لوډسپيکر څخه اعلان وشو، چي اورګاډی څو دقيقې وروسته روانيږ ي، زه څو شيبې وچ ودرېدم، بيا مي لنډ يوه پرېکړه وکړه او له ځان سره مي وويل "جمي کولنزه ! ته بايد دننه ورشې، او د مړي مور او پلار له رېښتوني ګ کيسې څخه خبرکړې او هغوی بايد له دې رازه خبرکړې چي د هغوئ زوی ولي مړشو؟ څنګه مړشو؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه فکر چي را ولوېد نو سملاسي مي د اورګاډي د ډبې ور پرانيست او دننه ورغلم، د اتل کولنز پلار تابوت کتي او د مور ږغ يې ژړغونی و، د پر هغې ګونځي، ګونځي څېره باندي او ښکي رواني وې، که څه هم پلار يې نه ژړل،خو د هغه پرڅېره هم ژور غم غورېدلی و، داسي غم چي پر ډېرو لږو څېرو معلومېږي، زما له ښکالو سره هغوئ مخ راواړاوه او را وې کتل، سپينږيري سګريټ خپلي خولې ته يو وړ، او سپين سري له باړخوګانو اوښکي پا کي کړې، ما تابوت ته اشاره وکړه او ومي ويل"زه له ده سره په کنډك کي ملګری وم" هغوی دواړو ماته داسي وکتل لکه په هغه ورځ چي د ګوليو په باران کي اتل کولنز ما ته کتلي و.

"دی زموږ هرڅه و، زموږ يوازينۍ شتمني وه" د هغه مور په ژړغوني ږغ وويل: "دی زما ډېر نازولی زوی و، بيخي نازولی زوی" د هغه پلار هيڅ ونه ويل، چوپ چاپ يې ماته کتل، نه پوهيږم چي په ما څه وشوه، ما غوښتل چي ډېر څه ووايم، غوښتل مي چي هغوی له اصلي کيسې خبر کړم، خو لکه چا چي مي پر خوله مهر را وهلی و، نه پوهيږم چي توري چيري لاړل، او هغه کرکه چي په وينه کي مي ګرځېده خدايزده څنګه سړه شوه .

څو شيبې وروسته سپين سري خوله خلاصه کړه" زما زوی يو ښه سرتېرى و، هغه يو زړور ځوان و" د سپين سري ليمه لانده شول.

ما غوښتل چي په چيغه، چيغه ووايم چي نه هغه زړور نه و، هغه بې زړه و، بې زړه، ډارن و، موږك غوندي، هغه خپله دنده نه پېژنده، تيښتندوکی و، او د خپلو کړو سزا يې پرې کړه، څو کاله وروسته به يې هغه په سپکاوي سره ايستلای... خو په ماکي د څه ويلو توان نه و، بس يوازي مي په "هو، هو" سر ورته ښوراوه چي په دې کي له دباندي څخه زنګ انګازه شو.

"ايا ته د ده کوم داسي ملګری پېژنې؟" د هغه مور په لړزېدلي ږغ وپوښتل:"چي له هغه سره د ده شيان وي، داسي شيان چي د هغه د ياد په توګه يې موږ وساتو؟ دغه تابوت خو به په خاورو کي ښخ شي" د هغې پر باړخوګانو يو ځل بيا اوښکي وبهېدې.

"هو موري!" ما لکه په خوب کيچي وويل" زه د همدې لپاره راغلی يم، چي تا سو ته همداسي يو شی در وسپارم، ما په جېب لاس دننه کړ، او خپل د مېړاني او زړورتيا سند مي راوکيښ د کولنز د مور په غېږ کي مي کښېښود "ښه، اجازه راکړئ" اوله اورګاډي تا شوم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناوي بنګړي

## ګريګوري زينوپولو

دا يو ډول شنه بنګړي وو، ښه يې مار ته ډېره ورته وه خو ډېر بد رنګه او بې مانا ښکارېل .

کله چي ما په لمړي ځل د خپلي کوژدني په لاسونو کي وليدل نو په زړه کي مي وويل: هغې څومره خراب او بې ارزښته بنګړي اچولي دي، خير زه به ورته يو ډول ښه نامي بنګړي راوړم .

په شمار څو ورځي وروسته مي هغې ته د سمندري ډبري يو ډول ډېر ښکلي بنګړي راوړل، هغه د دې بنګړيو په ليدو ډېره خوشاله شوه، کله چي هغې د بنګړيو پر قطۍ خپلي سترګي ښخي کړي وې نو د هغې په شنو سترګو کي د خوښۍ ځلا برېښېده او د هغې پر اننګو يوه داسي سرخي را ټوکېدلې وه لکه په هغه بنګړو کي چي ما ورته راوړي وو.

هغې قطۍ زما له لاسه واخيسته، لاسونه يې زما په غاړه کي را واچول او په داسي حال کي چي سترګي يې په سترګو کي را اچولي وې پر مخ يې ښکل کړم، نور نو زما پوره باور و چي سبا به هغه خپل بنګړي باسي او زما دا به په لاسوي.

خو په دويمه ورځ د دې په ليدو حيران شوم چي د هغې بيا هم هغه زاړه د ښيښې بنګړي په لاس وو، هغه مهال ما ښه ونه ګڼله چي په دې اړه څه ووايم خو زما په زړه کي په خپل سر د دې بنګړيو په اړه ډول، ډول اندېښني پر راولاړېدو شوې.

ماته فکر را ولوېد چي په دې بنکړيو کي خامخا يو راز پټ دی، دوې ورځې لا ما له زغم څخه کار واخيست خو اخير د زغم لمن راڅخه ايله شوه او هغې ته مي وويل :

"ما تاته بنګړي راوړي وو، ته هغه ولي نه اچوې؟"

هغې ماته هېښ، هېښ وکتل، لکه زما په خبره چي هيڅ پوه شوې نه وي، بيا ما ورته وويل:

"ته له دې بد رنګو او خرابو بنګړو سره دومره مينه ولي لرې؟"

هغې په ځواب کي پر هغو بنګړو باندي يو ژور نظر واچوه، څو شيبې چوپه وه او بيا يې پر ما يو ډېر جدي قارجن نظر واچوه، په دې وخت کي د هغې د سترګو رنګ زه ولړزولم، زه نه شم ويلای چي هغه کوم رنګ و، خو يوازي دومره ويلای شم چي هغه شين نه و "

ما هغې ته ورو وويل :

"هغه بنګړي چي ما درته راوړي وو، ستا خوښ نه دي؟ ته هغه د دې وړ نه بولې چي په لاس يې کړې؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې وويل:

سبا زه هغه خامخا په لاسوم، زما زړه و چي ټول ژوند همدا خپل بنګړي په لاس کړم، خو داچي ستا خوښ نه دي . . . نوره هغه چوپ شوه .

يو ځل بيا هغې پر خپلو پنګړو يو نه زړه کېدونکی نظر واچوه او ويې ويل:

"ښه سمه ده، له سبا څخه زه هغه بنګړي په لاسوم چي تا راته راوړي دي" ځنډه له هغې وپوښتل:

په دې وخت کي د هغې لهجه ډېره غمجنه وه، هغه يو ډول چورتي ښکارېده، ماته داسي څرګنده شوه چي د هغې دا پرېکړه زما د ميني پر چوکاټ يوه قرباني وه، ځکه نو ما د هغې وښتان چي پر ټنډه پراته وو ښکل کړل .

په دريمه ورځ بيا هم هغې هغه بنګړي نه وو په لاس کړي، نن ما بې له

"نن دي بيا زما بنګړي ولي نه دي په لاس کړي؟ "

هغې وويل :

"اوه، رښتيا زما له ياده ووتل... خير، اوس يې په پيدا کولو پسې ډېر وخت تيرېږي، سبا زه هغه خامخا په لاسوم"

ما د هغې خبره ومنله او هيڅ مي ونه ويل، خو په دا سبا بيا هم هغې هغه بنګړي نه وو اچولي، ما چي څومره د هغو بنګړو لور ته کتل هغومره مي قار او غوسه لوړېده، خو دا غوسه د ميني غوسه وه چي پر کوچنۍ،کوچنۍ خبره پورته کېدلای شي، البته د دې لپاره چي ما د خپل زړه بې تابي پټه کړېوای او يا په دې اړه چوپ پاته شوی وای بايد ما له ډېر زغم څخه کار اخيستی وای .

څو ورځي تېري شوې خو د هغې په خيال کي لا نه و چي زما بنګړي په لاس کړي، ځکه نو ما هم دا پرېکړه وکړه چي نور به د دې بنګړيو په اړه هيڅ نه وايم، له هغې ورځې وروسته زموږ زړونه د څه وخت لپاره پاك شول او د خوابدۍ ټول ګردونه مو ليري شول .

يوه ورځ ماته يو سفر را پېښ شو ما يوه اونۍ دباندي تېرول، د تلو په مهال چي ما هغه په غېږ کي نيولې وه او مينه مي ورسره کوله نو هغې ته مي وويل:

غواړم چي بيرته راشم نو تا زما بنګړي اچولي وي"!

هغې وويل:

"بيخي سمه ده"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وويل :

"ژمنه ده؟"

هغې وويل:

"هو"

"ستا یې زما په مینه قسم؟"ما ورته وویل.

"هو زما یې ستا په مینه قسم!" هغې ځواب راکړ.

هغې دا قسم په داسي ډول واخیست چي ما پخپل زړه کي دا پریکړه وکړه چي که چیري هغې زما بنګړي نه و په لاس کړي نو زه به له هغې سره اړیکي شلوم.

په هغه ورځ چي زه بیرته راستنېدم نو ما لاسي هغې ته د پوست له لاري خبر ورکړ چي زه درځم او په دویمه ورځ خپله را ورسېدم، هغې خپل مرمرین لاسونه ماته د غېږي لپاره پرانستل، اه! په هغه ورځ هغې زما بنګړي اچولي وو خو پخواني یې هم په هغه بل لاس وو.

ما هغې ته نور څه ونه ویلای شو، هغې ماته دا رنګه کتل لکه راته ویل چي یي" دادی ما خپله ژمنه پوره کړه، نور نو راشه ښکل مي کړه، نا شکري مه کوه."

ما هغه په غېږ کي ونیوه او څو ځله مي ښکل کړه.

"هو رښتیا! لاکن دا پریکړه خو نه وه شوي..."ما هغه دوه ځلي ژر، ژر ښکل کړه، هغې وویل:

"څنګه؟"

ما ځواب ور کړ:

"ما تاته د دې بنګړیو د اچولو او د هغه نورو د ایستلو ویلي و، دا مي نه و ویلي چي دواړه په لاس کړه"

هغې وویل:

"نه، نه په خدای چي تا ماته یوازي د خپلو بنګړو د اچولو ویلي وو، دا دي نه و راته ویلي چي هغه نور نه اچوم"

ما ځواب ور کړ:

هو، هو دا به سمه وي، خو که زه اوس درته ووایم نو؟ګ"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"که اوس... که اوس راته ووايې..." د هغې ږغ ټيټ شو .

"ايا ته غواړې چي له ټولي کيسې څخه دي خبر کړم؟" هغې چي دا وويل نو ماته نژدې راغله او په غوږ کي يې ورو راته وويل:

"زه به هيڅکله ونه غواړم چي ستا دا غوښتنه دي پوره شي"

زه ووېرېدم او يو دم بغل ته شوم... لکه د ښيښې هغه مار چي چيچلی وم چي د هغې په لاسونو کي و، ما ورته وويل:

"که زه غواړم چي تا له يو دا رنګه بنګړو اچولو څخه منع کړم چي زما نه دي خوښ نو دا بده خبره ده؟"

هغې وويل:

"ته راشه، پرېږده دا خبري، دا چي ستا دا دومره بد ايسي نو نور به زه دا نه اچوم او سر له سبا څخه به يوازي ستا بنګړي اچوم"

په دې وخت کي له ما څخه يوه لويه تېروتنه دا وشوه چي کله ما هغه د هغې د قربانۍ په بدل کي د مننې په احساساتو لمانځله نو ما له هغې څخه وپوښتل:

"دا بنګړي تاته چا درکړي دي؟ګګ"

زما له دې پوښتني څخه د هغې اننګي نه سره شول او نه ژړ، البته د هغې ژبه بنده، بنده شوه او ويې ويل:

"نه پوهېږم... پوره مي ياد نه دي... هو رښتيا ډېر مخکي مي پلار د سوغات په دود راکړي وو"

په دې کي له ما څخه بله تېروتنه هم وشوه، دا تېروتنه تر لمړۍ هغې ډېره خطرناکه وه، هغه دا چي يوه ورځ زه د هغې د پلار ليدو ته ورغلم او هغه ته مي وويل چي" د ميري (زما د ښځې نوم دی) هغه شنه بنګړي ډېر ښکلي دي هغه تا چي ورکړي وو"

د هغې پلار خپلي عينکي سترګو ته سمي کړې او ما ته يې په داسي انداز وکتل لکه هغه چي د دې بنګړيو يادونه له دې مخکي هيڅ اورېدلې نه وه، بيا يې ماته وويل:

"نه ما خو هغې ته کوم بنګړي نه دي ورکړي "

د هغې د پلار دې خبري پر اور د تيلو کار وکړ، زما په زړه کي د کرکي او حسد لمبې پورته شوې، ماته داسي ښکاره شوه لکه په هر رګ کي چي مي د بنګړيو د مار زهر ننوتل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور نو ما پرېکړه وکړه چي هغو لارو چارو ته به د عمل جامه وراغوندم چي ما سوچ پرې کړی و، ما ویل یا به میري د دې بنګړیو اچول پرېږدي او یا به زه خپلي اړیکي ورسره شلوم، زه مرګ منم، ځانوژنه منم خو دا نه شم منلای چي میري دا بنګړي واچوي، زه د قار او غوسې تر یوې داسي جذبې لاندي راغلی وم چي له زغم څخه وتلې وه.

له دې ځلي ما د دریمي خطرناکي غلطۍ جرم وکړ، هغه دا چي ما میري ته وویل:

"ته به نور له دې بنګړو سره مخه ښه کوې، زه په دې اړه له ټولو خبرو څخه خبر شوی یم نور زه باید ستا په لاسونو کي هیڅکله دا بنګړي ونه وینم، نن ما تاته خبرداری درکړ نور نو که ستا دغه ضد کومه بده پایله ولرله زه یې ذمه وار نه یم "

زه په تمه وم چي هغه به له ما وپوښتي چي ته د دې بنګړیو په اړه له کومو خبرو خبر شوی یې خو هغه بلکل غلې وه، یوازي یې په حیرانۍ زما لور ته کتل او په خوله یې هیڅ نه ویل، په دې وخت کي چي د هغې سترګو کوم پسرلنی اسماني شینوالی را نغښتی و، هغه زما غوسه را سړه کړه .

په دې ډول یوولس ورځي تیري شوې، زما لپاره د هري ورځي تېرول یو ګران کار و، د هري ورځي هره شیبه زما لپاره تر یو لوی عذاب په کمه نه وه.

یوولس ورځي خو هغې زه په دې ژمنو تېر ایستلم چي نن دا بنګړي باسم سبا یې باسم، هغې به یوه ورځ یو څه ویل سبا بل څه، ډول ډول پلمې او بانې به یې کولې، کله به خوابدې کېده، کله به غلې پاته کېده او کله به یې بیا زما غوښتني په خندا او ټوکو ردولې خو هغه بدبخته بنګړي د هغې له مرمرینو لیڅو څخه جلا نه شول، کله، کله چي به هغې خپلي سپیني لیڅي سره یو ځای کولې او دواړه مارونه به سره یو ځای کېدل نو ماته به دا سي ښکارېدل لکه په هغو کي چي ساه راغلې وي او په خپل منځي رقابت کي به په یو ګړي کي سره توري ایرې کړي، ما به په زړه کي ویل چي له دوئ څخه به یو خامخا له منځه ځي.

یوه ورځ چي زه ډېر نفس تنګی شوم نو هغې ته مي وویل:

"ګوره! سبا به ته یوازي یو ډول بنګړي په لاسوې، که دې سبا هم دا بنګړي نه و ایستلي نو زه به تا له خپلي ورستۍ پرېکړي څخه خبره کړم"

له دې ځلي هغې زما خبري ډېري جدي واورېدې او دننه لاړه، چي بیرته راووته نو یوازي یو ډول بنګړي یې په لاس وو او هغه زما هغې نه وو، ماته درد راغی او له غوسې څخه مي خوله له ځګه ډکه شوه، نور مي یاد نه دي چي ما هغې ته څه وویل.

هغې زما له غوسې ډکي خبري په پټه خوله واورېدې خو چي زه چوپ شوم نو هغه مجبوره شوه په خورا ډاډ او سړه سینه لکه کوم نارینه چي خبري کوي وویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"گوره، ته له ما څخه داسي غوښتنه کوې چي زه هغه هیڅکله پوره کولای نه شم، زه به دا بنګړي هیڅکله له ځانه جلا نه کړم، زه به تر مرګه دا اچوم، د دې په اړه ډیري پوښتني مه کوه ځکه زه په دې اړه یوې ورې خبري کولو ته لا هم چمتو نه یم، تاته باید دومره ووایم چي که چیري ته نور هم خپلي سر ټمپګۍ ته ادامه ورکړې نو زه به تاته ستا دکوژدني ګوتمۍ بیرته در وسپارم او دا به یو لوی زیان وي ځکه زما له تا سره عشق دی، نه مینه، زه غواړم ستا د ژوند ملګرې واوسم، یوازي ژوند به هم غوره وبولم خو دا بنګړي به ونه باسم، ما د دې بنګړیو په اړه له خپلي ورستۍ پرېکړي څخه خبر کړې نور چي دي څه زړه غواړي هغه وکړه"

زه دا اړتیا نه وینم چي ووایم چي ما له هغې سره بې کچه مینه لرله، که نه نو ما به دومره خبري هیڅ کله نه وای زغملي او دې ته به مي هیڅ کله دومره لېوالتیا نه وای لرلې چي زه دغه راز معلوم کړم، اخیر ما قسم واخیست چي نور به د دې راز د معلومولو هڅه نه کوم خو په کوم دلیل زه پر خپل قسم پاته کېدای شوای ځکه زما له هغې سره مینه وه.

د واده په ورځ او له هغه ورسته ډېره موده زموږ په دې اړه هیڅ خبره ونه شوه، ما پرېکړه کړې وه چي نور به په دې باره کي چوپ پاته کېږم او له دې پرته هم زه نور د دې بد مرغو بنګړیو له لیدو سره تر ډېره بربېده عادي شوی وم خو حقیقت دا و چي زما مینه زما د رقابت د جذبې د سیالۍ وړ نه وه، زما په زړه کي اوس هم یوه هیله پاته وه، هغه هیله چي د یو رښتیني مین په زړه کي همېشه ژوندۍ وي .

زما یقین و چي یوه ورځ نه یوه ورځ به لا د خپلي میني په زور د میري له لاسونو څخه دغه بنګړي باسم او هغه به د دې بنګړیو له رازونو ډکه کیسه راته کوي، بیا به هغه خپل بنګړي باسي او زما بنګړي به په لاسوي.

په دې کي شك نشته چي د میري ځینو خبرو پر ما ډېر اثر کاوه، هغه چي به کله وېرېدله او د بنګړیو ډك لاس به یې پورته کاوه نو داسي به ښکارېده لکه هغه چي په دې ډول له کوم خطره ځان ژغوري، په داسي وخت کي به ما هغه په بېلا بېلو حرکتونو ځوروله او هغې به په مترحم نظر ماته داسي کتل لکه راته ویل چي یې: ایا خپلي ژمني دي هیري کړې ؟ خپل قسم دي یاد نه دی؟

موږ چي څنګه خپل له خوښیو ډك ژوند پیل کړ نو د هغه به لا یو کال نه و تېر شوی چي ما داسي محسوسه کړه لکه ما چي خپل زغم او مینه د مرګ کندي ته ور ټېل وهي، زما هیلي بدلي شوې او د میري تر مرموز زړه پوري زما زړه او دماغ و نه رسېدلای شو، کله نا کله چي به ما د هغه بنګړو په اړه په اشارو باندي څه ویل نو هغې به داسي ښکاره کول لکه په هیڅ چي خبره نه وي او کله چي به ما کومه خبره بیخي سپینه ورته کوله نو هم به هغې کوم ډاډمن ځواب نه راکاوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثره وخت چي به هغې زما خبره واورېده نو په لوړ اواز به يې وخندل او زما خبره به يې په ټوکو او خندا کي پټه کړه، زه به له غوسې څخه سره لمبه شوم، همدا رنګه ورو، ورو زه بيرته خپل پخواني حالت ته وروګرځېدم لکه له واده څخه چي مخکي وم.

کله چي ميري زما له دې حالت څخه پوه شوه نو هغې د زارۍ په ډول ماته وويل:

ما يوازي پرېږده، زه به ستا ډېره ممنونه يم، ما نوره مه کړوه، تا يو ځل بيا هغه خبري پيل دي چي ما ته ور څخه منع کړی وې، حال داچي تا له ما سره ژمنه کړې وه چي زه به تا نه ځوروم، زه غواړم چي تا پوه کړم چي ستا د دې حرکتونو نتيجه به څه وي، زما له زړه څخه به ستا د ميني انځور پاك شي، زما به له تا څخه کرکه وشي او بيا به نو دا پوښتنه هيڅ مطرح نه وي چي زه کوم بنګړي واچوم او کوم نه .

زه د هغې له دې خبرو څخه ووېرېدم او هغې ته مي وويل:

"والله چي! زما مطلب يوازي دادی چي ته ماته ددې بنګړيو له رازونو ډکه کيسه وکړې، ما هم په دې راز کي در شريك کړې او ما پوه کړې چي دا بنګړي تاته چا در کړي دي؟ ايا ستا همصنفۍ چي په دې اړه څه ويل هغه رښتيا دي؟

هغې په لوړ ږغ وويل:

"چوپ شه! د خدای لپاره چوپ شه، ته غواړې چي زما مينه راووژنې، که دي نور يو توری هم له خولې را وايست نو زما به له تا څخه بې کچه کرکه وشي او زه به د ټول ژوند لپاره له تا څخه اړيکي پرې کړم"

د هغې د خبرو له اورېدو څخه سر راباندي وګرځېد، داسي مي محسوسه کړه لکه يو چا چي يو زورور ډانګ پر سر وهلی وم، هغې زه پرېښودم، کوټې ته ولاړه او د کوټې ټول ورونه يې وتړل .

دريمه ئېروتنه مي دا وکړه چي له بده مرغه زه لاړم له خپل يو نژدې ملګري سره مي وليدل، هغه ويل: ولي څه خبره ده، نن ډېر پرېشانه ښکارې؟" زما لويه بد بختي بيا دا وه چي ما هغه ته له سره تر پايه ټوله کيسه وکړه، په دې وخت کي زما ملګري هغه څه راته وويل چي په عام ډول ويل کيږي، هغه راته وويل :

"ته ډېر بې زړه سړی يې ته بايد نر واوسې او دا هڅي مڅي بايد پرېږدې چي ته يې د خپلي ښځي د تابع کولو لپاره کوې، لاړ شه! او په پوره زور سره هغه دې ته مجبوره کړه چي ستا خبره ومني، په څو ورځو کي به هر څه سم شي"

ما چي دا نصيحت واورېد او کور ته راغلم نو هغه پر کټ ويده وه، د ډېوې رڼا سترګکونه وهل او دلته هلته خورېده، د رڼا سور انځور د ويني د ټپلي غوندي ښکارېدی او همداسي يوه ټپله د ميري پر څېره هم لوېدله، د هغې سپين لاسونه چي له برستني را وتلي وو، داسي ښکارېدل لکه د ژوند نښي چي ترې کوچېدلي وي، زما سترګي پر هغو بد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنگو بنګړو ونښتې چې د ډېوې په رڼا کې ځلېدل، میرې په درانه خوب ویده وه، د هغې څېره له غم او پرېشانۍ څخه یو مخ تشه ښکارېده، هغه بد مرغه بنګړي هم د هغې د دې درانه خوب خنډ نه جوړېدل، زما په زړه کې راتېر شول چې کشکي زه وپوهېږم چې اوس هغه څه خوب ویني ؟ دې صحنې زه له حاله وایستم، ماته یې سخت زور راکړ د غوسې ستن مې لوړه شوه، پر سترګو مې توره شپه شوه او زړه مې په دربې شو .

ناڅاپه مې په زړه کې د یو ناوړه جرم د کولو خیال را پیدا شو، دا خیال مې د برېښنا په سرعت سره ترتیب کړ او بیا مې په هیڅ دول ونه کولای شوای چې له پامه یې وغوځوم.

ما فکر کاوه چې یوازې یو ځلې دا عمل تر سره کړم نو د ټول ژوند د پرېشانیو د پای ټکی به مې شي .

زه ورو د میرې کټ ته نژدې ورغلم او پر هغې ور ټیټ شوم، بیا په داسې حال کې چې زما په یوه لاس کې د مار لکۍ او په بل لاس کې د مار سر و خپلو لاسونو ته یو کوچنی حرکت ورکړ... اه! جرم څومره لنډ وخت غواړي.

بنګړي مات شول.

د کوکیو ورېږ، ورې ټوټې پر کټ پاشلې وې... میرې خپلې شناوۍ سترګې رونې کړې... او بیا یو دم راپورته شوه، دا هر څه په یوه شیبه کې تر سره شول، هغه په داسې حال کې چې د بنګړیو ټوټې یې په لاس کې وې لوڅې پښې زما مخ ته ولاړه وه، د هغې وېښتان پر اوږو پراته وو خو د هغې سترګې... ایا هغه به زه کله هېره کړای شم؟... هغه تر اوسه هر مهال هغه رنګه زما سترګګو، سترګو ته کیږي... د هغې د سترګو له کسو څخه داسې ښکارېدل چې په ډېر وېرونکي ډول یې ماته کتل، د هغې د سترګو شینوالی په تور اوښتی و او داسې ښکارېدل لکه له سترګو څخه چې یې بڅرکي بادېدل، د سترګو سپین یې د یوې وحشتناکې لمبې غوندې خوټېدل .

په کوم ږغ چې هغې زه مخاطب کړم، د هغه بیانول زما لپاره ناشونی دی. هغې په چیغه وویل:

"تا دا مات کړل؟!... تا دا مات کړل؟!... سمه ده! زموږ مینه نوره ختمه شوه تا د مینې پر غاړه چاړه تېره کړه... تا د مینې لړی کړی، کړی کړه ... ته نفسپاله، لنډ فکره، جاسوس او چلبازه یې... اوس به ته په هر څه پوه شې چې دا بنګړي ماته چا راکړي وو؟... دا نه یو روماني داستان لري نه کوم راز دی بلکې یوازې یو شګون و چې ما په لاسول، تا شر او شور جوړ کړ او بې ځایه دې څو کلونه په غم اخته کړې وم... اه! زما له تا څخه کرکه کیږي ستا د دې کار له امله زما له تا څخه بد راغلل، ورك شه او له سترګو مې پناه شه... خدای دې نور هیڅ کله شکل مه راباندې وینه"!

له هغې شپې ورسته زه له خپلې ښځې څخه بېل شوم ځکه د ژوندانه داسې کلونه مو تر شا پرېښې وو چې له زغمه وتلي وو .

هغه قسطنطنیې ته لاړه، هلته یې دویم واده وکړ، زما یو ملګری څو ورځې وړاندې له هغه ځایه راغلی و، هغه راته وویل چې هغه یو ډول بنګړي په لاسوي چې له سمندري ډبرې څخه جوړ دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دروند کور

## نجمان یاسین/عراق

لاندي وه، ا د کور دروازه ډېره و پر هغې لوړ يو دالان و، چي دوه نا ست زمري پرې جوړ شوي وو، له دالان څخه رالويدونکو اوبو د هغوئ پر مخونو ژور ټپونه جوړ کړي وو، او له هغوئ نه ديوه پربدن او څېره د وخت ستم بې شمېره نښي پرېښي وې، خو هغه بل لا تراوسه د وخت له پرېشانۍ څخه بچ پا ته شوی و.

د وره ښکلی قلفك داسي غلی و، لکه له کلونو راهيسي چي د انسان لاس نه و ور وړل شوی، د کور وېرانۍ د هغه د اوسېدونکو د بېلتون کیسه کوله، پر ديوالونو د پاکېدو په تمه ګردنو يو پنډ خور نیولی و، او د هغوئ اصلي بڼه يې پټه کړې وه، د خښتو ښکلی فرش چي له ډېري زماني څخه د قدمونو له لمس نه محرومه پاته شوی و، اوس د بهېدو په حال کي و، تر لوی وره تللی دالېز دومره تنګ و چي يو کس په ګرانه ترې تېريدای شوای.

پورته کړکۍ له عمرونو راهيسي بندي وې، او د لارويانو سترګو د هغوئ له رنګینو هيندارو څخه هيڅکله د رڼا وړانګه نه وه ليدلې، کله نا کله داسي ښکارېده لکه دا کړکۍ چي د کليسا په مينار کي لګيدلي هغه کړکۍ وي، چي د خلاصېدو لپاره نه وي جوړي شوي.

هيڅوك نه پوهېدل، چي دا کور د چا دی،پدې کي څوك او کله اوسېدل بس ډول، ډول ګنګوسو داکور پخپل حصار کي اخيستی و، هيڅکله کوم چا دې کور ته د ننوتو هڅه ونه کړه، او نه هم کوم څوك وليدل شو، چي دې کور ته دي ننوتلی وي، لنډه دا چي د دې کور تاريخ په شك او شبهاتو کي ډوب و.

کله چي به دسيمي خلك دخپلو کورونو پر بامونو يا برنډوکي درېدل او دې کور ته به يې کتل نو د هغوئ نظر به د بام پر هغه لوی دودکش خامخا لوېدی چي سمندري هيليو ځالي په کي جوړي کړي وې، هغوئ به ټوله ورځ خپل ځواکمن پرونه ترپول او د سمندر لور ته به تللې، د هغوئ ږغ به تر ډېره په کورنو کي اورېدل کېدی خو کله چي به ماښام شو او درنې چوپتيا به دغه کور په غېږ کي واخيست نو د هغو لارويانو قدمونو به بې واکه تېزېدل چي دې کور ته نژدې تېرېدل، هغوئ به د خپلو زړونو دربی اورېد او چي کله به يې ستر کي نا څا په د دې تیاره کور خواته واوښتې نو د وېري يوه سړه څپه به يې محسوسه کړه چي د ملا تير ته به يې ورننوتله او بې اختياره به خدايج ورياد شو.

خلکو ډول، ډول خبري کولې، چابه ويل، د دې رنګینو کړکيو شاته يو څوك ګرځي، د هغه د سلګيو او اهونو ږغ اکثر اورېدل کيږي، چا به ويل، دا کور پېريانو لاندي کړی دی، د ځينو بيا دا نظر و، چي پدې کور کي پخوا يو سړی اوسېدی، هغه يې وژلی و او هغه تر اوسه پوري پرې شوې غاړه خلك مرستي ته وربولي خو هيچا هيڅ نه و ثابت کړي، د پېريانو، مادرزمانو او ښاپېريانو کيسو دا کور دومره وېره ونکی کړی و چي هيڅکله کوم چا د ورننوتو هڅه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وه کړې، زړو خلکو پر دې ویره ونکو کیسو ډېر باور درلود او چې کله به هغوئ د پېریانو او مادرزمانو کیسې اورېدې نو د هغوئ عقیده به نور هم ټینګېده، لنډه داچې له دې کیسو څخه دا باور پیدا شو چې که هرڅوك دې کور ته د ننوتو هڅه وکړي نو هغه وژل کیږي، له ارواه نه یې ډېری جوړیږي او بیا به نو هرمهال په دې کورکي په چیغو وي، لنډه دا چې هیچا دغه کور ته د ننوتلو یا په دې اړه د سوچ کولو هڅه نه کوله.

یوه ورځ چې لمر ښه پوره ځلېدی او هیلۍ د خپلو ښکارونو پسې د سمندر لور ته تللي وې نو اته یا لس کلن هلك وسمان د خپل کور د بام له دېوال سره د لرګي پر صندوق ولاړ و او د هغه ځالۍ لور ته یې کتل چې د پېریانو د کور پر دودکش جوړه شوې وه، هغه له څو ورځو څخه دې ځالۍ او له هغې نه راوتلو، تارونو او د خاشو جال ته کتل، په ځالۍ کي پرتې هګۍ یا د هیلیو بچي د هغه د ارمانونوو اصلي ټکی و، هغه به سوچ کاوه چې هیلیو به په هغه کي خامخاکوچني، کوچني بچي یا هګۍ پریښي وي، کومي چې ده را ایستلای شوې او کورته یې راوړلای شوې خو کله چي به ده وه هغه لورته دټوپ کولو په اړه سوچ کاوه نو د دغو دوو کورونو ترمنځ کوڅه د ده د لاري خنډ جوړېده ځکه له ده سره به دا وېره وه چې هسي نه څوك یې وو یني، د پلار د دې وېري له امله هغه نشوای کولای چې دا کار وکړي.

هغه څو شیبې همداسي چورتي ودرېد او بیا یې پر بام پرته د لرګي تخته راپورته کړه، پر خپل دېوال یې کښېښوده، ورو، ورو یې پوري وهله او د هغه کور تر چت پوري یې ورسوله، اوس نو د هغه په وړاندې یو پُل جوړ شوی و، داسي پُل چې هغه پر هغه له تېرېدو سره خپل منزل ته لنډېدای شوای.

هغه پورته اسمان ته وکتل، په اسمان کي کوتري، مرغۍ او کارغان الوتي وو، هغه خپلي ګوتي تر ژبي لاندي کښېښودې، مرغیو ته یې وکتل او شپېلك یې وواهه، د هغه په زړه کي د جوش او ډاډ یوه جذبه را ویښه شوه، هغه تخته وښوروله او ویې کتل، دا یوه خطرناکه لوبه ورته ښکاره شوه خو هغه لور ته د ټوپ وهلو او له ځالۍ نه د هیلۍ د هګیو او بچیو د را ایستلو تلوسې یو ځل بیا هغه دې ته چمتو کړ.

هغه ورو پورته شو، خپل قدم یې د تختې پر پله کښېښود او بیا په یوه ټوپ تر کوڅې واوښت کله چې هغه بل لور ته واوښت نو تخته یې بیرته کش کړه، د دې لپاره چې د لارویانو سترګي پرې ونه لګي.

اوس نو هغه په یوه نوې نړۍ کي و، په داسي حال کي چې له هغه سره له یوه لوري له پلار نه د اورېدلو کیسو وېره او له بل لوري په زړه کي ور پیدا شوي تلوسې ګډ احساسات مل وو، د کور له کټارې نه یې د کور غولي ته وکتل، هغه د لمر له تېزو وړانګو پرته نور هیڅ ونه لیدل، د هغه حوصله لوړه شوه او پرېکړه یې وکړه چې د کور د ننه به ورځي .

هغه د زینو د وره لور ته ورغی، ور بند و، هغه په زوره پوري واهه او ور له یوه وېروونکي ږغ سره خلاص شو، وسمان ټکان وخوړ او یوه شېبه وچ ودرېد خو ژر یې ځان بیرته قابو کړ، پر زینو بې اندازې ګرد لوېدلی و او هر ځای غنډو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځالي جوړي کړي وي، د وره د لوړ ږغ او وسمان په ليدو، خسمانان دومره تېز خپلو غارو ته په منډه شول چي د ځو شيبو ګ لپاره يې وسمان لا ووېراوه.

بيا ناڅاپه د هغه په زړه کي ورتېر شول چي هغه دا رنګه چيغي کړي لکه يو څوك چي يې وهي او بيا يې همداسي وکړل، د هغه ږغ د کور په تشو کوټو کي انګازه شو او بېرته د هغه لور ته راغبرګ شو،

بيا هغه په زوره چيغه کړه:

"پېريه...!

په خوب کي هم تر ډېره د پېري د " ی " ږغ انګازه شو.

"پېريه... يه"...

او په ټول کور کي د پېريه ... يه ... يه.. ږغ له دېوالونو سره وجنګېدی، د هغه په زړه کي د خوښۍ يو نابلد احساس راڅرګند شو:

"پېريه ... يه ... يه"

او په خوب کي د " يه، يه " ږغونه په نڅا له انګړ څخه پورته شول، هغه څو شېبې هلته ګ ودرېد او بيرته بام ته راغی، پر دودکښ يې سترګي ښخي کړې او چورت يووړ چي ځالي ته به څنګه ورپورته شي؟ دودکښ ډېر لوړ و او په ښکاره د هغه تر ورپورته کېدو هيڅ لار نه وه، هغه دودکښ ته همداسي کتل او بيا يې پرېکړه وکړه چي د دودکښ په سوريو کي به پښې ږدي او هلته به ورپورته کيږي. خو له دودکښ نه ځالۍ ته د پورته کېدلو لار هم ډېره ستونزمنه وه، اخير هغه يوه لکړه راپورته کړه، چي همدلته نژدې ورته پرته وه، هغه لکړي ته ښه په غور وکتل چي آيا د ده زور راوړلای شي که نه؟ بيا يې هغه په چپ لاس کي ونيوه، زينو ته يې وکتل او په زوره يې چيغه کړه " پېريه " " پېريه ! "

او تر ډېره د هغه ږغ په ټول کور له دېوالونو سره وجنګېدی، هغه د ږغ له دې موسيقۍ نه خوند واخيست او د زينو لور ته رهي شو، هغه د دېوال کټاره ونيوه او په داسي حال کي چي د دودکښ په سوريو کي يې پښې ايښودلې، لوړ پورته شو چي لږ پورته شو نو نوره لار پرې بنده شوه، هغه په لاس کي ورسره لکړه د دودکښ په يوه سوري دننه کړه او ښه يې ورپوري وهله، بيا يې ورته وکتل چي آيا زور به يې راوړي؟

هغه پر هغه لکړه ودرېد، اوس نو د هغه دواړه لاسونه د دودکښ په پورتنۍ برخه کي وو او د هيلۍ ځاله د هغه پر وړاندي پرته وه خو د خاشو، تارونو او وړو ــ وړو لرګيو پرته نور هيڅ په کي نه وو، هغه د يوې شېبې لپاره نهيلی شو خو ځالي ته د رسېدو تلاښ د هغه په زړه کي ټوپونه ووهل، هغه د دودکښ څنډې ونيولې او ځالي ته يې ورټوپ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل، اوس نو د هغه تر پښو لاندي د هغه پر اسراره دودکښ خښتي وې چي خدای ( ج ) خبر له کومه راهیسي هغه د دې سیمي خلك په وېره کي اچولي وو.

وسمان په دې ډېر خوښ و چي لوړ دودکښ ته ورپورته شوی و، د هغه د سترګو په وړاندي تر لیري د کورنو بامونه، برنډې، لاري او کوڅې د لمر په وړانګو کي لمبېدلي پرتې وې، هغه د یوه عجیبه ډاډ او سرکښۍ په نشه مست په ځالۍ کي تاو راتاو شو، هغه ته فکر ورولوېد، چي دی باید له دې کلي لیري لاړ شي، له هغه کلي چي د ده تر قدمونو لاندي پروت ډېر کوچنی معلومېدی، له هغه کلي چي د کوڅو او بامونو خلك یې د مېږیانو رنګه ښکارېدل، هغه د خپل کور بام ته وکتل، چي لمر ته پراته زاړه شیان یې ځلېدل، د هغه په زړه کي دا خواهش راپورته شو، چي کشکي هیلۍ راشي او دی له ځان سره لیري فضا ته والوزوي.

هغه خپل دواړه لاسونه په هوا کي وغوړول او دارنګه یې ووهل لکه هغه چي الوزي، بیا یې له یوې مستي جذبې سره وموسل.

هغه ته داسي محسوسه شوه لکه ارواه چي یې د الوتو په حال کي وي او د کوم وجد غوندي یې لاسونو او ګوتو حرکت وکړ.

"پېریه ... پېریه"

هغه چیغه کړه، په کټ ،کټ په خندا شو او خپل لاسونه یې په هوا کي دا رنګه وترپول لکه هغه چي د هیلیو غوندي د کورونو پر سر لوړ په فضا کي الوزي او بې شمېره ښکلیو مرغیو تر هغه یوه ښکلې دایره راګرځولې وي.

او بیا ناڅاپه... وسمان ته په دې دروند کور کي پر خپل دې لوړوالي او اهمیت باندي تعجب وشو او د عمرونو وېره یې په خوښي بدله شوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وېره

## گلزار/هندوستان

له وېرې څخه د هغه د بدن وينه په وچېدو وه، په ناسته به يې زنګنونه داسې وربېږدېدل لکه د مېرګي حمله چې پر راروانه وه.

په ښار کې د شر او پسات د شروع کېدو څلورمه ورځ وه، ټول بنديز به د لږ وخت لپاره سهار ليرې کېدی او د لږ وخت لپاره ماښام، چې ټول بنديز به ليرې شو نو ځينو خلکو به ژر، ژر د ورځنيو اړتياوو شيان اخيستل او ځينو به ژر، ژر اړ دوړ کاوه، اور به يې لګاوه، خلك به يې په چاقوګانو وهل، څو کسان چې به يې ووژل نو تر دې وړاندې چې ټول بنديز ولګېږي په خپلو کورونو به ننوتل، په "بمبی" کې تاوده، تاوده خبرونه او تودې، تودې وينې پرلپسې بهېدې، خو راډيو او تلوېزون بيا هم پرلپسې همدا اعلانونه کول چې حالت په کنټرول کې دی او مخ په سمېدو دی،

د دې لپاره چې حالت نورمال وښيي له پرون راهيسې سيميزې اورګاډي هم تر ډېره چلېدلې، که څه هم اکثره ډبې به يې تشې وې خو دا چې پر پټلۍ باندې لوېدلې رڼا را ښکاره شوه نو په څلور ورځنۍ يکنواخته چوپتيا کې يو څه حرکت را پيدا شو، د اور ګاډي پټلۍ ته نژدې کليو کې چې کومې چوپتيا پښې ټينګې کړې وې هغه چې د اورګاډي د تېرېدو له دربې څخه د څه مهال لپاره ولړزېدې نو هغه ته يو ځل بيا د ژوند هيله ورپيدا شوه، ياسين په داسې حال کې چې هغه ږغ ته يې غوږ نيولی و، پورته شو او وېې کتل چې ښايي اورګاډی را رسېدلی وي، نن يې پوره پنځمه ورځ وه چې هغه له خپله کوره ورك و، هغه له ځان سره فکر وکړ چې نور خو به يې نو زغم او تمه هم پای ته رسېدلې وي او د هغه لټون به يې پيل کړې وي، ورځ په تمامېدو چې د ياسين زغم پای ته ورسېد، د ماښام ټول بنديز چې څنګه ليرې شو نو هغه سملاسي په تياره کې ځان د اور ګاډي تمځای ته ورساوه، په تم ځای کې چوپه چوپتيا وه خو اشارو د اورګاډي د راتلو خبر ورکاوه.

اورګاډی ډېر ورو تم ځای ته را ننوت، په پخواني انداز باندې نه و، بلکې داسې و لکه محتاته چې و او لکه وېرېدلی چې و، دا چې په اورګاډي کې نور خلك هم وو نو هغه پرېکړه نه شوای کولای چې کومې ډبې ته ور پورته شي، ځکه اکثريت د هندوانو وو، دوه، دوه ، څلور ، څلور هر ځای ډله ، ډله ولاړ وو، هغه لاندې ولاړ و خو چې اورګاډی روان شو نو يو دم په منډه ورپورته شو، هغه يوې داسې ډبې ته ور پورته شو چې نور څوك په کې نه وو، هغه په ځير شاوخوا وکتل هيڅوك نه وو، بيا د ډبې په پای کې پر يوه څوکۍ باندې کښېناست، دلته يې نو درسته ډبه تر سترګو لاندې وه، کله چې اور ګاډی روان شو نو ايله هغه د ارامۍ ساه واخيسته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا نابېره د ډبې له هغه بل کونج څخه یو منډو را څرګند شو، د یاسین حواس والوتل، پر زنګنو یې یو ځل بیا مېرګی وځغلېد، هغه ټیټ شو او تر څوکۍ دومره لاندي شو چي که هغه نفر راغلی هم وای نو د کولای شوای چي سملاسي تر هغه څوکۍ لاندي پټ شي او یا ورسره سینه په سینه شي، د ډبې ور لیري نه و خو دا چي اورګاډی ورو شو او بیا هم هغه سړی ... ناڅاپه هغه سړی پر خپل ځای باندي جګ ودرېد او شاوخوا یې وکتل، دا چي پر څېره باندي یې د ویري نښي نه شته نو هغه خامخا هندو دی، د یاسین لمړی غبرګون همدا و، هغه د پای وره ته ورغلی او هلته ودرېد ، باد د هغه څادر د پرې شوي بیرغ غوندي رپاوه، هغه یو ګړی د بهر ننداره کوله خو بیا داسي ښکارېدی لکه له یو شي سره چي زور ازمويي د یاسین له ځایه سم نه ښکارېدی چي هغه څه شی را جلا کوي، هغه یو شی ور پوري واهه او را کشاوه، نا څاپه له یو زنګزده ور څخه ګغ پورته شو او له یو زورور ګړبې سره بند شو، ښه و د یاسین له خولې څخه چیغه ونه وته، که نه له دې ږغ څخه هغه نفر خپله هم ټکان وخوړ، هغه شاوخوا وکتل او دې لور ته یې تر ډېره کتل چي یاسین پټ و، یاسین ته شك ورولوېد چي هغه خو به لیدلی نه وي؟ او یا ستمی خو به یې نه وي اورېدلی؟ د هغه سړي زور ازمویلو هغه ته بل وحشت په زړه کي ورواچوه، هغه دا چي که چیري سره لاس او ګرېوان شي نو دی به د هغه مقابله وکړای شي؟

هغه سړی تېر شو د هغه بل لور په وره کي ودرېد، اورګاډی د "ګیشوري" یو وېران تمځای ته ورننوت، چي اورګاډی تم شوی وای نو ښايي هغه تا شوی وای خو دا چي دا د ټول بندیز سیمه نو اورګاډی ونه درېد، همدا د ټول بندیز سیمه تر ټولو محفوظه وه ځکه که نور هیڅ نه و نو پولیس خو یې درلودل، او اوس خو یې پوځیان هم ورته راغوښتي وو، د ښار په پسات ځپلو سیمو کي د برګ درشیو پوځیانو چي د توپکونو خولې یې د بازار لور ته نیولي وې، ډکي لارۍ هر لور ته ترسترګو کېدلې، د پولیسو خوند تللی و، نور له هغوئ څخه څوك نه وېرېګدل، خلکو په لوی زړه پر پولیسو د سوډا د اوبو بوتلونه، د تېزابو بوتلونه او ډبري اورولې، پولیسو که به اوښکي بهیونکی ګاز هم پر پاشه نو هغوئ به په لانده دسمال را پورته کاوه او هغه به یې بیرته پر پولسو ورغورځاوه، په " ناکا ساکي" کي چي کله هغې ښکرۍ ته اور ورولوېد چي ده کار په کي کاوه نو پولیسو څه وکړل؟ بس لیري ولاړ وو ننداره یې کول او هغوئ له تنګو کوڅو څخه په منډه د هغو ګېرجونو لور ته وتښتېدل چي د یو او نیم سوځېدلو موټرونو اسکلېټونه په کي پراته وو، په هغه ورځ دوي اته، نهه کسان وو چي د پټېدلو لپاره یې منډي وهلې، د "بهاو" یې کور ودان، هغه یې تر بغل ونیو او د چایو په پېتۍ کي یې پټ کړ، بهاو پوهېدی چي زه مسلمان یم، هغه خو هندو و، هغه ولي ځغستل؟ هغه ویل: "چي کله د خلکو سرته دو ینو تویولو جنون راشي نو بیا هغوئ دومره وخت نه لري چي له چا څخه وپوښتي چي نوم دي څه دی؟ د هغوئ تنده یوازي په وینه او اور باندي ماتیږي، اور واچوه، وې واهه، لوټ تالان ګډ کړه، د هغوئ اور هغه وخت سړیږي چي په مخکي یې هیڅ نه شي پاته.

د دویم وره دربې هغه ته ټکان ور کړ، د ډبې دواړه شاتني ورونه هغه سړي تړلي وو، هغه سړي تر ډېره هغه لور ته کتل چیري چي یاسین پټ و، وېري یو ځل بیا هغه پخپل واك کي واخیست چي دا سړی ورونه ولي تړي؟ ایا دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژني، په وينو لژند مړی يې په همدې ډبه کي پرېږدي او خپله پر هغه بل تمځای تا کيږي؟ اورګاډی ورو، ورو په درېدو و، هغه سړی تر اول ډېر ډاډمن ښکارېدی، هغه ورو، ورو د ده لور ته راروان وو د ياسين ساه بنده، بنده شوه، پر تندي يې سړه خوله را ماته شوه او ناړه يې په ستوني کي وچه شوه، هغه وېرېګدی چي هسي نه ټوخی يا ترچی ورشي کنه نو تر همدې ځوکۍ لاندي به يې...

د يو تمځای په رارسېدو اورګاډی تم شو، هغه سړی بې غمه راغی په هغه وره کي ودرېد چي د فلېټ فارم لور ته و، د هغه يو لاس په جېب کي و، په جېب کي به يې کوم چاقو ماقو وي، ياسين فکر وکړ چي منډه کړي او د هغه بل لوري له وره ځخه ټوپ کړي خو هسي نه چي له هغه ځايه تر راوتو وړاندي يې هغه سړی خبټه ورځيري کړي، بلکي خبټه ولي؟ مری به يې ور پرې کړي چي ناره يې هم و نوځي، ياسين غلی هغه ته وکتل، هغه سړي د دباندي ننداره کوله، په تمځای کي چوپه چوپايي وه، ان د چا د قدمونو ږغ لا هم نه و، د ياسين زړه و چي يو ځوك راشي، خو څه معلومه وه چي ځوك راشي؟ هندو که مسلمان؟ يو بل هندو هم سم دی، کېدای شي هغه هم د "بهاو" غونډي زړه سواند وي، هغه ځنګه خپله د سپنسيو مذهبي غاړګۍ را په غاړه کړه او د چايو له پېټۍ څخه يې خپل کور ته بوتلم او ځلور ورځي يې پخپل کور کي وساتلم، هغه به ويل:" ياسينه زه مرهټه يم خو هره ورځ غوښه نه خورم، که ته غواړې نو درته راوړم يې، نه پوهېږم چي ځنګه به وي په حلال او مردار يې زما سر نه خلاصيږي، دباندي د ترکاريو داسي حال دی چي ټولو له يوه سره بوی کړی دی خو د خرځولو ځوك يې نشته، چي ور ووزې ځومره چي دي زړه وي هغومره ورلای شې...

او راډيو پرلپسې همدا ويل چي اوضاع ورو، ورو مخ په ښه کېدو ده، په ځينو سيمو کي يې د ملي بسونو تګ راتګ هم پيل کړی و، دا ځلور ورځي د هغه په کور ډېر چورت خراب و، کور به هم ټول د ده پسې اندېښمن وي، له هغه سره وېره وه چي هسي نه فاطمه د ده په لټه بېکرۍ ته پسې ورغلې وي، په کوم کور کي چي هغه پټ و له هغه ځخه د اورګاډي پټلۍ معلومېده، موټرونه هم معلومېګدل، خو بهاو هغه نه پرېښود.

اورګاډی يو دم روان شو او ياسين له هغه ځايه د ډبې په منځ کي ولوېد، هغه بل کس چي لويه اوسپنه يې په لاس کي وه ډېر ډاډمن ولاړ و، د هغه راسته لاس تر اوسه لا په جېپ کي و، اور ګاډی تر يو ځايه ورو، ورو روان و، اورګاډی ولي نه چټکيږي؟ اشاره هم نشي کېدای ځکه ترافك کله و؟ تر اوسه يو اورګاډی هم له بل لوري نه راغی، اورګاډی لا تر ډېره ورو، ورو روان و، درېدو ته چي کوم ځای ته راورسېد هغه د "بهسندر" پل و، لاندي د سمندر هغه خليج و چي اکثره به يې د مړو د راايستلو خبر په ورځپاڼو کي چاپېدی.

د ياسين ساه بنده، بنده کېده، له دې ويري ساه اخيستل ورته ګران چي هغه سړی له جېبه لاس ولي نه را باسي؟ له سترګو يې معلوميږي چي د حملې کولو په حال کي دی، که حمله را باندي وکړي څه به کوم؟ راته وبه وايي چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دباندي راووزه؟ که به مي د سر له وېښتانو ونيسي را کش به مي کړي او له جېبه به چاقو را باندي را وکاږي او پر مری به يې را کيږدي؟ څه به کوم؟ دا داسي وچ ولي ولاړ دی؟

په همدې کي هغه سړي له جېبه لاس راوکيښ او بيا د وره په ترږلو بوخت شو، هغه دريم ور هم بنداوه، لاندي سمندر و که ور غورځي نو له شکه وتلی مرگ و، د ياسين وېره وروستي بريد په رسېدو وه.

يو دم ياسين را ټوپ کړل، هغه بل کس ټکان وخوړ، ده ته يې وکتل او په جېب يې لاس دننه کړ، په ياسين کي خدای(ج) له کومه دومره توان پيدا شو چي د "ياعلي " له نارې سره يې هغه کس له پښو ونيو، پورته يې کړ او دباندي يې وغورځاوه، سمندر ته د لوېدو پر وخت د هغه له خولې څخه چيغه پورته شوه "الله" ياسين وچ پاته شو، اورگاډی روان شو، هغه حيران شو چي ايا هغه هم مسلمان و؟ خو هغه د وېري له شکنجې څخه خلاص شوی و لکه د مرگ له خولې څخه چي پاته شوی و.

ماښام هغه فاطمې ته ويل:..."که داسي نه وای شوي نو مابه هم هغه ته سملاسي د مسلمانۍ ثبوت څنگه ورکولای؟.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوه شپه دباندي

## ټالاخوامورتي مولل/تانزانیا

میکا تر ډېره پوري همداسي وچ او چوپ ناست و، چي کله وښورېد نو په رګونو کي یې د شرابو مستي په پوره سر و تال سره د شهوت سندره پورته کړه، هغه ځان ناارامه محسوسوه، تر څو چي غاړه یې تازه کړه او په مشکل سره یې وویل:

"ستا نوم څه دی؟"

"ماما تومیني..." (د تومیني مور )

هغې بې له دې چي میکا ته وګوري پر مځکه ټغر هوار کړ او خپل زوی یې پر پرېیستی،کوچنی بې ارادې په ټوخي شو، ټوخی پسې زورور شو، او کوچنی یې مرګي حاله کړ.

میکا ورغی کوچنی یې وکوت، د هغه سترګي تکي سپیني راختلي وې او تندی یې له تبې سره سکروټه و.

"ایا ته دی نه تداوي کوې؟"

میکا د دې لپاره چي ځان یې د وجدان له ملامتۍ څخه خلاص کړی وي له هغې څخه وپوښتل.

"زموږ په کلینك کي هیڅ نشته، د ډسپرین یوه ګولۍ لا نشته"

هغې ځواب ورکړ.

د مور د غېږي د ګر مۍ له امله کوچنی سیده وغځېد، د هغه له سینې څخه د سا ایستلو د ټېزوالي شدد ځرګندېدی، ماما تومیني کوچنی په برستنه کي پټ کړ او بیا یې د میاشو د وژلو پلیته بله کړه د هغه سرته یې کښېښوده، له پلیتې څخه ورو، ورو لوګی پورته کېدی او پر کوچني را تاوېدی کوچنی وښورېد ناارامه غوندي شو، مور یې په مینه وټپاوه.

"خدای دي را جوړ کړه " ماما تومیني ساده غوندي وویل "زما تنکی سپاهي خدای دي هیڅکله څه نه درباندي کوي"

سپاهي ولي؟... "میکا وپوښتل

"هو سپاهي... سپاهي هیڅکله وږی نه پاتیږي او نه هم ناروغه کیږي" ماما تومیني داسي ګڼه وه لکه یو کوچنی چي له مشرانو اورېدلي خبري تکراروي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هغه له لوږي نه مري، وژل کيږي"

ميکا ښايي طنزا وويل:

"هو تر دې خو مرگ ښه دی چې زموږ غوندي په مشکلاتو اخته وي" ماما توميني وويل: "تر دا زموږ رنگه په وار، وار ورو، ورو مرگ خو هغه د يوې گولۍ مرگ ښه دی"

ميکا پسپايي محسوسه کړه، لږ وروسته يې بيا وويل:

سپاهي هم کيدای شي له لوږي مړ شي، کله چې د خوړك لپاره څه نه وي نو بې له دې چې په څو، څو واره ورو، ورو مړ شي بله لار نه وي، هم ستاسو لپاره هم د سپاهي لپاره"

ماما توميني ښايي د ميکا هيڅ خبره نه وي اورېدلې او يا يې هم ښايي سر نه وي په گرځولی، هغه همداسي په خبرو سر وه لکه په کوټه کي چي يوازي وي، هغه خپلو چورتونو دومره په مخه کړېوه چي د ميکا يوه خبره يې هم نه اورېده، بس گڼه وه لکه خپل ځان ته چي څه وايي.

"د توميني پلار هم يو سپاهي و"...

"و... څه مانا؟... اوس نشته؟" ميکا وپوښتل.

"هغه د زمري غوندي زړور و، په دې سيمه کي د هغه بل سيال نه و، په هغه شپو کي زموږ ژوند ډېر اسوده و" هغه نه يوازي زما سرې و بلکي د يو پلار غوندي مهربانه هم و... پر ما باندي... زما پر مور باندي... او موږ ټولو باندي... اوس مو ژوند ټول يوه پوښتنه گرځېدلی دی، د هر کوچني شي د تر لاسه کولو لپاره اړ يو چي پوره منډې ترړي ووهو، د هر شي لپاره اړ چي خپله وينه خرڅه کړو... بدن خرڅ کړو... ارمان چي د توميني پلار ژوندی وای.

د ماما توميني له سترگو څخه اوښکي را توی شوې خو بيرته يې ژر ځان په واك کي کړ.

"ولي... هغه مړ شوی دی؟"... د ميکا پوښتنه له تلوسې څخه ډکه وه، په لهجه کي يې خواخوږي وه، خو هغه د يوې غملړلي غم نشوای جبرانولای.

"زه نور نه غواړم د هغه په ا ړه خبري وکړم... د خدای لپاره ره نور د هغه په اړه کومه پوښتنه مه کوه "د هغې له سترگو څخه اوښکي پرلپسې رواني وې " هغه ( يوگانډا) ته تللی و، خدايزده په کورنۍ جگړه کي ووژل شو؟... که، تراوسه ژوندی دی؟... درك يې نشته... هيڅ درك يې نشته"

ميکا هيڅ ونه ويل، کوچنی هغه رنگه پروت و، مور يې خپل لاس باندي تپاوه... هغه ډوبه وه... چورتونو په مخه کړې وه... تر څو شيبو همداسي بې حسي ناستي وروسته هغه پورته شوه، د اوسپني کوچنۍ ډېوه يې مړه کړه او کوټه يوې ژوري تيارې او چوپتيا په غېږ کي واخيسته، ماما توميني خپل په تياره کي نغښتی بدن په چوپه، ذمه واري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کاروباري ديانت سره ميکا ته وړاندي کړ، ميکا د بري په احساساتو کي نغښتی هغې ته نژدې ورغی، خو په زړه کي هغه هم د ماما تومیني غوندي ناارامه او ناکراره و، کله چي هغه د خپلو جذباتو په گرداب کي ډوب و، نو هغه وخت هم ده ته د هغه کوچني د ساه ايستلو ږغ راتلی چي د ده خوا ته پر ټغر پروت و.

هغه ته معلومه نه وه چي کله د هغه سیلاب تم شو او کله ويده شو، خو چي کله راويښ شو نو هغه ډېر گنس و، لکه هغه چي په دې هم نه پوهېدی چي هغه چيري دی او په څه حال کي دی، تر څو چي پې د ماما توميني له لوڅ بدن سره لاس نه و لگېدلی هغه په همدې تذبذب کي و.

هغه له خپله ځايه پورته شو،کالي يې واغوستل، سگرېټ يې ولگاوه او د مياشو ږغ ته غوږ شو چي د پلیټې له سوځېدو ورسته په کوټه کي آزادي گرځېدې ، هغه په دې توره تياره کي يوه عجيبه ناکراري محسوسوله، يوه خبره په دې کوټه کي خامخا وه چي د هغه په زړه کي يې اضطراب پيداکړی و خو ناڅاپه هغه په دې رمز باندي پوه شو چي د هغه په زړه کي پيدا شوې ناکراري اصلا په کوټه له دې خورې چوپتیا نه سر چینه اخلي چي بر ايي ماښام هغه وخت نه وه کله چي هغه کوټې ته راننوتلی و.

د هغه ستونی وچ و او سر يې درد کاوه، هغه خپل سگرېټ مړکړ او چوپ د کوچني د بړستني خوا ته ورغی او په داسي حال کي چي يوه نابلده وېره يې احساسوله خپل تود لاس د کوچني پر تندي کښېښود، هغه ته داسي څرگنده شوه چي کوچنی مړ پړ پروت دی او د ساه ايستلو موسيقي يې له وخته خاموشه شوې ده، د هغه زړه و چي کوچنی وگوري خو هغه د ليتر د لگولو ننگه ونکړه، ښايي هغه نه غوښتل چي له هغه څه سره مخامخ شي چي د حقيقت څېره يې خپله کړې وه، هغه خپل لړزېدلي لاسونه د کوچني بدن ته ورنژدې کړل، د هغه څېره، بدن اوسترگي ټول ساړه پاړه وو.

ماما توميني پر بل لټ واوښته، له ځان سره وبونېده او بيرته په خوب کي ډوبه شوه، ميکا څو شيبې وچ ناست و خو کله چي ماماتوميني په خواږه خوب ويده شوه نو هغه بيرته پر خپل ځای کښېناست، له جېب څخه يې سگرېټ را وايست هغه يې ولگاوه او په ژورو چورتونو کي ډوب شو، څو شيبې هغه همداسي بې حسه ناست و، سگرېټ يې څکاوه، بيا يې خپلي پاته جامې راپورته کړې او چي چمتو شو نو د کوچني د بستر خوا ته يې وکتل چي د هغه د سگرېټ په رڼا کي ډېر تت ښکارېدی.

بيا هغه نا څاپه پرېکړه وکړه چي هغه بايد ژر تر ژره له دې کور څخه ووځي او هغه بايد د کوچني په تدفين کي شريك نه شي، د هغه شته والی ښايي د دې کور په گټه نه وي، نور د هغه په وړاندي کوم داسي ذهني خنډ نه و چي هغه نور ځنډ وکړي او دلته پاته شي، د هغه په ذهن کي پوښتنه پيدا شوه چي د هغه دغه پرېشاني له څه شي څخه ده؟ په کوچني يې د هغه څه؟ يا د هغه له مور سره د ده څه رشته شته، هغه دا ډول پوښتني له ذهن څخه وشنډلې او په اتو مات ډول يې لاس جېب ته لاړ، له شمېرولو پرته يې څو نوټونه پر مېز کښېښول او پر هغه يې ډېوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېښول، د هغه غوړونه پرلپسې د ماما تومیني خوا ته متوجه وو، په همدې شیبه کې د ماما تو میني ږغ را پورته شو.

"ته خو تلو ته تیار شوی یې"...

"هو"...

"دومره وختي ؟...

"هو، ته خو پوهېږې چې په دې شپو کې د ټرانسپورټ لوی مشکل شته او زه باید خامخا ځان ورسوم"

هر څه چې وو، هغه نن خامخا روانیدی او په هر ډول باید تر ماښام وړاندې "دارالسلام" ته رسېدلی وای، له تېرو دوو، ورځو څخه هغه په دې کلي کې بند پاته و، د پټرولو د نشتوالي له امله د ترانسپورټ ستونزه پیدا شوې وه، او ډېر سېلانیان او نور خلګ مجبوره شوي وو چې په دې کلي کې

پناه واخلي، تېره ورځ هغه د کوم موټر په لټه پسې په ټول کلي وګرځېد خو چې څه نشول ور پیدا نو هغه په همدې کلي کې د شپې د تېرولو پرېکړه وکړه او دا پرېکړه یې هم ورسره وکړه چې دا شپه په یوه رنګینه شپه بدله کړي، هغه په یو هوټل کې کوټه ونیول،سامان یې هلته کښېښود او د "وسکي" په لټه شو، همدا یو شی و چې د هغه شپې ته یې رنګ او خوند ورکولای شو، "بیر" د هغه د زړه شی و، هغه ټول کلی پسې چاڼ کړ خو پیدا یې نه کړ، که څه هم دوکاندار هغه ته ویلي وو چې "بیر" په یوه لارۍ موټر کې راروان دي، هغه پر یو پله ولاړه ده او ماښام ته رارسیږي خو میکا پوهېدی چې هغه درواغ وایي.

دا کلی له دوړو، بادونو، تنګو کوڅو او چټلیو پرته نور څه نه وو، هغه په دې ټولو کوڅو وګرځېد خو بخت یاري ورسره ونه کړه ځکه نو اړ شو چې په همدې کلیوالو شرابو خپل نس ډك کړي چې ورسته یې د هغه په رګونو کې روانه وینه ور ګرمه کړه، د دې شپې د لا رنګینولو لپاره هغه د شرابخانې یو داسي مېز د ناستې لپاره غوره کړ چې د هغه ډېر کسان سیمیز خلك وو، هغوئ د شپې له پخېدو سره ورو، ورو خپلو کورونو ته مخه کړه او هغه هم د یوه سیمیز کس په مرسته د ماما تومیني تر کور پورې ورسېد.

هغه د ماما تومیني کور ته کله ورسېد؟ او بیا سره له دې چې هغه په هوټل کې کوټه نیولې وه، د ماما

تومیني په کور کې ولې پاته شو؟ ایا هغه نه غوښتل چې یوازې شپه تېره کړي؟ او یا داچې ایا هغه یوازې د پیسو تاوان کړی و؟ کله چې هغه په دروازه کې ولاړ و نو دا رنګه ډېرې پوښتنې د هغه په ذهن کې ګرځېدې.

ماما تومیني هغه ته ویل:

"سمه ده، ته باید ژر ولاړ شې، خو ایا دومره هم نه شې کتلای چې زه یوه پیاله چای درته دم کړم ؟"...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې مهال يوه پیاله چای د هغه تر ټولو لویه غوښتنه وه، هغه چوپ و، ماما تومیني پورته شوه او چې کله تر ټولو مخکې خپل زوی ته ورورړاندې شوه نو میکا يو دم وویل:

نه... نه... ماما تومیني په هوټل کې هرڅه شته، زه هورې چای څښم، ته فکر مه کوه، زه باید ولاړ شم"

"چې څنګه ستا خوښه وي "

ماما تومیني وویل او مخ يې راواړوه هغه ته نژدې راغله او هغه ته يې مخه ښه وویل.

هغه له ماماتومیني څخه مننه وکړه او د يو نابلده جرم له احساس سره مل يې هغې ته وویل چې پیسې يې پر مېز پرتې دي، ماما تومیني هغه ته هيڅ ونه ويل، پیسې يې هم ونه شمېرلې چې پوره دي که نه، میکا دروازه خلاصه کړه او ژر دباندې ووت، د هغه قدمونه کمزوري او بې واکه وو، پر اسمان رڼا خوره شوې وه، او د ځینو کورنو له دودکشونو څخه لوګي هم پورته کېدل، چې د دې خبرې دلالت يې کاوه چې د دې کورنو خلك وختي پورته کیږي او له کورنو څخه د ډوډۍ د پخولو بوی د دې خبرې اعلان کاوه چې نوې ورځ پیل شوې، يوه داسې ورځ چې چې د ماما تومیني پر کور او د میکا پر زړه يې يو رنګه غم خپور کړی و.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلاص کړه!

## سعادت حسن منټو/پاکستان

(سپېشل) اورګاډی له امرتسر څخه د ماپښین پر دوو بجو روان شو او اته ساعته وروسته مغل پورې ته ورسېد، په لار کې څو کسه ووژل شول، یو شمېر ټپیان شول او نور دلته هلته تیت وپرك شول.

د سهار پر لسو بجو چې کله سراج الدین د کمپ پرسړه ځمکه سترګي رونې کړې او چارچاپېره یې د سړیو، ښځو او کوچنیانو یو څپاند سمندر ولید، نو د هغه د فکر او پوهې ځواك لا پسې کمزوری شو، هغه تر ډېره په خوپ اسمان کې سترګې ښخې کړې وې، سره له دې چې په کمپ کې هر لور ته زوږ جوږ و، خو سراج الدین بیا هم هیڅ نه اورېدل .

د هغه غوږونه لکه کاڼه چې وو، کوم چا چې به هغه ته کتل نو داسې فکر به یې کاوه، چې هغه په ژور فکر کې ډوب دی، لاکن داسې نه وه، په اصل کې د هغه هوښ او حواس شل شوي وو، هغه بېخي لکه په خلا کې چې ځګوړند و، له دې امله چې سراج الدین په وار_وار خوپ اسمان ته کتل، د هغه سترګې له لمر سره ونښتې، د لمر تېزې وړانګې د هغه د بدن په رګ_رګ ننوتې.

هغه را ویښ شو او پرله پسې څو تصویرونه یې پر دماغ را ښکاره شول، اور، لوټ، تالان . . .، منډې، ترړې . . . د اورګاډي تمځای . . . مرمۍ . . . شپه او سکینه . . . . سراج الدین یو دم پورته شو او د لېونیانو غوندې یې د چارچاپېرو انسانانو چاڼ پیل کړ.

پوره درې ساعته هغه د "سکینې_سکینې" نارې ووهلې او د پنډغالي"کمپ" ګوټ_ګوټ یې ولټاوه. خو هغه ته د خپلې یوازنۍ ځواني لور هیڅ درك ونه لګېد، چارچاپېره یو ګډوډی جوړ و، چا خپل زوی لټاوه، چا مور، چا ښځه او چا لور، سراج الدین چې کله ستړی ستومانه شو، نو یو څنګ ته کښېناست او پر خپلې حافظې یې زور واچاوه، فکر یې شروع کړ، چې سکینه له ده څخه کله او چیري جلا شوه، خو چې هر څومره سوچ به یې وکړ، دماغ به یې بېرته د سکینې د مور پر مړي تم شو.

هغه چې کولمې یې ټولې د باندې راوتلې وې، تر دې آخوا هغه نور هیڅ سوچ نشوای کولای.

د سکینې مور مړه شوې وه، هغې د سراج الدین د سترګو پر وړاندې سا ورکړې وه، خو سکینه چیرې وه، هغه چې په اړه یې مور د زکندن په وخت کې ویلي و:

"ما پرېږده، خو سکینه له دې ځایه بوزه او ژر له دې ځایه وتښتئ"!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکینه له ده سره وه، دواړو لوځي پښې منډې وهلې، د سکینې پوړنی ولوېد، ده غوښتل چې هغه راپورته کړي، خو سکینې چیغه ورباندې کړې وه:

"پلار جانه!. . . پرېږده یې "

هغه بیا هم پوړنی راپورته کړی و . . . له دې فکر سره د هغه خپل پرسېدلې جېب ته پام شو او په هغه یې لاس ننه ایست، یو ټوکر یې راو ایست . . . دا هغه د سکینې پوړنی و . . . لاکن سکینه چیرې وه؟ سراج الدین پر خپل ستومانه دماغ زور راوړ، خو کومې نتیجې ته ونه رسېد، آیا سکینه له هغه سره تر تمځای پورې ورسره وه؟ . . . آیا هغه له ده سره په اورګاډې کې سپره شوې وه؟ . . . کله چې په لار کې اورګاډی ودرول شو او بلوایان راننوتل، نو آیا هغه بې سده شوې وه، چې هغوی دې سکینه تښتولې وي؟

د سراج الدین په دماغ کې بې شمېره پوښتنې وې، خو ځواب یې هیڅ نه و، هغه خواخوږی ته اړتیا لرله، خو له بده مرغه چې چارچاپېره چې څومره انسانان وو، هغوی ټولو خواخوږی ته اړتیا لرله.

د سراج الدین زړه و چې وژاړي، خو سترګو یې ملګري نه ورسره کوله. خدای خبر اوښکې چیرې غیبې شوې وې.

شپږ ورځې وروسته چې د سراج الدین هوش او حواس څه پر ځای شول، نو هغه له هغو خلګو سره ولیدل، چې د هغه مرستې ته تیار وو، هغوی اته کسه ځوانان وو، لارۍ یې لرله او ټوپکونه ورسره وو، سراج الدین هغوی ته په لکونو دعاوې وکړې او د سکینې بڼه یې ور وښوده چې:

"په رنګ سپینه ده او ډېره ښکلې ده . . . تور ویښتان او پر ښی باړخو یو خال لري . . . زما یوازنۍ لور ده، را پیدا یې کړئ، خدای به خیر درکړي"

دا وطلبو ځوانانو په خورا خواخوږی سره سپین ږیري سراج الدین ته باور ورکړ، چې که چیرې د هغه لور ژوندۍ وه، نو یوازې څو ورځې وروسته به له هغه سره وي.

اتو سرو ځوانانو هڅه وکړه، د سرونو په لوبه یې ځانونه "امرتسر" ته ورسول، څو ښځې، څو سړي او څو کوچنیان یې را وایستل او خوندي ځایونو ته یې ورسول، لس ورځې تېرې شوې، خو هغوی سکینه پیدا نه کړه.

یوه ورځ هغوی د همدې خدمت لپاره په لارۍ کې امرتسر ته روان وو، چې پر سړک باندې هغوی یوه نجلۍ ولیده، د لارۍ د ږغ په اورېدو هغې ټکان وخوړ او منډې یې کړې، داوطلبانو موټر ودراوه او ټولو په هغې پسې منډې کړې، په یوه کرونده کې هغوی هغه ونیوه، چې ویې لیده، نو ډېره ښکلې وه، پر ښی باړخو یې یو خال هم و، یوه هلك هغې ته وویل:

"وېرېږه مه . . . آیا ستا نوم سکینه دی؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجلۍ رنگ نور هم ژړ شو، هغې هيڅ ونه ويل، خو چې کله ټولو هلکانو هغې ته ډاډګېرنه ورکړه، نو د هغې وېره هم ليري شوه او دا يې ومنله چې هغه د سراج الدين لور سکينه ده .

اتو داوطلبو ځوانانو له هر لوري سکينه خوښه وساتله، هغې ته يې ډوډۍ ورکړه، شيدې يې ورباندي وڅښلې او په لارۍ کي يې سپره کړه، يوه خپل کوټ وکيښ هغې ته يې ورکړ، ځکه چې د پوړني د نشتوالي له امله هغې ډېره بې کراري محسوسوله او په وار_وار يې په لاسونو د خپلي سينې د پټولو ناکامه هڅه کوله.

څو ورځې تېري شوې . . . خو سراج الدين د سکينې له هيڅ حاله خبر نه شو، هغه کرۍ ورځ په بېلابېلو کمپونو او دفترونو وتی ننوتی. خو له هيڅ ځايه يې هم د خپلي لور درك معلوم نه کړ، د شپې هغه تر ډېره د هغو داوطلبو ځوانانو د برياليتوب لپاره دعاوي کولې، چا چې هغه ته دا باور ورکړی و چې که سکينه ژوندۍ وه، نو يوازي د څو ورځو په دننه کي به هغوی هغه مخامخا پيدا کوي.

يوه ورځ سراج الدين په کمپ کي هغه داوطلبه ځوانان وليدل، هغوی په لارۍ کي ناست وو، سراج الدين په تراټ هغوی ته ځان ور ورساوه، لارۍ د روانېدو په حال کي وه، چې هغه ورڅخه وپوښتل:

"زويه! زما د سکينې درك ونه لګېد؟"

ټولو په يوه خوله ورته وويل:

"وبه لګيږي_وبه لګيږي" او لارۍ يې روانه کړه.

سراج الدين يو ځل بيا د هغو ځوانانو د برياليتوب لپاره دعا وکړه او زړه يې يو څه سپك شو، ماښام مهال سراج الدين په کمپ کي ناست و، چي يو پس پسی يې تر غوږ شو. څلورو خلګو يو شی را اخيستی و او د ده لور ته را روان وو؛ ده چي پوښتنه وکړه، نو ور معلومه شوه چي د اورګاډي له پټلۍ سره يوه نجلۍ بې سده پرته وه، خلګو هغه را پورته کړې ده، سراج الدين د هغوی له شا پسې ورغلی، خلګو نجلۍ د روغتون مسوولينو ته وسپارله او لاړل.

څو شېبې هغه همداسي له روغتون څخه د باندي له يوې خادې سره ولاړ و، بيا ورو_ورو د ننه ورغی، په کوټه کي هيڅوك نه و، يوازي يوه دستګيره پرته او پر هغې يو مړی .

سراج الدين ورو_ورو ګامونه پورته کړل او هغې خواته ورغی، په کوټه کي ناڅاپه رڼا شوه، سراج الدين د مړي پر ژړ مخ ځلېدونکی خال وليد او چيغه يې کړه:

"سکينه"!

هغه ډاکټر چي کوټه يې رڼا کړې وه، له سراج الدين څخه وپوښتل:

"څه کيسه ده؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سراج الدين له ستوني يوازي همدومره راووتل:

"صاحب زه . . . صاحب زه . . . د دې پلار يم"!

ډاکټر پر دستګيرۍ پراته کس ته وکتل، د هغه نبض يې وکوت او سراج الدين ته يې وويل:

"کلکين خلاص کړه"!

د سکينې په مړ بدن کې حرکت پيدا شو، په ناتوانو لاسو يې پرتوګاښ خلاص کړ او پرتوګ يې وښويوه، سپين ږيري سراج الدين له خوښۍ څخه چيغې کړې، ژوندۍ ده . . . زما لور ژوندۍ ده . . . ډاکټر سر تر نوکه په خولو کې ډوب شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هیلو ونه

## رچرډ پنډېل

هغه د جامو بسته یوې خوا ته کښېښوه او پر خپله کتابچه یې لیك لیکل پیل کړل.

ګراني مور !

کله چې دا لیك ستا لاس ته درشي، نو ښایي ته ډېګره پرېشانه شې، پلار جان به په کور کې لالهانده ګرځي، تاسو به په دې بدګمانه شوي یاست، چې ما درسته شپه له خپلو ملګرو سره په ایله دنګۍ تېره کړې ده او پلار جان به فکرکوي، چې زه د کومي نجلۍ ملۍ په چکر کې یم، ځکه نو درسته شپه کور ته نه درغلم، خو خبره بېخي ساده او سپینه ده، ګراني مور !

زه له کوره روان یم، نن سبا زمارنګه اتلس کلن هلکان اکثر له کوره تښتي، لاکن په ما او هغوکي یو توپیر شته، هغه دا چې زه نه له کومي وېري تښتم او نه هم د کوم شي د پور ته کولو لپاره تښتم، بلکي په خپله خوښه کور پرېږدم.

هسي هم زه یوه ورځ خامخا له کوره تلم، کله ناکله خو دا ماته د یو فرض غوندي ښکارېدل، چې سترګي پرې پټول او له لاپامه اچول یې زما لپاره نا شونی و، کله ناکله دا یوه اړتیا وي چې سړی باید له کوره لاړ شي، د دې لپاره چې څوك وپوهیږي چې د باندي نړۍ څرنګه ده؟ او له کوره بهر ژوند تېرول څنګه خوندکوي؟ بل دا چې په د باندي ژوند تېرولوکي څومره خوند او څومره غم دی.

تا او پلار جان غوښتل چې دا هر څه ماته د زدکړې له لاري راوښووئ او غوښتل مو چې دغه ټولي تجربې د اسنادو او ازموینو له لاري راباندي وکړئ، خو ګراني مور !

زما په فکر سړی ژوند داسي نشي زده کولای.

زه په دې پوهېږم چې زه دا ګام په تیاره کې پورته کوم، نه پوهېږم چې دا ګام یا له دې وروسته ګام به ما کوم لور ته بوځي؟ خو یو وخت نه یو وخت به زه خامخا وغواړم، چې کور ته درشم، خو په دې شرط چې پلار جان اجازه راکړي (او زه پوهېږم چې پلار جان به هیڅکله اجازه رانه کړي). د پلار جان په خوی زه ښه پوهېږم، ځکه نو هر ډول خوشبینی ته زړه ښه کول بې مانا دي، زما یاد دي، چې یو ځلي هغه راته ویلي و:

"که کوم وخت دي له کوره د تښتېدلو هڅه وکړه، نو د بېرته راتلو خیال له زړه څخه وباسه"!

زه افسوس کوم، چې ته به ونه کولای شې، چې له ما سره د لیك له لاري تماس ټینګ کړې، ولي چې زه خپله نه پوهېږم، چې زه به چیرته یم؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته شپږ میاشتي وروسته زه د خپل کور له مخي تېرېږم، که چیري پلار جان په یو ډول زما بېرته منلو او دوباره ښه راغلاست ویلو ته چمتو شو، نو ورته ووایه چي د منې پر هغه ونه یو سپین ټوکر وتړي، پر هغه ونه چي د انګړ په وروستۍ برخه کي د اورګاډي له پټلۍ سره نژدې ولاړه ده، زه په اورګاډي کي راځم، که چیري ما د منې پر ونه کوم سپین ټوکر ونه لیدی، نو زه به چوپ د کومي خواشینۍ پرته وړاندي تېرشم، د هغه ځای او هغه لور په خوا چي بخت مي بیایي.

د خپلي ګراني مور جاني زوی!

"ډېویډ"

هغه چي پاکټ بند کړ، نو تر سړك واوښت او لیك یې په پوستي صندوق کي واچاوه، دا هغه سړك و، چي له ښاره د باندي وتلی و، موټرونه پرله پسې تېریدل، هغه هڅه کوله چي کوم موټر تم کړي، خو شپږو موټرونو د هغه اشاره له پامه وغورځوله اووم چي یو کارموټر یو څو ګامه وړاندي ودرېد، ډېویډ د موټر خوا ته ورغی:

"په کومه روان یې؟"

موټرچلونکي چي یو زوړ سړی و، په موسکا ورځخه وپوښتل:

"ته. . . ته کوم لورته روان یې؟"

ډیویډ خپله بسته راپورته کړه:

"بالټي مور"!

ډیویډ په ډاډ ور پرانیست او په موټر کي کښېناست.

"زه هم بالټي مورته روان یم"!

موټر رهي شو، ډیویډ ورتاو شو، خپله بسته یي د شا په څوکۍ کي کښېښوه.

او بیا مخامخ د سړك په ننداره شو، سړك تر لیري د کوم لړزېدلي مار غوندي ښکارېدی.

"زمانوم جېم دی"!

موټرچلونکي د انډیوالۍ په دود ورته ووېل:

"په میري لیند کي مي د وارداتو او صادراتو کاروبار دی"!

زمانوم ډیوډ"!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځوانۍ کې چې به کله زه له يوه ښاره بل ښار ته تلم، نو ما به هم همداسي موټرونه درول، جېم په داسي حال کې چې په سړك کې يې سترګي ښخي کړي وې، په موسکا وويل:

"زه پوهېږم چې ځواني څه واي؟"

د يوې شېبې لپاره ډېوېډ داسي وانګېرله چې دا نابلده سړی د هغه له رازه خبر دی او په دې پوهېږي چې هغه له کوره تښتي، خو جېم له هغه څخه وپوښتل :

وکور ته روان يې؟

"هو "!

ډېوېډ موسکی شو.

"کور ته د تللو خيال هم څومره خوندور وي"!

جېم خپه غوندي وويل:

"شل دېرش کاله مخکي زه هم له کوره وتلی وم او داسي وتلی وم، لکه بې پروا او لېوني هلکان چي وځي، يوازي د دې لپاره چي نوي تجربې ترلاسه کړي، د دې لپاره چي په نړۍ اونړيوالو وپوهېږي".

هغه ږغېدی، ږغېدی، بيا يو دم چوپ شو.

"نوبيا؟" يوه شېبه وروسته ډېوېډ وپوښتل.

"بيا زه هيڅکله ونه توانېدم چي بېرته خپل کور ته لاړشم."جېم وويل "زما هيڅ کور پاته نشو، ځکه زما مور او پلار په يوه پېښه کي مړه شول، نور نو زه اړ وم، چي د دې پر ځای چي کور ته بېرته لاړشم، خپل سفر ته دوام ورکړم.

"وړاندي نور وړاندي، نور وړاندي . . . ." دواړه چوپ شول.

"ته بېغمه ويده شه" ښه وروسته جېم په مينه هغه ته وويل:

"سفراوږد دی". ډېوېډ د لمر سترګي ته وکتل چي ليري د لوېدو په حال کي وه، بيا يې سر له څوکۍ سره ولګاوه او سترګي يې پټي کړې.

* * * *

څېرې، په سلګونو او په زرګونو څېرې، ډېوېډ په يوازي څو مياشتوکي ډول، ډول څيرې وليدې، له رنګ_رنګ پيښنو سګره مخ شو، پېښې يو په بل پسې څرګندېدې او ورکېدې، له چا سګره چې به لږ و ډېر بلدېدی، هغوی به هم د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت له تېرېدو سره ورکېدل، بدخویه موټرچلوونکي، غوړماله او چالاکه پلورونکي، خواخوږي پولیس، د بدمستو شرابي ښځو ټولۍ، کوچنیان او سپین ږیري د ځېرو یو هجوم و، چي ډیویډ په تېلو ټمبو وهلوسره لار پکي موندله او وړاندي تلی، نړۍ د یوه غوړېدلي تږغ غوندي د هغه په وړاندي وه، نور نو هغه د نړۍ له چلبازیو سره تر ډېره پوهېدلی و، هغه د هر خوی خلك یي لیدلي وو او ډول ــ ډول خواري یې کښلي وې، شپې او ورځې پرله پسي تېرېدلې.

یوه شپه چي هغه د لرگي پر "پوزي" پروت و، نو په خیال کي یې د جېم خبري په عوږونو کي انگازه شوې، د شپې په ژوره چوپتیا کي هغه دا خبري خپل زړه ته له نژدې حس کړې:

"پوه شوې ډیویډه "!

جېم له پیکه موسکا سره وویل:

"بیا زه هیڅکله ونه توانېدم، چي بېرته خپل کور ته لاړشم، زما

هیڅ کور پاته نشو، نور نو زه اړ وم، چي د دې پر ځای چي کور ته بېرته بېرته لاړ شم، خپل سفر ته دوام ورکړ م، وړاندي، نور وړاندي". . . .

* * * *

د اورگاډي له ښیښو څخه مالومېدونکي منظرې یو په بل پسې شاته په منډه وې.

پنځه میاشتي! ډیویډ په داسي حال کي چي د باندي یې کتل، له ځان سره سوچ وکړ، بلکي پنځه نیمي میاشتي! نه پوهېږم چي مور جانه به څنگه وي؟ او پلار جان به څومره بوخت وي؟ لږ وروسته هغه له همدې کړکۍ څخه د خپل کور د لیدلو په حال کي و، دوه انځورونه په وار ــ وار د هغه په خیال کي ورتلل، لومړی انځور د منې د هغې ونې و، چي سپین ټوکر پرې تړلو او په دویم انځورکي هغه ونه وه، چي هیڅ پرې نه و، نه سپین ټوکر نه کوم بل رنگ، هغه په وار ــ وار دا هڅه وکړه چي دا خیال له زړه څخه وباسي، خو بریالی نشو.

هغه ته داسي ځرگنده شوه، چي څنگه یې کور رانژدې کیږي، ستونی یې هم سم ورسره وچیږي، که پر ونه هیڅ نه و، نو بیا؟ اوکه ښه راغلی ورته ونه وایي، نو دی به له خپل هوډ او ژمني سره سم چوپ وړاندي تېریږي او اړ دی چي بېرته د زرگونو او لکونو انسانانو په نړۍ کي ورك شي.

اورگاډی همداسي په سگرعت روان و، د ډیوېډ دوبکور وار په وار، را نژدې کیدی، د اوسپنې پر پټلۍ ځرخېدونکو آرابو د برېښنا په سرعت سره مزی پرې کاوه او د پرېکړي گړی په رارسېدو و.

له کور څخه د نژدې نیم میل په واټن کي ډېویډ پوه شو، چي نور په هغه کي د دې توان پاته نه دی، چي بهر وگوري، یوه وېره دکوم سیوري غوندي هر لور ته وغوړېده، ډول ــ ډول اندېښنو پر هغه خپل حصار راتنگاوه، څه به کیږي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د باندي هيڅ نه وي، نو څه به کيږي؟ د هغه همت پای ته رسېدلی و او په دې باوري شوی و، چې هغه په خپلو سترګو د دې منظرې د ليدلو زغم نه لري، هغه وېره لرله، چې د منې پر هغه بلده ونه به سپين ټوکر نه وي، بلکي د هغې وني پرځای به کومه نابلده او بې خونده ونه ولاړه وي، لکه د ښارونو د سړکو نو پر غاړو چې ولاړې وي، په هغوی کي د منې بوی نه وي، د هغوی په سيوري کي بلنه نه وي، "نه" د هغه زړه و، چې په چيغه ووايي :

"زه بهر نشم کتلای"!

هغه په نهيلۍ ايخوا دېخوا وکتل او بيا يې مخ ته ناست يوه مسافر ته وويل:

"آيا زما يو کوچنی کار به را ونه کړې؟ لږ وروسته د اورګاډي پټلۍ ته څېرمه د منې يوه ونه راښکارېږي، هغې ته به په غور وګورې او راته وبه وايې چې پر هغې کوم سپين ټوکر تړلی دی، که نه؟"

ډېويډ چوپ ناست و او وړاندي يې کتل، د هغه زړه په کوم وېروونکي ټال سره درزېدی او خوله يې له ټول بدن څخه د اوبو غوندي روانه وه، چې په دې کي اورګاډی له وني څخه تېرشو. "څنګه . . . څه و؟" ډېويډ په لړزېدلي ږغ له مسافر څخه وپوښتل "اوه، زما خدايه!" مسافر په داسي حال کي چې بهر يې کتل، په حيرانتيا وويل:

"د هغې وني خو پر هر ښاخ يو_يو ټوکر تړلی و، درسته ونه په ټوکرانو سپينه_سپينه وه"!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دام

## ازابيل آينديې/چيلي

## (ازابيل آينديې)

هغه يو شاړ پاړ او ښکلى ځوان و، د هغه هم په څېره کي دوې سترګي او په سينه کي يو زړه خو له بده مرغه هغه اړ و چي له ښځمنو څخه ليري واوسي، د نړۍ تر ټولو لوی او خوږ نعمت پر هغه حرام و، لکه د پتنګ لپاره چي شمع او د بورا لپاره چي ګل منع وي، ښايي دا د هغه ازلي محرومي وه ځکه په کومه ورځ چي هغه زېږېدلی و نو د کلي يوې فالبيني دا وړاندوينه کړې وه چي د دې کوچني مرګ به د يوې ښځې له لاسه واقع کيږي.

د هغه نوم "نکولس ودال" و.

ودال چي څنګه په ښه او بد پوه شو نو دا وړاندوينه يې واورېده، هغه ډېر ووېريد او په سختو ناروغيو اخته شو.

له کلي څخه ليري په يوه بانډه کي د هيواد تر ټولو نامتو فالبينه اوسېده، ودال د خپل برخليك معلومولو لپاره دا اوږد سفر پرې کړ او ځان يې تر هغې پوري ور ورساوه، فالبيني د ودال لاس په ډېر غور وکوت او په څرګند ډول يې د دې خبري تايد وکړ چي ستا مرګ به د يوې ښځې له لاسه واقع کيږي.

له دې ورسته ودال خپل ځان د تقدير په وړاندي بې وسه وښود، هغه تر خپلو ټولو هيلو او ارمانونو تېر شو او د ښځې له ذات څخه يې د ابد لپاره ځان ګوښه کړ، هغه په دې اړه خورا ډېر محتاط پاته شو، په پيل کي د هغه لپاره دا کار خامخا ستونزمن و خو ورسته ورو، ورو د هغه زړه د کاڼي غوندي کلك شو، هغه ته د مينې او قربت اړتيا پاته نشوه.

دې خبري هغه د عادي ژوند تېرولو له وړتيا څخه وايست، هغه بل مخ خپل کړ، ډاکو جوړ شو او غلاوي يې پيل کړې.

په هغه بانډه کي "هډانګو" نومی يو قاضي هم اوسېدی، هغه ته يې پر قضايي واك سربېره د بانډې امنيتي مسوليت هم ور سپارلی و.

که څه هم هډانګو واده د ځوانۍ تر پسرلي ورسته کړی و خو مېرمن هغه ته ښه ور په برخه شوه، د هغې نوم "کاسلا" و، هغه يوه ښکلې، مينه ناکه او ځيرکه ښځه وه.

د قاضي هډانګو د انصاف او سخت دريځۍ هيبت يوازي پر بانډه نه بلکي پر ټوله سيمه پروت و، هغه د چرګي غوندي کوچنۍ غلا هم د قتل غوندي لوی جرم باله، هغه د خپلو تورو جامو له امله خلکو ته د مرګ پرښته ښکارېده، ټولو له هغه څخه وېره لرله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قاضي د ګډ ژوند په دریو کلونو کې د هغه ښځه کاسلا درې ځله امیدواره شوې وه، سره له دې چې هغه یوه نرمه او نازکه ښځه وه خو د زېږدون له مرګوني ګذار څخه بچ پاته شوې وه.

د قاضي او کاسلا تر مینځ یوه حیرانونکې هماهنګي موجوده وه، دې خبرې د قاضي هډانګو پر خوی ډېر مثبت اغېز کړی و، د هغه غوسه په خندا اوښتې وه او په خلکو کې دا خبره مشهوره شوې وه چې هډانګو پخوا پولاد و خو اوس موم شوی دی، او د هغه دا اوښتون د هغه د ښځې کاسلا له امله شوی دی، خلکو د هغه په اړه دا هم ویل چې قاضي هډانګو د ځینو قضیو د پرېکړو په اړه لا هم له خپلې ښځې څخه مشورې اخلي.

خو د قاضي هډانګو دا ښکاره نرمښت په هیڅ ډول د ودال لپاره د خوښۍ لامل کېدای نشوای ځکه قاضي هډانګو اوس هم د هغه په اړه د پخوا غوندې کلك دریځ لاره، د دې غله لپاره د هغه په زړه کې د نرمۍ هیڅ ځای نه و ځکه د قاضي لپاره دا د ډېر شرم ځای و چې د هغه د کلي سړی دې په سیمه کې غلاوې کوي خو د قانون منګولو ته دې نه ورځي، ودال د قاضي د بدنامۍ سوب ګرځېدلی و.

ودال درېش کاله وړاندې د "جواناترستي" نومي ښځې په کور کې زېږېدلی و، د هغه پلار نا معلومه و، مور هم هغه ته هیڅکله ویلي نه و چې هغه د چا زوی دی خو یو وار په نا پامۍ کې هغې لږ تر لږه دومره ورته ویلي و چې د هغه په زېږېدو کې د هغې هیڅ خوښه او دلچسپي نه وه بلکې د حمل په وخت کې لا هغې وغوښتل چې اولاد یې ونشي، هغې د اسقاط لپاره ډېرې دواوې وخوړلې، ډېرې لارې یې عملي کړې خو د ودال د راتلو مخه یې ډب نه کړه، له زېږېدو ورسته هم هغه ډېر سخت زړی ختلی و، هر ډول کړاونه یې په بې پروایۍ زغملي وو، د یو داسې هلك بې لارې کېدل خو د حیرانۍ خبره نه ده چې د مینې له سورې څخه بې برخې وي.

هغه کور نه درلود او پر دې سربېره هغه بدمرغه د ښځې له مینې څخه هم بې برخې و او د دې محرومۍ پړه هم پخپله د هغه په غاړه و ځکه هغه په خپل ذهن کې د فالبیني منحوسې وړاندوینې ته ځای ورکړی و، پر دې سربېره هغه ځنګه کولای شو چې ښځې یاني خپل مرګ ته نژدې شوی وای، په لس کلنۍ کې ودال تر ځان لوی، لوی هلکان وهلي وو، د هر روزه شخړو او جګړو له امله د هغه پر څېره د چاقوګانو نښې جوړې شوې وې، په شل کلنۍ کې هغه پټ او فراري ژوند پیل کړ او د هغه رنګه نهیلو ځوانانو یوه منظمه ډله یې جوړه کړه، بس بیا نو څه و؟ هر ځای بیلابیلې غلاوې پیل شوې .

چې د هغه بدنامي بیخي ډېره شوه نو د بانډې د هر جرم پړه پر هغه اچول کېده، پر هغه، هغه پیښې هم وتړل شوې چې هغه نه وې کړې، هر لور ته د هغه د نامه هیبت خپور شو، د سیمې شتمنو خلکو د دې لپاره چې هغه له خپلو کورنو څخه لیرې لرې هغه ته باجونه ور شروع کړل .

قاضي هډانګو هم سم په هغه پسې سترګه وړه، د هغه د نیولو هره لار یې په کار واچول، د بانډې ټول مامورین یې په دې کار پسې وګومارل خو ودال هم دومره ساده نه و، قاضي ته له نهیلۍ او قهر پرته هیڅ په لاس ورنه غله، قاضي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ستومانه کېدو ورسته له مرکزي حکومت څخه د ودال او د هغه د ملگرو د نیولو لپاره د فوځ د رالېږلو غوښتنه وکړه، فوځیان راغلل، ډېر ځایونه یې حملې وکړې، دوامداره کلابندۍ یې وکړې خو ناکامه شول .

کله چې قاضي ډېر په عذاب شو نو د ودال د نیولو لپاره یې یو بل دام کښېښود، هغه د ودال سپین سرې مور "جوانا" ونیوه او په یو لوی قفس کې یې بندي کړه، قفس یې د خپل دفتر مخ ته پر لویه لار کښېښود، هغه فکر کاوه چې ودال به د خپلې مور پر تکلیف او بې عزتۍ باندې بې تابه خپله په اومړي تار بند راشي، د قاضي په امر په قفس کې بندي سپین سرې وږې تږې وساتل شوه، هغې ته یې د خوړلو او څښلو لپاره هیڅ ور نه کړل، قاضي پوهېدی چې په دې کار سره هغه د انصاف په نامه خپله یو ډېر لوی جرم کوي خو د هغه په پوهه د ودال د نیولو بله لار هم نه وه پاته.

که څه هم د ودال له خپلې مور څخه د جلا کېدو ډېر وخت شوی و او هغه له خپلې مور سره داسې خاصه مینه هم نه درلوده خو اوس تر میني ډېر د ناموس خبره وه، د هغه ملگرو فکر کاوه چې د هغوئ مشر به د قاضي د دې بد چلند زغم ونه لري، هغوئ د احتمالي چگړې لپاره د وسلو په چمتو کولو پیل وکړ خو ودال د قهر پر ځای له زغم څخه کار واخیست او د دې اعلان په کولو سره یې هغوئ ټول حیران کړل چې مورې به هیڅ ځوابي حمله نه کوو.

د وخت په تېرېدو سره د ودال په ډله کې بې تابي ډېرېدله خو ودال هره شپه په بې غمه زړه خپل خوب کاوه، د هغه ملگرو فکر کاوه چې هغه د یوې شې لار په لټه کې دی، د هغوئ ذهن ته دا هم ورتلل چې امکان لري ودال وېرېدلی وي خو دا امکان هغوئ پخپله بېرته رداوه ځکه ودال په وار، وار حیرانونکې زړورتیا ښودلې وه.

په یوه مناسب وخت کې د هغه ملگرو په وېره له هغه څخه وپوښتل:

"سالاره! څه امر دې دی؟"

ودال په ډېر داډ ځواب ورکړ:

"هیڅ نه"

"هغوئ ستا مور بندي کړې ده "!

"بندي کړې دې دې گورو به چې څوك ډېر زغم لري، زه که قاضي؟"

له درو ورځو بند ورسته په جوانا کې دومره سېك پاته نشو چې په ژړا، ژړا ډوډۍ او اوبه وغواړي، د هغې ستونی وچ شوی و، شونډانو یې پترې نیولې وو او ژبه یې د څرمن غوندې کلکه شوې وه، پر قفس باندې څلور کسه وسله وال د دې لپاره گومارل شوي وو چې د بانډې له خلکو څخه څوك جوانا ته اوبه یا ډوډۍ ور نه کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بانډه کي بې کراري ډېره شوه او د قاضي پر خلاف مظاهرې پيل شوې، حکومتي مامورينو هم د دې ظلم پر خلاف اعتصاب وکړ خو قاضي بيا هم سر نه گرځاوه، د بانډې تر ټولو لوی پادري هغه ته د حضرت عيسی(ع) واسطه ور کړه خو پر قاضي يې بيا هم هيڅ اثر ونه کړ، هغه باور درلود چي د ودال زغم به اخير پای ته ورسيږي او ژر به د خپلي مور ژغورولو ته راشي او و به نيول شي .

د بانډې خلك چي له قاضي څخه نااميده شول نو د هغه ښځي کاسلا ته ور غلل، قاضي له درو شپو څخه کور ته نه و راغلی ځکه هغه په دفتر کي خپله دنده سرته رسوله او د ودال په تمه و، که څه هم کاسلا له دې دريو ورځو څخه له کوره نه وه وتلې خو بيا هم هغه له هر څه څخه خبره وه .

کاسلا چي د مظاهرينو غوښتني واورېدې نو خپل کوچنيان يې پاك کړل او له هغوئ سره يو ځای د بندي پر خوا ور رهي شول، د هغې په يوه لاس کي د گلانو ټوکری او په بل لاس کي د اوبو جيك و، پيره دارانو چي هغه وليده نو پوه شوه چي هغه څه غواړي خو قاضي هغوئ ته په کلکه ويلي و چي قفس ته څوك نژدې پرېنږدي، هغوئ چي د کاسلا مخنيوی وکړ نو کاسلا ټينگار وکړ او کوچنيانو يې هم په ژړا د هغې څنگ ونيو.

قاضي د مدام غوندي په دفتر کي ناست و، که له هغه سره د ودال د ّاسونو د ترپې تمه نه وای نو هغه به خپل غوږونه له مومو ډك کړي وای ځکه هغه له دريو ورځو څخه پرلپسې د جوانا ساندي او د مظاهرينو چيغي او ښېراوي اورېدې خو سر يې نه خلاصوه ّاخير هغه و چي د خپلو کوچنيانو ژړاوي يې واورېدې او زغم يې ځواب ور کړ، هغه له دفتر څخه دباندي راووت، ږيره يې لويه شوې وه، هغه د خپلي ښځي سترگو ته ځير شو، د هغې چوپتيا هغه ته ډېر څه ويل، کاسلا هغه ته هيڅ کله دومره په قهر نه و کتلي او بيا د ټولي بانډې په مخ کي! قاضي د مات شوي غوندي له خپلي ښځي څخه د گلانو ټوکری او د اوبو جيك واخيست، د قفس ور يې پرانيست او هغه ټول شيان يې پخپله جوانا ته وروړل چي پر هغې بند وو او هغه يې خوشي کړل.

ودال ته چي دا خبر ورسېد نو هغه په نڅا شو او خپلو ملگرو ته يې وويل:

"ومولیدل، ما تاسو ته ويلي و چي قاضي به ماته خوري، په هغه کي دومره زغم نشته لکه په ما کي چي شته"

خو په دا دويمه ورځ دستي د هغه خوښي په اوبو لاهو شوه ځکه هغه خبر شو چي د هغه سپين سري مور په خپل کور کي ځان پر بادپکه راځړولی او ځانوژنه يې کړې ده ځکه د هغه مور نو دا بې عزتي او بې پروايي نشوای زغملای چي خپل يوازيني زوی هغه په قفس کي بنده پرېښوده خو د بانډې نورو ټولو خلکو د هغې د خلاصون لپاره چيغي وهلې، ودال د مور د ځانوژني د خبر په اورېدو له قهره تك سور شو او په هيبتناکه لهجه يې وويل: "د قاضي شپې لنډې شوي دي"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له قاضي څخه د بدل اخيستلو لپاره تياری پيل کړ، هغه سوچ وکړ چي قاضي به نيسي او په هغه قفس کي به يې اچوي چي د ده مور يې په کي اچولې وه.

يوه ورځ هغه ته ناڅاپه خبر راغی چي قاضي د سيل لپاره له خپلو کوچنيانو سره د سمندر غاړي ته روان شوی دی.

قاضي هډانګو د سمندر په لور روان و چي په يو ځای کي خپلو مخبرينو خبر ورکړ چي ودال له هغه څخه د بدل اخيستلو لپاره راوتلی دی، په هغه ځای کي له قاضي سره دومره جنګيالي نه وو چي له ودال سره جنګېدلی وای خو د هغه موټر ډېر تېز و، هغه کولای شول چي د ودال له راتلو وړاندي تر هغه بلي باندې ځان ورسوي او ښايي داسي شوي هم وای خو په خواشينۍ سره چي د قاضي ورځي پوره شوي وې، قاضي د خپلي دندي له امله شپه او ورځ په ويښه تېرولې، د مظاهرينو د چيغو او نارو، د مامورينو اعتصاب او د جوانا د ځان وژني له امله د هغه اعصابو ځواب ور کړی و، د موټروانۍ په وخت د هغه پر زړه يوه سخته حمله راغله او هغه په هغه لار کي مړ شو.

موټر وړاندي ولاړ له سړك څخه واوښت او په يو ډب کي ولوېد، د قاضي ښځي کاسلا حواس له لاسه ورکړل، اول خو بيخي په هڅ پوه نشوه خو ډېر ژر بيرته حالت ورته څرګند شو، داچي سړی يې له هغې څخه ډېر زړور و نو هغې به هر وخت دا انديښنه لرله چي هسي نه ډېر ژر کونډه شي خو د هغې دا ګومان لا نه و چي دا پېښه به داسي ناڅاپه رامنځ ته شي.

داچي له يوه لوري ودال په پسې و او له بل لوري يې موټر له کاره لوېدلی و نو هغه ډېره په فکر کي وه ، هغې خپل کوچنيان بايد د ودال له قهره او غضب څخه ژغورلي وای، که څه هم قاضي له هغه ځايه له روانېدو مخکي د مرستي لپاره خبر استولی و خو نور مرستي ته د تمي وخت پاته نه و، کاسلا هوډ وکړ چي هر څنګه شوني وي هغه بايد خپل کوچنيان وژغوري.

هغه له موټر څخه را تا شوه او بيا په داسي حال کي چي دوه کوچنيان يې په غېږ کي او يوه منډې پسې وهلې د نژدې غره په لور پورته شوه هغې کوچنيان د غره په يو غار کي پټ کړل او شاوخوا يې وکتل چي نژدې کوم ځناور نه وي ښايي دا د سپو غار و خو اوس هلته سپي نه وو، کاسلا کوچنيان مچ کړل، له هغې سره تر سپيانو ډېره د ودال د راتلو وېره وه، کاسلا کوچنيانو ته وويل: "اوس زموږ عسکر راځي تر هغو چي هرڅه وشي له غاره مه راوځئ، که زما چيغې واورئ لا هم مه راوځئ، پوه شوئ؟"

کاسلا له غره را تا شوه، د موټر د شا په څوکۍ کي کښېناسته او د ودال يا مرستي په تمه شوه.

ډېر وخت نه و تېر شوئ چي ليري دوړي را ښکاره شوي چي لوړي پورته کېدې او د اسونو د پښو ترپی هم ور سره انګازه کېدی او بيا هغه وشول چي وېره يې وه.

د ودال وسله وال سپاره له موټر څخه راتاو شول، کاسلا د څېرې له ټپونو څخه ودال وپېژاند.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودال چي مګوټر ته رانژدې شو نو خپلو ملګرو ته يې له ځای څخه د تلو وويل، سپاره ولاړل او ودال له کاسلا سره يوازي پاته شو، کاسلا پوهېده چي کېدای شي اوس تر مرګ هم له ډېر تاوان سره مخامخ شي .

ودال چي قاضي هډانګو وليد نو پوه شو چي هغه له بدل اخيستو څخه محرومه شوی دی او يوازي د دښمن ښځه د هغه په مخکي ده، داچي قاضي هډانګو يې ژوندی په لاس ورنه غی نو د هغه قهر يو په دوه شو، هغه د موټر ور پرانست او د کاسلا له کمزورۍ څخه يې و انګېرله چي هغه ته د توفنچې اړتيا نشته، هغه توفنچه د ّاس په توبره کي واچوله او څو شيبې ورسته د کاسلا سندريز ږغ هغه ته ټکان ورکړ: "وداله! ستا دښمن مړ شوی دی او زه د هغه کونډه يم" بيا هغې نسبتا ورو وويل:

"ايا ته پوهېږې چي ما ستا د مور د ژغورلو هڅه ولي وکړه؟"

ودال له هغې څخه وپوښتل:

"نه ولي دي وکړه؟"

"ځکه چي زه له تاسره مينه کوم" کاسلا ډېر عادي د ودال په سترګو کي سترګي ورښخي کړې، ودال چي د خپل دښمن د ښځي له خولې دا توري واورېدل نو د هغه د زړه نرۍ دړي وړي شوه، په ژوند کي په لمړي ځل نن يوې ښځي له هغه سره د ميني يادونه کړې وه خو په همدې کي ودال ته د فالبيني وړاندوينه ور ياده شوه، هغه زړه نا زړه شو .

کاسلا چي د ودال په سترګو کي د شك سوری وليد نو هغې پرېکړه وکړه چي د خپلو کوچنيانو د ژغورلو او د ودال د نيولو لپاره به نن هغه تر ټولو بريدونو پوري وځي، بيا يو ګام وړاندي ولاړه او ودال يې تر ګرېوان ونيو: "وداله! زه له تا سره مينه کوم، وګوره هغه دی زما مېړه مړ پرو، زه د هغه په مخکي تاته د ميني اقرار کوم، وداله! پر ما باور وکړه"

هغه د ښاپېرۍ غوندي ښکلې او نازکه ښځه وه.

ّاخير ودال تر احساساتو لاندي راغی، هغه يې له سينې سره جوخته کړه چي په دې کي کاسلا د ّاسونو د پښو ترپې واورېد، مرسته رارسېدلې وه، کاسلا د لنډ وخت لپاره خپل مړ شوی مېړه له ودال سره پرتله کړ، هغې ته داسي محسوسه شوه چي په زړه کي يې د ودال لپاره يوه د رحم څپه راپورته شوه، هغې په بېړه وويل: "وداله! ځه ولاړ شه، هغه خلك راغلل"

خو نور د تلو وخت نه و پاته.

ودال سر راپورته کړ د هغه پر شونډانو مسکا خپره وه او په سترګو کي اوښکي... هغه وويل: "اف کاسلا! هغه ښځه ته يې چي زما د مرګ سوب"...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه دقيقې ورسته پوليسو د ودال مړی پورته کاوه او کاسلا اوس هم ليدل چي د ودال په سترګو کي اوښکي ولاړي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د موچي لور

## احمدندیم قاسمي/پاکستان

دادا لا غړکه شاربله چي هغه بیا په داسي حال کي چي خاورینه پیاله یې په لاس کي وه، راغله د دې په لیدو چي تر اوسه یې کوچ نه دي ایستلي نو مستې به له کومه شي، زړه نا زړه چې بیرته لاړه شي که تم شي.

"عالا کښېنه" دادا ورته وویل:

"اوس یې در کوم... څنګه یې؟ګ

"ښه یم"

هغه چي ولاړه وه هملته کښېنسته.

لږ ورسته دادا وویل:

"زه اوس کوچ ځیني را باسم بد یې مه ګڼه، که نیت بد نه وي هم نظر لګیږي، دا څوګ ورځي مخکي نورا د کوچ را ایستلو پر مهال لیدلې وم په دا سبا د چرګي د هګۍ غوندي کوچ ځیني ووتل، په دا بل سبا د مرغۍ د هګۍ غوندي، بیا چي مي چرګي ته څو ورځي مرچ دود کړل نو نظر یې ولوېد.

عالا سره کوچنۍ شوه.

"ترور جاني! کله نا کله زما هم نظر لګیږي، مخکي مي ستا یو چیني ګلاس هم مات کړی و"!

"هو ریښتیا! دادا ته وریاد شول:

"تا ویل، اوف! ترورجاني څومره پاك خواپاکی دی، نظر پر ښویږي، او له دې سره همداسي ځای پر ځای شرنګ مات شو، زه حیرانه پاته شوم"

بیا یې عالا وګواښله خو په دې ګواښ کي خښم نه و.

"ښه اوس هلته وګوره"!

له دې سره هغه مسکۍ هغه لور ته تاو شوه او مخامخ یې وکتل، مخامخ زه ناست وه، زما په لیدو سملاسي هغې د پوړني پلو پر سر را کش کړ او چي تر تندي یې را ورساوه نو یې وویل:

"دننه خو کوچنی خان نه دی ناست؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"وی! نو بل څوك دی؟" دادا وویل:

"برايي ماښام راغلی دی"!

عالا پورته شوه تر دروازې راغله او ویې ویل:

"لیري دي وي له بلاوو، گوښه دي وي له بلاوو"

ما ورڅخه وپوښتل :

"عالا څنگه یې؟

"ښه یم!" هغې وویل او پر څېره یې شوخي وځلېده.

"مخکي مي ونه پیژندلې، ما چي ویل یو کوچنی ناست دی برېتونه یې ایښي دي"

دادا ته پر دي خندا ورغله...

"توبه مي ده!" هغې وویل:

"بلا داسي خبري کوي چي څه... توبه مي ده"!

عالا په دالېز کي دا رنگه کښېناسته چي یوه پښه یې په کوټه کي او هغه بله یې له کوټې دباندي په انگړ وه، د ناستي دې انداز د هغې شنه پایڅه د لینگي تر نیمایي راورسوله، د هغې د خیرنو پښو په نسبت د هغې د لینگیو رنگ ډېر بېل و، دا لینگي ډېر موزون وو، یونانیانو چي د "وینس" د مجسمې کوم لینگي تورلي وو، تا به ویل هغه یې د عالا د لینگیو تر لیدو ورسته تورلي وو.

"عارف خانه! په مساپرۍ کي څه کوې؟"

هغې له ما څخه دا رنگه وپوښتل لکه د کلي په یوه دېره کي چي گپې ولي.

هغې خپله خاورينه پیاله په یوه گوته پرلپسې تاووله، ما وویل:

"مزدوري کوم پیسې گټم!گ"

"ترورجاني ته څومره رالېږې؟"

هغې له شوخۍ څخه په ډکه مسکا وپوښتل.

"انجلۍ!" دادا هغه ورټله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"له همزولو هلکانو سره څوك داسي خبري نه کوي، ته تر ابده کوچنۍ نه یې، ایا تاته تر اوسه کوم چا دا نه دي درښودلي چي ته لویه شوې یې؟"

هغه په هغه دالېز کي ناسته د دادا لور ته ور تاو شوه، اوس نو د هغې دواړي پښې په انګړ کي وې او د وېښتانو یوه غنچه یوازي په په کوټه کي وه.

هغې وویل:

"څوك یې راوښې، ترورجاني؟ګ" چي مور او پلار مي ژوندي وای نو راښولي به یې وای، د هغوئ خو خدای پاك(ج) ته د ورتلو دومره تلوار و چي زما له سره یې لاسونه پورته کول نو دومره یې هم ونه کتل چي یو څوك د دې نجلۍ پر سر لاس کښېږدي نو لاړ شي "

د عالا ږغ اوښکو لاندي کړ، ما وویل:

"عالا! ستا مور خو پخوا مړه شوې وه، ایا ستا پلار هم ولاړ؟"

دا ځل چي هغه را تاو شوه نو دواړي پښې یې په کوټه کي کښېښودې او ویې ویل:

"هو هغه هم ولاړ، چي زه هلك وای نو ښایي موچیتوب یې را ښودلی وای، خو هغه په ما یوازي ډوډۍ پخوله او اوبه یې را باندي را وړلې، اوس سره له دې چي زه د موچي لور یم، خپل بوټونه په بل ګنډم"

دادا وویل:

"نو څه دي؟ ستا یوازي د بوټونو ګنډل نه دي زده، نور خو دي هر څه زده دي، پخپله خواري یې ګټې او خورې، ټول کلی ستا صفت کوي... واخله مستې واخله"!

عالا چي دادا ته د خبرو په مهال ورګرځېدلې وه، ولاړه شوه او پیاله یې دادا ته نژدې کښېښوده، هغې د مستو پیاله واخیسته او روانه شوه، یو څو ګامه چي یې واخیستل نو یو دم بېرته ودرېده او له راګرځېدو سره یې وویل:

"ترورجاني! نن هم مېچنو ته راشم؟"

"راشه، راشه!" دادا وویل: هسي خو اوړه ډېر شته، لاکن د عارف د پلار تلین هم لیري نه دی، د څو بوریو اړتیا پیداکیږي، راشه"!

"ښه سمه ده! هغې وویل او بیا یې په تلو، تلو کي له ما څخه وپوښتل:

"عارف خانه! ته څو شپې همدلته یې؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د پلار تر تلین پوري همدلته یم"!

"بیا خو ډېري ورځې دي!" هغې وویل.

* * *

زه چې په کلي کې دوري هوري وگرځېدم او بېرته راغلم نو هغه په یوه کوټه کې ناسته وه مېچنې یې کولې، پوړنی یې له سر څخه ښویدلی و، ایله وېښتانو یې د مېچنو له هر څرخ سره د هغې څېره پټوله او لوڅوله، هغې یوه پښه پوره غزولې وه او شنه پایڅه یې تر زنگانه پوري پورته شوې وه، که دا رنگه لینگې پرې شي، په ښیښه کې واچول شي او کوټه په سینگار شي، څنگه به وي؟!

ما اېخوا دېخوا وکتل چې دادا مې نشوه تر سترگو نو د گوتو پر سرو د کوټې تر وره پوري ورغلم، دا چې له وره څخه ورتلونکې رڼا یو دم لږ شوه نو هغې ژر شاته وکتل، مېچنې یې ودرولې، وېښتانو ته یې څنډ ورکړ، هغه یې سره را ټول کړل او پوړنی یې پر سر را کش کړ، خو غځولې پښه یې هغسې غځولې پرېښوده، بیا یې ورو، ورو د مېچنو په گرځولو شروع وکړه او ماته همداسې کتلې پاته شوه.

په دې وخت کې زما لمړی غبرگون دا و چې د یو موچې د لور سترگې دومره غټې باید نه وای، ځکه د غریبانو لپاره کوچنۍ، کوچنۍ سترگې بسنه کوي.

دا چې د هغې پر څېره شوخې ښکارېده نو له دې وېرې چې وار راباندې ونه کړي، ما له هغې څخه وپښتل:

"دادا چیري ده؟"

هغې وویل:

"ته په ترورجانې پسې دلته راغلی وې؟"

"نو څه ستا لیدو ته راغلی وم؟گ" ماته د وار اخیستلو چانس په لاس راغی.

هغې یوازې دومره وکړه چې غځولې پښه یې راټوله کړه او بیرته یې وغځوله، بیا چې یې څنگه خبرې ته ځان جوړاوه ما ورڅخه وپوښتل:

"دادا چیري ده؟"

"همدلته په کور کې ده "

هغې وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ستا د اکا لور ناجوړه وه، د هغې پوښتنې ته تللې ده"!

ما وویل:

"ته چې دا مېچنې کوې د دې څومره مزدوري اخلې؟"

"د دوو ورځو اوړه راکوي"!

د هغې په لهجه کې یو ډول لنډون و، نه پو هېږم چې ټوکې یې کولې که یې همدا لهجه وه.

"اّبنه چې دوې ورځې تېرې شي نو بیا څه کوې؟"

"بیا راځم، د اوړ مېچنولو لپاره، د اوبو راوړلو لپاره او یا د چټونو د سپینولو لپاره"

"د چټونو د سپینولو لپاره؟" ایا ستا د چټونو سپینول هم زده دي؟"

ما له هغې څخه رښتیا په حیرانتیا وپوښتل او هغې وویل:

"عارف خانه! زما څه نه دي زده؟ یوازي د بوټونو ګنډل مې نه دي زده، نور مي هرڅه زده دي"

"د مثال په ډول نور دي څه، څه زده دي؟"

ما په شوخۍ ورڅخه وپوښتل:

"نور... ؟ نور... ؟"

هغه نژدې وه چې یو څه راته ووایي خو چورتي غوندي شول او بیا یې وویل:

"هرڅه مې زده دي ته به حیران پاته شې"!

هغه ښه شېبه په مېچنو ګرځولو اخته شوه، لکه زه چې یې هېر شوم، بیا یې مېچنې ودرولې، ولاړه شوه او د وره لور ته راغله، زه چې یوې خوا ته شوم نو هغه دباندي ووتل او ویې ویل:

"تږې یم، د ترورجاني کټورى به ناپاکه شي، ماته په بدنۍ کي اوبه راکړه"!

"په همدې کټوري کي يې وڅښه!" ما ورته وویل او بیا مي جدي ورته وویل:

"درواخله کټورى، اوبه په کي وڅښه "!

د هغې مسکا څومره ګلابي وه، په ژوند کي په لمړي ځل پوه شو م چي مسکا هم رنګ لري، هغې چې اوبه وڅښلې نو د کټوري د منځلو لپاره یې په هغه کي لږې اوبه واچولې، ما ورته وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"کتوری ډک کړه"!

د هغې په زړه کې دا ور وګرځېدل چې زه غواړم چې کټوری ښه پرېولم خو چې کټوری ډک شو نو هغې زما لور ته وکتل، ما کټوری ورڅخه واخیست او خولې ته مې یووړ.

"عارف خانه"!

هغې په حیرانۍ او وېره وویل او وارخطا یې ماته وکتل، کله چې ما تش کټوری بېرته ورکاوه نو د هغې په سترګو کې اوښکې ځلېدې او پوړنۍ یې تر ځان داسې راتاو کړی و لکه لمانځه ته چې تللې وه.

* * *

په کلي کې د پېغلې نجلۍ یو، یو ګام شمېرل کېږي، د هر کاته حساب یې نیول کېږي، ډېر ملګري ناست وو، د نجونو بحث شروع و، څوک له چا سره، څوک د چا پسې، څوک د تېښتې په تمه، څوک له دومره لاسونو وتلې چې په ځوانه ځواني لا زړه شوې، ما ویل:

"یوه نجلۍ خو عالا هم ده، د نادر موچي لور؟"

پر دې ټولو وخندل.

"هغه؟"

هغوئ وویل:

"هغه د هیڅ کار نه ده، په کور، کور ګرځي خواري کاږي، پیسې ګټي، ښکلې ده خو په درد نه خوري، یو ځلې "بېګو برېټو" کار په درلودلی و، نو هغې ورته ویلي و چې زه د موچي لور یم، پوست درڅخه باسم!

بېګو دومره خړ شوی و چې په هغه ّان مخامخ سلماني ته ورغلی و او د برېټو څوکې یې پرې کړ وې!

ټولو وخندل او تر ډېره یې خندل، ما وویل:

"که هغه دومره خواریکښه نجلۍ ده نو د هغې درناوی په کار دی"!

یوه وویل:

"هغه خو درناوي ته هم څوك نه پرېږدي"!

پر دې پر ټولو یو ځل بیا د خندا څپه راغله.

بل وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو کره خو ډېر کار مار کوي، ته يې يوه ورځ درناوی وکړه بيا وګوره چې پوست دي درڅخه باسي که نه؟"!

هغوئ بيا وخندل او له ما څخه هم د هغوئ په خندا کي ګډون وشو خو خپل ږغ مي هيڅ ونه پېژاند بيخي لکه په تش صندوق کي چې شګي وکړپوي.

زه چې کور ته بېرته راغلم نو هغه له کوره راوتله، څېره يې کټ مټ سور تبخی و، سترګي يې هم سرې وې، ما تکان وخوړ او ومي پوښتل:

"څه خبره ده عالا، ژاړې؟ګ

هغې وخندل او په خندا يې وويل:

"ژاړم به ولي؟ زما دښمن دي وژاړي، اوس مي مرچ کوټل، عارف خانه"!

"ته مرچ هم کوټلی شې؟" ما ورڅخه وپوښتل:

"يو کار داسي هم شته چې ستا دي نه وي زده؟ ته دومره ډېر کار ولي کوې، عالا؟"هغې وويل:

"پيسې ګټم، ته خو پوهېږې چې شتمن خلك نجوني رانيسي، له ما سره که پيسې وي نو هيڅوك به دومره توان ونه لري چې زما لور ته دي پورته وګوري، هيڅ څوك به ونشي کولای"...!

بيا هغه راغله، ماته يې نژدې په غوږ کي وويل:

"ما ستا لپاره ټوکر رانيولی دی پر هغه کار درته کوم"!

"دا ښه خبره نه ده!" ما غاو وکړ.

"ستا په پيسو رانيول شوي کالي به په ما خولې ولګوي"!

"زه کوم چاته وايم؟"

هغې وويل:

"ته هم چاته مه وايه بيا خولې نه درلګوي"!

بيا هغه ناڅاپه ووېرېده:

"وی! زه دي مړه شم، ترورجاني خو به نه وي اورېدلي؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ترورجاني له نامه سره زما هم پر بدن لړزه راغله، دننه مي وکتل خو انګړ تش و، بيا چي راوګرځېدم او ومي کتل نو هغه تللې وه، سمه ده، ما سوچ وکړ،ښه نجلۍ ده، مينه ناکه ده، شوخه ده،هرڅه ده خو د موچي لور ده او مشرانو ويلي دي، چي څوك پر لوړه ودري نو لاندي بايد ونه ګوري، ولي چي توازن له منځه ځي او سړی لاندي راغورځي.

* * *

د پلار د تلين په ورځ ټول کلی زموږ کور ته راغلی و، خو په دې ټوله ګڼه ګوڼه بيا هم د عالا منډې تړړي ښکاره وې، هغه د توتکۍ په څېر دلته هلته کېده، داسي ښکارېده چي که چيري دغه نجلۍ له دې ګڼي ګوڼي ووزي نو د تلين ټول نظم به له منځه لاړ شي او هر لوري ته به لوټ او تالان ګډ شي، هغه به د برقي برمې غوندي په ټوله ګڼه ګوڼه کي ننوته، لار به يې جوړوله او له درب سره به د دادا کوټې ته ننوتله، ور به يې بنداوه، له هغه ځايه به يې ښوونه اخيسته او بيا به يې په ګڼه ګوڼه کي هغه ډول لار جوړوله، د ماخوستن تر لمانځه پوري ټول کلي ډوډۍ خوړلې وه، تش دېګونه يو خوا ته شوي وو، نايي، ميراثي او موچي هم رخصت شوي وو، د ټولي ورځي تر زوږ او غاو ورسته په کور کي يوه درنه چوپتيا خوره شوې وه، ما چي ورستی مېلمه رخصت کړ او د دادا کوټې ته راغلم نو زما پوره باور و چي عالا به ناسته وي او د دادا پښې او لاسونه به ور چاپي کوي خو دادا يوازي ناسته وه، په ژوند کي په لمړي ځل پرته له دې چي د مور خيال وساتم، ما له هغې څخه وپوښتل:

"عالا چيري ده؟"

عجيبه وه دادا له پوښتني څخه حيرانه نشوه، هغې وويل:

"هغه نجلۍ الماس ده، زويه! الماس، نن خو زما سترګي، لاسونه او هر څه وه، د ټولي ورځي سترېې هلاك وه خو چي ډوډۍ ته کښېناسته يواځي څو ګولې يې وکړې او پورته شوه، تلله خو ما يې مخه ونيوه، دا دېګ مي له وريجو ور ډك کړ او ورته ومي ويل چي له ځان سره يې يوسه، خو هغې ويل دا وريجي چي عارف خان خپله ماته راوړي ماته ښه خوند راکوي، نور يې ټول رخصت کړل خو زه يې ولا نه پوښتلم، زه يې نه ورم، هغې دا خبره په خندا وکړه خو هغې سم ويل، زويه! د کور ټول کار د هغې پر غاړه اخيستی و، تا چي ټول رخصتول هغه به دي هم رخصت کړې وای، که څه هم هغه په خندا ولاړه خو خندا د هغې عادت دی، زويه! د چا چي خندا عادت وي نو هغوئ چي ژاړي هم خاندي، په خوله خاندي خو په زړه ژاړي، تا هغه د موچي لور وبلل او درناوی دي يې ونه کړ، په داسي چال کي چي د هغې خپل ځان ته درنښت دی، د هغې دا درنښت وساته زويه! او ورشه هغې ته دا د وريجو دېګ خپله وروړه، لږ مخکي تللې ده، ويده شوې به لا نه وي، هسي هم سهار وختي ته روان يې، هغه به تا څه ياد کړي؟ ورشه"

* * *

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالا د خپل کور لوی وره ته ښېرمه پرته وه، زه چي نژدې ورغلم او ورو بړغ مي پر وکړ، نو هغه داسي ناڅاپه وغورځېده او جگه ودرېده لکه هلته لنډ چي کومه چاودنه ورته شوې وي.

"عارف خانه!" هغې وویل او بیا یې له عادت سره سم وخندل او ویې ویل:

"د وریجو د راوړلو لپاره راته راغلی یې؟"

ما وویل:

"هو، د وریجو د راوړلو لپاره درته راغلی یم"

"راوړه! هغې لاس راوړاندي کړ، ترورجاني به درته ویلي وي چي ما څه ورته ویلي وو"

هغه مسکۍ شوه.

"هو! راته ویې ویل" ما ورته وویل.

هغې دېگ واخیست پر کټ یې کښېښود او ویې ویل:

"چي خپل کور دي راکړی وای نو ډېر ښه خوند به یې کړی وای، خیر اوس یې هم ښه خوند وکړ"

هیڅ نه پوهېدم چي څه ووایم اخیر مي یوه خبره زهن ته راغله:

"سبا سهار زه بېرته ځم"!

هغې وویل:

"هو خبره یم"!

ما ورته وویل:

"چي خبره وې نو هلته زموږ په کور کي خو به لږ ماتله کېدې"!

هغې وویل:

"ستا د قمیس اخري ټك پاته و، راغلم هغه مي وکیښ، په بسته کي خو به دي ځای وي؟ هو! رښتیا سهار خو به تر تمځای پوري بسته هم زه درسره وړم، ترورجاني ویل؟"

ما وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"عالا! ته څه، څه کوې، مېچني ته کوې، چتونه ته سپینوې، مرچ ته کوټې، له ځا څخه دوه، دوه، درې، درې منگیه اوبه ته راوړې، د کور ټول کار ته کوې، ته له کومې خاوري جوړه یې، عالا؟"

هغه چوپه ولاړه وه، بیا یې دوه گامه واخیستل او ما ته دومره رانژدې شوه چې ما یې پر خپله غاړه د سا اخیستل حس کړل.

"زه نور هم ډېر څه کولای شم، عارف خانه"!

د هغې بړغ جنکار غوندي و.

_ته څه خبر یې چې نور څه کولای شم؟

لږ شېبه وروسته هغې وویل:

_ته له ما وپوښته چې زه نور څه کولای شم؟

ما د اول صنف د زده کونکي په څېر له هغې څخه وپوښتل:

"ته نور څه کولای شې؟"

"زه مینه هم کولای شم، عارف خانه"!

هغې لکه د کایناتو یو پټ راز چې یې افشا کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرښته

## اياز قادري/پاکستان

کله چې هغه کور ته بېرته راستنېدی، نو شپه پخه شوې وه، وريځ په اسمان کې د شيطاني ارواه غونډي دوري هوري کېده، د ورځې د باران له امله کوڅه ټوله ختې شوې وه، کوڅه چارچاپېره چټليو پر سر اخيستې وه او د بد بويي خوړسکي ځينې پورته کېدې، د ښاروالۍ له لوري اينښول شوو ګروپونو چې د هوا د څپو له امله يې رڼا تېزېده او خامېده، سترګکونه وهل.

په کوڅه کې هر لور ته چوپتيا خپره وه، لکه د مرګ پرښته چې همدا اوس راغلې وه، ګرځېدلې وه او تللې وه، له ښايسته ځنډ وروسته به د يو کوچني د ژړا ږغ او يا هم د يو سپي د غپا ږغ راغی او بېرته به چوپتيا خپره شوه.

هغه خپل بدن ته وکتل چې د بېلا بېلو ناروغيو له امله دومره کمزوری شوی و چې نه مړ اونه هم ژوندی ښکارېدی، بس د هډوکو يو غالب و، بلکې همداسي لکه له ډاکټرانو سره چې د زدهکړې لپاره وي، هغه خپل جېب ته وکتل چې دوې "انې" په کې شرنګېدې، د هغه پر شونډو مسکا خپره شوه، داسي مسکا چې ناپايه درد او خوږ په کې نغښتی و، "د ټولي ورځې مزدوري يوازې څلور انې!" هغه په خورا کرکه له ځان سره وبوڼېد او چوپ شو، همدا يې هم لکه په خيرات کې چې يې ور کړي وې.

هغه يې له فابريکې پسې اخيستی و، له هغې فابريکې چې د هغه نيکه د مرګ تر ګړيه کار په کې کړی و، او پلار يې تر يوې پېټې لاندي کېدو له امله ځان په کې شهيد کړی و، بله لا دا چې هغه هم له کوچنيوالي کار په کې شروع کړی و، خو بيا يې هم يوازې د دې لپاره پسې اخيستی و چې هغه ناجوړه و او نور په فابريکه کې د هغه اړتيا نه وه
.

يو وخت داسي هم و چې هغه په مزدورانو کې ډېر مهم ګڼل کېدی او نورو مزدورانو به په کار کې د هغه تقليد کاوه، د فابريکې مالك به خوشحاله و او هغه ته به يې شاباسی ورکاوه، هغه وخت به له سهاره تر ماښامه د کار کولو درې څلور روپۍ په لاس ورتلې، خو اوس... اوس هغه يو ژوندی مړی و، داسي لکه قبر چې يې سوری کړی و او دې دنيا ته ورڅخه راوتلی و، خلکو چې به هغه ته وکتل نو وېرېدل به.

نه وروره! نه، ته د مزدورۍ نه يې، نه وروره ته بورۍ نښې پورته کولای، نه صاحبه نه، ته د بار د پورته کولو نه يې، اخير هغه څه وکړي، هغه څه کولای شي؟ داسي هيڅ انسان نه و چې پر هغه يې زړه سوځلی وای او ورته ويلي يې وای، چې راشه وروره راشه، دا بار پورته کړه!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له سهاره تر ماښامه پر کارځایونو وګرځېد، خو هیڅ هم لاس ته ورنه غله، یوازي څلور انې یې پیدا کړي وې، له هغوئ څخه یې هم په دوو انو یوه ډوډۍ اخیستې وه او پاته دوې انې یې د دې لپاره ساتلي وې چي که سبا مزدوري ورپیدا نشي نو وږی خو به نه پاتیږي.

کله، کله به داسي وخت هم راتلی چي هغه او مور به یې څو، څو ورځي یوازي په اوبو ګذاره کوله، هغه دا هر څه د خپلي مور لپاره کول، د هغې مور لپاره چي د هغه ټوله شتمني وه، که یې دغه مور نه وای نو ښایي هغه د دنیا له غمه بې غمه خپل څادر پر سر را کش کړی وای او کرار ویده شوی وای،ّان د قیامت په ورځ به هم چا نه وای راپورته کړی، د هغې مور لپاره چي د شپې راویښه شوې وه او د هغه خدمت یې کړی وو، چي له سهاره تر ماښامه یې مېچني کړي وې خو د هغه اړتیاوي یې ور پوره کړي وې، چي په تش نس او لوږه یې وخت تېر کړی و خو هغه یې موړ ساتلی و، د هغې مور لپاره چي په سړو او تودو کي د هغه د ارام لپاره په بې غمه زړه ویده شوې نه وه، هر وخت یې د هغه خدمت کړی و، تر دې چي ناجوړه شوه، طبیبان راغلل خو بې ګټې، ډاکټرانو فیسونه واخیستل خو بې مانا، عامه روغتونونو هم په دې چي درملنه یې ناشونې ده، ځواب ورکړ، څه چي یې لرل هغه هم خلاصي شوې، په کور کي چي یې څه شیان لرل هغه یې هم یو په یو خرڅ کړل، ښایسته زمانه تېره شوه، خو د هغه مور روغه نشوه، بده یې لا دا چي هغه هم پسې ناروغه شو، مخکې چي څه په لاس ور تللې هغه به یې د مور پر دوا او ډوډۍ ورکولې خو اوس دومره څوك نه و چي هغه ته یې مزدوري ورکړې وای.

پر آسمان وریځ خپره شوه، لکه د آسمان څښتن چي د نړیوالو پر خلاف دسیسه جوړوي، تالنده په وار، وار غړمبېده نرۍ، نرۍ باران هم شروع شو، هغه ورو غونډي کور ته ورننوت، ډېوه بله وه او د هغه نیم ژواندې مور د کوټې په کونج کي پرته وه، د زوی د ښکالو له اورېدو سره هغې د څه ویلو هڅه وکړه، خو د ټوخي له امله یې خبره په خوله کي وچه شوه او لږ وروسته چي څه آرامه شوه نو یې ورو وویل:

"زویه ډېر ناوخته نه شوې؟"

بیا یوه شېبه چوپه شوه:

"زویه زما دوا؟" د مور سترګي د هغه پر څېره ښخي وې.

"موري "!

خبره د هغه په ستوني کي بنده شوه .

"طبیب ویل دوا جوړه نه ده، سبا ته به انشاءالله جوړه شي"

د دوا د نوم له اورېدو سره د هغه د مور څېره و غوړېده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زویه! تر داسي ژوند خو مرګ ښه دی، که زهر وي چي د ژوند له غمونو خلاصه شم"

هغه ډوډۍ مور ته وروړه، مور یې یوه ګوله ځني پرې کړه او پرېوته، تېز باد په چلېدو شو، باران هم ښه په شرپ په اورېدو شو، داسي ښکارېدل لکه د آسمان څخه چي ابشارونه را توپېږي.

د هغه مور ټوله شپه اورېده، اوږده ساه شړله، ټګوخېدله او ځګېروی یې کاوه.

ډېوه د باد د تندو څپو له امله پړکېده، هغه تر سر لاسونه لاندي کړل او پرېووت، خو خوب ورنه غی، سترګي یې همداسي رډي پاته شوې او د مور او ځان د ژوند او ناروغیو چورتونو په مخه کړ، هغه په دې نه پوهېدی چي که دا ژوند وي نو مرګ به څه وي؟

"دوا!" دوا به نو له کومه شي؟ دا عذاب به تر څو وي؟ د مور خبري د هغه په غوږونو کي انګازه شوې،"زویه! تر داسي ژوند خو مرګ ښه دی، که زهر وي چي له دې غمونو خلاصه شم" بیا هغه پر دا بل لټ واوښت.

باران نور هم تېز شو، پړکېدلې ډېوه مړه شوه، خو د هغه سترګي لا ځلېدلې، له ښایسته ډېرو چورتونو وروسته یې آخیري د ټولو غمونو علاج پیدا کړ، د هغه سترګي یو دم د مور خواته واوښتې، مور یې له درده په ځګګېروي وه، د هغه له سترګو اوښکي توی شوې، لکه ویل چي یې، "مورجاني! له تا پرته په دې نړۍ کي نور زما څوك شته؟" چي کله سهار شو، نو هغه سملاسي له ښاره لیري هغه لور ته لاړ، چي زهرجن بوټي شنه وو، د دې بوټو د شیدو دوه درې ځاځکي د انسان د مرګ لپاره بس و، د دې زهرجن بوټي په لیدو به ځناورو لا له هغه لیري منډې وهلې، هغه له خپل جېبه ښیښه را وایسته او بوټي ته یې لاس ور اوږد کړ، هغه د خپلي مور څېره لیدله چي موسکۍ یې د هغه لور ته کتل، هغه تکان وخوړ او ښیښه یې له لاسه ولوېده، کله چي یې ښیښه بېرته را پورته کوله، نو له ځان سره یې بوڼکی شو: " اوه زه دا څه کوم؟!" د مور کمزورې غمځپلې او له ګونجو ډکه څېره یې یو ځل بیا تر سترګو تېره شوه،"زویه تر داسي ژوند خو مرګ ښه دی" او بیا یې د ډاکټرانو دا خبره په غوږونو ګي را غبرګه شوه، "د دې ناروغۍ هیڅ علاج نه شته" هغه په پټو سترګو او لړزېدلو لاسونو ښیښه تر بوټي لاندي کړه، ښیښه ډکه شوه، د یوه ویران ژوند غوندي له غمونو ډکه، هغه به لا په انګړ کي پښه نه وه ایښې چي د مور ځګېروی یې بیا تر غوږ شو، د هغې له ټوخي ټول انګړ ویر په سر اخیستی و، د زوی په لیدو د هغې په څېره کي وینه و ځغلېده:

"زویه"!

بیا لږ چوپ شوه :

"نن خو به دي دوا راوړې وي؟" هغه دېوال غوندي چوپ ولاړ و.

بیا هغه مور ته نژدې ورغی، په غاړه کي ور ولوېد او په ژړا شو :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هو، هو! نن مي دوا راوړې..." سلګيو يې بړغ لاندي کړ، ساه يي لنډه، لنډه شوه، ښيښه يې ورو را وايسته، لاسونه يې ولړزېدل سترګو يې تور وخوړ، سر يې پرې وګرځېد، د زهرو څو څاڅکي يې په پياله کي واچول، اوبه يې ورسره ګډي کړې او مور ته يې ورکړل، مور يې په يوه ساه ټول وڅښل او پر څېره يې موسکا خپره شوه :

"زويه! ته زما څومره خيال ساتې، زويه! ته پرښته يې پرښته"!

هغه خپل سر د مور په غېږ کي کښېښود، مور يې ورو، ورو په وېښتانو کي ګوتي ورتېرولې، داسي لکه په ګوتو چي يې سر ور ږمنځاوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوروړی

## سویتوزاز کوروچ/هرزوگوینا

ما له هغه سره د سفر پر مهال و پېژندل، موږ دواړو په یوه سرای کي شپه تېره کړه او منزل مو هم یو و، هغه د هیواد یو نامتو سړی و، ما له هغه سره په دې ملګرۍ ویاړ احساساوه، د هغه نوم په ټوله هرزیګوینا کي انګازه کېده.

موږ دواړو څنګ پر څنګ سفر کاوه زه پر یوه غوره آس سپور وم، د آس د غوره والي دلیل دا و، چي زه هغه څو ځلي غورځولی وم او عموماً ما هغه آس ډېر غورځوي چي ډېر غوره وي، زما آس په داسي حال کي چي سینه یې له غروره را ایستلې وه او غاړه یې آسمان ته نیولې وه، په شاهانه پرتم سره ټګ کاوه.

زما د سفر ملګری په پیل کي ډېر چوپ و، هغه پر خپله سپینه آسپه سپور و، او څلور پنځه نور باري آسونه هم ورسره وو، پر هغوئ توبرې پرتې وې خو بار پرې نه و.

هغه یو ځواکمن سړی و، جګه ونه آرته سینه یې لرله، سره له دې چي هغه په عمر پوخ و، خو روغتیا یې حالت یې بیا هم حیرانوونکی و، هر چا به په آسانۍ سره دا اټکل کاوه چي په زلمیتوب کي به هغه څومره شاړ پاړ و، هغه خپلي دودیزي جامې اغوستي وې، چي ښکلي طلایي تڼۍ په کي ټکګ وهل شوي وې او پر تندي یې یو برېښېدونکی وریګښمین دسمال تړلی و، د دسمال څنډو له دواړو خواوو د هغه پر سینه ټالونه خوړل، د هغه کړه وړه، جامې او دبدبه دا هرڅه دومره په زړه پوري وو، چي سره له دې چي ما غوښتل ورته وګورم، ورته کتلای مي نه شول، د هغه د دبدبې له امله ما له هغه سره په خبرو کي شرم احساساوه.

د هغه نوم "ډیکو مراووچ" و، د هغه په اړه ډول، ډول کیسې مشهوري وې، د مېړاني او ځیرکتیا یې خورا زیاته انګازه خپره وه، هغه د خپلي قانون ماتوونکي مبارزې له امله تر لیري، لیري پېژندل کېدی، هغه یو ډېر ځیرك سړی و، د هرزیګوینا یوه لویه سیمه یې په وېره کي اچولې وه، موږ دواړو د نابلدو غوندي په چوپه خوله سفر کاوه، دې چوپتیا زه ډېر ځورولم، د چوپتیا د ماتولو لپاره ما له هغه څخه وپوښتل:

"وروره! له تا سره دا دومره آسونه د څه لپاره دي؟ پر دوی خو کوم بار هم نه شته"

"شیان مي ښار ته وړي و او اوس له هغه ځایه تش را روان یم"

"شیان دي د یو چا لپاره وړي وو، که سوداګري کوې؟"

هغه ماته رډو رډ وکتل، لکه زما پوښتني چي خوند ورنه کړ، زه ډېر پریشانه شوم، څو شېبې وروسته هغه ځواب راکړ:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ما دغه شيان د ارواښاد علي ميوياګچ د کورنۍ لپاره ورپي وو"

ما په حيرانتيا هغه ته وکتل، ځکه علي ميوياګچ د هغه د دښمن نوم و، زما له خولې څخه بې واکه ووتل:

"ته د هغه کورنۍ ته د سامان وړلو لپاره ورغلی وې؟"!

"هو! ځکه چې زه د علي ميوياګچ پورورۍ يم او د هغه د يوه درانه پور تر پېټي لاندي يم"

هغه سر ټيټ کړ او آسپه يې پر غاړه په چلاخه ووهله، آسپه له مخکي لا تېزه روانه وه، اوس نو هغه د برېښنا په سرعت سره پر مخ ولاړه، په ما کي د نورو پوښتنو توان نه و، د آس جلو مي ايله پرېښود، او په داسي حال کي چې سندره مي زمزمه کوله، له هغه سره څنګ پر څنګ روان شوم، اوس مي ياد نه دي، چې ما کومه سندره زمزمه کوله، لکه چې زما سندري خوند ورکړ، هغه تګ ورو کړ او ماته په ځير سره غوږ شو.

"په لوړ آواز ووايه"

هغه له ما څخه غوښتنه وکړه، ما هم سندره اوچته کړه، هغه پر تندي ترلی دسمال سست کړ، دسمال يې په غاړه کي را ولوېد، "ډيکو" زما له سندري سره په خوند، خوند سر ښوراوه، لږ وروسته زه چوپ شوم، هغه را باندي ږغ کړل:

"وړاندي پسې ووايه"

"نوره مي نه ده ياده"

لکه چې زما ځواب هغه ته خوند ورنه کړ، هغه يو ځل بيا مخکي شو.

ناڅاپه هغه آسپه وګرځوله او پونده يې کړه، اوس نو د هغه مخ له سړك څخه لاندي د ونو پر لوري و، ما ورڅخه وپوښتل:

"چيري روان يې؟"

"تر دا ونو لاندي به لږ دمه وکړو"

زه هم په هغه پسي ورغلم، ونو ته چې ورسېدو، آسونه مو څر ته ايله کړل او تر يوې شنې وني لاندي کښېنستو، سګرېټ مو ولګول، شاوخوا چوپه چوپتيا وه، يوازي د آسونو د زامو خرپی او ليري د چارتراشو ږغ و، چې زموږ غوږونو ته را تلی، لږ وروسته ما له هغه څخه و پوښتل:

"ته د علي کله پورورۍ شوې؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ژوره ساه واخيسته او لاس يې وغورځاوه:

"ډېر وخت کيږي"

په حيرانتيا سره مې له هغه څه وپوښتل:

"ډېر وخت کيږي او پور لا پرې شوی نه دی؟"

"هو! د دې پور پرې کول ډېر وخت غواړي"

هغه له خولې څخه د لوګي يو څو خوړسکي په هوا کې خوشې کړې، ماته يې وکتل او بيا په داسې حال کې چې په هوا کې يې تش نظر ځغلاوه، وويل:

"دا يوه اوږده کيسه ده، ملګرې! او زما لپاره ډېره دردوونکې ده"

په ډېر خواست مې ورته وويل:

"ماته خو به يې کوې؟"

هغه زما له هيلې اغېزمن شو او په خواشينۍ سره يې وويل:

"په اورېدو به يې څه وکړې؟"

ما ټينګار وکړ:

"که مناسبه وي نو"...

د هغه ږغ داسې ښکارېدی، لکه له يو ليرې ځای څخه چې راتلی، هغه وويل:

"تا ته به څرګنده وي، چې د ترکې واکمنو ظلم او تېرې زه دې ته اړ کړم، چې داړه مار شم، موږ سربيان د ترکانو په واکمنۍ کې اړ وو، چې په خپله خاوره کې د نورو تر ظلم او جبر لاندې ژوند وکړو، موږ ته هيڅ انساني حقوق را په برخه نه وو، آخر يو قوم او يا يو کس تر څو پورې د نورو تېرې و زغمې؟ هر ترك ته سر ټيټول او د هغه غلامي کول، زموږ لپاره ورځ په ورځ ناشونې کېدل، زه زلمی وم، هغه مهال په سربيانو کې د ترکانو پر خلاف اور مخ په زياتېدو و، زما رنګه څو نور سرتيرې هم وو، د مبارزې يووالې موږ سره يو ځای کړې و، موږ به هر وخت له ترکانو څخه د کسات اخيستلو او د هغوی د خوړولو خبرې کولې، موږ يوازې شپږ کسه وو، چې وسله مو واخيسته او په ځنګله کې پټ شوو، له ځنګله څخه به موږ په ترکانو پسې سترګې ورلې، چې څنګه به مو چانس برابر شو، نو پر هغوی به مو يرغل کاوه، فکر نه کوم چې داسې ورځ دې راغلې وي، چې موږ دې ترکانو ته په يو ډول نه يو ډول زيان نه وي رسولی، ورو، ورو زموږ انډيوالان ډېرېدل، چې څومره انډيوالان ډېرېدل هغومره زموږ حوصله لوړېدل، يوه ورځ د دې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره چي زوړ پور مو پرې کړی وي، د "علي ميوياګچ" پر کور مو يرغل وروړ، موږ ته معلومه نه وه چي علي ميوياګچ د سيمي تر ټولو ياغي ترك دی او ټول شتمن ترکان د هغه ملاتړ کوي، په دې يرغل کي د هغه د کورنۍ درې کسان ووژل شول، خو هغه خپله بريالی شو، چي ځان ژوندی وباسي، موږ هغه ډېر ولټاوه، خو پيدا مو نه کړ، موږ د هغه کور ولوټه او له لوټل شويو شيانو څخه ډك موټرونه مو خپل ځای ته ولېږل.

دا يرغل زموږ لپاره ډېر ګران پرېوت، علي ميوياګچ تر موږ څو چنده ډېر جنګيالي را ټول کړل او په موږ پسې راغی، هغه موږ دې ته اړکړو چي په ځنګله او غرونو کي له ډېرو ځايونو په شا شو، موږ چي هر څومره په شا تلو، هغوئ په موږ پسې راتلل، په تېښته، تېښته کي موږ هغو غرنيو برخو ته ورسېدو، چيري چي غرځنۍ هم نه تلې، علي او د هغه ملګري په موږ پسې را راوان وو، نور نو له دې پرته بله چاره نه وه، چي له دښمن سره د مرګ تر ګرېه و جنګېږو، د علي غوسه لوړه وه هغه له هر لوري موږ محاصره کړي وو، له موږ سره نور نه د خوړلو لپاره څه و او نه هم د څښلو لپاره، موږ له لوږي تندي او ستړيا څخه بې حاله وو او نور له ژونده نهلي شوي وو، په هيچا کي دومره همت نه وو چي د دښمن محاصره ماته کړي او ځان و باسي، موږ ټولو د مرګ تمه کوله، له ډېر چورت وروسته ما دا پرېکړه وکړه، چي بايد موږ خپله وړاندي ورشو او پر دښمن بريد وکړو، ما خپلو ملګرو ته وويل:

ورونړو! موږ له هري خوا محاصره يو، غله او دانه هم را سره نه شته، آيا دا به ښه نه وي چي موږ خپل وار د مخه کړو او پر دښمن باندي د ټکي غوندو ور پرېرزو، يا د مېږنيو غوندي سرونه ورکړو؟ مرو خو هسي هم، نو ولي يو څو ترکان له تېغه تېر نه کړو، که چيري بخت ياري وکړه نو دا به زموږ لپاره يو ستر وياړ وي.

ملګري زما په مشورې را سره سلا شول، تر ټولو مخکي زه په داسي حال کي چي ټوپك مي ښوراوه، له سمڅي را ووتم زما په تقليد نور ملګري هم را ووتل، ترکانو سملاسي پر موږ د ګوليو باران جوړ کړ، ما خپل دوه ملګري وليدل چي ولوېدل، د تېښتي چانس نه وو زه په داسي حال کي چي ګولۍ مي اورولې، مخ په وړاندي تلم، ملګري هم را سره وو سترګي مي له وينو ډکي وې، هـيڅ مي نه ليدل، ناڅاپه مي پر شا يو کلك ګوزار احساس کړ، ورېږدېدلم، هوښ او حواس مي له لاسه ورکړل.

زه چي په هوښ کي راغلم نو ځان مي د علي ميوياګچ په کور کي و موند، زه پر يوه نرم بستر پروت وم او د علي په ګډون څو نور ترکان پر ما را ټول وو، ما چي سترګي خلاصي کړې، نو علي راټيټ شو، زما لاس يې په لاس کي ونيو.

هغه په نرمه لهجه را څخه و پوښتل:

"څه احساسوې؟"

ما هڅه وکړه چي کښېنم خو د دردنو شدت کښېګناستو ته نه پرې ښودم، داسي مي محسوسه کړه، لکه په ملا کي چي مي د دويم ځل لپاره ګولۍ و لګېده، له دې سره يو ځل بيا بې سده شوم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره یوه میاشت ما له مګرګ سره ډغري ووهلې، علي د یوې شېبې لپاره هم زه له پامه وا نه چولم، هغه په پوره پاملرنه او زیار سره زما پالنه کوله، هغه په خپل لاس زما ټپ مینځه او پټۍ کاوه یې، په خپل لاس یې ماته ډوډۍ راکوله، که به ما لږه ډوډۍ خوړه نو هغه به په ټینګار په ما نوره خوړله، ډېر کله به هغه زما سر پر خپلو زنګنو کښېښود او زما په وېښتانو کې به یې ورو، ورو ګوتې را تېرولې، تر څو چې ماته به خوب راغی.

د هغه د دې زیار او هڅو نتیجه دا شوه، چې ما مرګ ته ماته ورکړه، بدن مې په بېړه ځواکمنېده او ټپونه مې سره ورتلل، تر دې چې یوه ورځ د دېوال په مرسته پر خپلو پښو و درېدم.

علي هره ورځ د بڼ سیل را باندي کاوه، زه چې به کله سترې شوم، نو هغه به د دمې لپاره تر یوې ونې لاندې کښېنولم، زما توان ورځ په ورځ ډېرېدی، کله چې یې زه ولیدم، چې مخ په جوړېدو یم، نو د علي په څېره کې خوښي په غوړېدو شوه، یوه ورځ هغه په خندا را څخه و پوښتل:

"څه حال دې دی؟ آیا دومره توان لرې چې منډه کړې او ټوپونه ووهې؟"

"_نه! اوس هم ځان لږ کمزوری احساسوم"

هغه په داسې حال کې چې د ګوتو ټکان یې ایستل یوه زوروره خندا وکړه:

"ژر، ډېر ژر به بېخي جوړ شې"

څو ورځې وروسته هغه خپله پوښتنه بیا تکرار کړه:

"څنګه اوس دې د منډو او ټوپ وهلو توان پیدا کړی دی؟"

ما ځواب ورکړ:

"هڅه کوم"

هغه یو لوري ته شو ما د علي په مخ کې ټوپ کړل، منډه مې کړه او وغورځېدم، هغه له خوښۍ ډکه خندا وکړه او ویې ویل:

"د دې معنی دا ده چې ته یو مخ جوړ شوی یې"

هغه زه په باغ کې پرېښودم او خپله کورته ننوت لږ وروسته چې بیرته را ووت، نو دوه ټوپکونه ورسره وو، نور د هغه د څېرې بڼه اوښتې وه او په سترګو کې یې د وړې پیشو غوندې ځلا وه:

هغه په داسې حال کې چې ماته وړاندې راغی، وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ما ته د دې کړې چې ته پر خپلو پښو ودرېږې، اوس نو ته د پخوا غونډې تکړه يې لکه تر تېپې کېدو مخکې چې وې، اوس ته د دې توان لرې چې پور را ادا کړې، ته زما ډېر دروند پوروړی يې، د دريو کسانو پوروړی مې يې و چې دوه يې زما ورونه وو"

د هغه په سترګو کې ويني ډنډ شوې او کښته زامه يې و رېږدېدله.

"کله چې ته ولګېدې او بې هوښه زما په پښو کې پروت وې، نو ما هغه وخت ته ډېر آسانه وژلای شوې، خو پر تش لاسي دښمن برید کول، د ترکانو دود نه دی، ما غوښتل چې ته روغ رمټ او غښتلی شې، نو بیا دې و وژنم، علي میویاګچ هیڅکله کوم مجبوره دښمن نه دی وژلی، ما کله کولای شول، چې تا د بې هوښۍ په حالت کې ووژنم او پر خپله لمن داغ و لګوم"

"دا ټوپك هم زما د ټوپك غونډې دی، په دې کې هم زما د ټوپك غونډې ګولۍ شته، اوس به مونږ دواړه ځنګله ته ولاړ شو او خپلې نښې به و ازمويو"

زما د ژبې قلم مات شو، د پخوا غونډې له هغه سره څوړند سر روان شوم، مونږ ځنګله ته ورسېدو.

هغه راته وويل:

"همله و درېږه، چې چې ولاړ يې"

او بيا مخامخ راته ودرېد.

"مونږ دواړه به يو ځای ډزې کوو"

هغه ماته د جګړې چلونه را ښوول.

له دې سره زما حواسو بېرته کار پيل کړ، ما ټوپك و غورځاوه او يو څنګ ته ودرېدم، علي راته وويل:

"آیا ته فکر کوې چې زه به له یوه لوري ډزې وکړم؟ او نړۍ به مې پر مخ را تو کړي، چې ما يو تش لاسی دښمن و واژه، په غور واوره ته به هغه څه کوې، چې زه درته وایم، زه د دې مقابلې د پرېښوولو هيڅ نيت نه لرم او نه هم له سيالۍ وروسته پرتا بريد کوم"

د هغه پر شونډو د بري موسکا خپره وه او زه غلی ولاړ وم.

هغه چيغه کړه:

"ټوپك واخله! کنه نو بيا دې مونږك ګڼم"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ټيټ شوم، ټوپك مي له مځكي را پورته كړ:

"دې لوري ته وګرځه"

زه د هغه له امر سره سم وګرځېدم:

"ما ته نښه جوړه كړه"!

ما هغسي وكړل، هغه هم د ټوپك خوله زما پر لوري كړه، هغه ډز وكړ ګولۍ په ځنګله كي تېره شوه اوليري انګازه شوه، زما ياد نه دي، چي ما ډز وكړ كه نه، خو يوازي دومره مي وليدل چي هغه لړزېدلی پر مځكه ولوېد، زه په وير او غم كي ډوب د هغه لوري ته ورغلم او هغه ته نژدې پر مځكه كښېناستم، ارمان چي هغه ختم شوی وو.

له هغې ورځي راهيسي زه د هغه كورنۍ ته اوړه، تركاري او نور شيان ور وړم، پردې سربېره ميرېي او وزې هم د دې لپاره و وړم چي هغوئ خپلي اړتياوي ور باندي پوره كړي"

ډيكومراووچ خپله كيسه بس كړه سر يې ځوړند كړ او د مځكي په توږلو يې پيل وكړ ما هغه ته وكتل، هغه د اوښكو د درولو ناكامه هڅه كوله، خو اوښكي يې په پرله پسې ډول تويېدلې او پر اننګو يې بهېدلې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تیندك

## انتون چیخوف/روسیه

هغه له یوې میانه کورنۍ څخه و، میاشتنی عاید یې سل "روبله" و، او نژدې همدومره یې کورنی خرڅ و، ژوند یې خوښ او ډاډه تېرېدی.

د ماښامنۍ تر خوړلو ورسته هغه ورځپاڼه راواخیسته، په څوکۍ کې کښېناست او پاڼې یې سرسرې، سرسري واړولې، د هغه ښځې "ماشا" چې د ډوډۍ لوښي راټول کړل نو ناڅاپه یو څه وریاد شول:

"اوه، الونه! زما خو بیخي له یاده وتلي و"

"څه دي له یاده وتلي و؟"

الون د ښځې څېرې ته ځیر شو:

"خیر دی؟"

"ما د لاټرۍ یو ټکټ رانیولی و"

ماشا له یوې پیکه مسکا سره وویل:

"نن د هغې قرعه اندازي شوې، زما بیخي له یاده ووتل چې ورځپاڼه وګورم، ته د لاټرۍ نتیجه وګوره، کېدای شي له دې ځلې زما انعام راوتلی وي"

"ته بې ځایه هره میاشت پیسې بربادوې"

آلون ماښېجن غوندې وویل:

"پخوا دې کله انعام راوتلی و چې اوس به راووځي"

"ته خو لمبر وګوره"!

ماشا خپه غوندې وویل:

"څه معلومه ده، که له دې ځلې زما ټکټ په پچه کې وتلی وګ

"لمبر یې څه دی؟" الون مسکی شو.

"پرلپسې شمېره یې نهه، څلور، نهه، نهه او د ټکټ لمبر شپږویشت دی"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشا لوښي پورته کړل پخلنځي ته لاړه، آلون له لاټرۍ ماټرۍ سره نه دلچسپي لرله او نه يې هم پر دې کيسو باور درلود.

کله چې هغه د خپل مطلب خبرونه ټول وويل او نور داسي څه پاته نشول چي هغه يې وګوري نو يې د لاټرۍ د نتيجې پاڼه راواړوله، "پرلپسې شمېره نهه،څلور،نهه،نهه" د هغه چي پر انعامي لمبرانو څنګه سترګي ونښتې نو تکان يې وخوړ،"ايا ماشا همدا لمبر راښولی و؟" د الون زړه په دربي شو، يو ځل بيا يې انعامي لمبر په غور وکوت، د هغه سترګي له بې باورۍ څخه رډې، رډې راوختې، د دې لپاره چي خپل ځان يې ډاډه کړی وي پر ورځپاڼه ور ټيټ شو چي خپلي سترګي خو به يې نه تېر باسي؟

له لمبر سره څنګ ته د يو لك روبلو انعام ليکل شوی و، الون د دې لپاره چي د يو لك روبلو له شمېرې يې سترګي اړولي وي د خپل ځان د راپورته کولو هڅه وکړه خو بدن يې داسي وچ کلك ورته ښکاره شوه لکه ډېره شوی چي و او په هره شېبه کي چي يې د ماتېدو وېره وه، هغه اورږده سا واخيسته، سر يې راپورته کړ او يو دم بېرته پر ورځپاڼه ور کوږ شو، هغه ته داسي وايسېده لکه معېده چي يې وچه شوې وه او سرې يې دومره پړسېدلي وو چي که يوه شېبه هم دغه زېرۍ له ماشا څخه پټ کړي نو هغه به درز وهي:

"ماشا"!

هغه له خوشالۍ څخه په لړزېدلي ږغ چيغه کړه:

"پرلپسې شمېره نهه،څلور، نهه، نهه په ورځپاڼه کي راغلې ده"

ماشا هورې نژدې ولاړه وه، سترخوان يې ټولاوه، د الون د دې نابلده ږغ په اورېدو يې تکان وخوړ، سترخوان يې له لاسه ايله شو او مځکه ټوله په چټله شوه، د هغې ښه والوته او چي ځان يې کنترول کړ نو سترګي يې غټې، غټې راوختې او بې باوره الون ته ځير شوه، لکه الون چي له هغې سره ټوکي کولې:

"ايا ته جدي يې؟"

دا چي الون پرلپسې ورځپاڼي ته ځير و نو هغې يو ځل بيا تکان وخوړ او د الون غوندي پر هغې هم د خوشالۍ يوه داسي څپه راغله چي نژدې وه زاره يې چاودلې وای:

"الونه! ټوکي خو به نه کوې؟ګ"

الون بې سېکه غوندي وويل:

"پرلپسې شمېره خو همدا ده"...

"او د ټکټ لمبر يې؟" د ماشا ږغ هم بدل شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د ټکټ لمبر يې څه دی؟" هغې يوازې دومره وکولای شول چې شونډان وښوروي، داسې معلومېدل لکه توري چې د شونډانو پر ځاستوني ته ننوتلي وو، پر هغه باندې د هيجان څپه راغله د هغه سور مخ ماشا په دې باوري کړه چې هغه ټوکې نه کوي، هغې په چيغه وپوښتل:

"کوم انعام راوتلی دی؟ دويم، دريم که...؟"

"د يو لك روبلو؟"

"کراره ږغېږه" الون پر خوله لاس کښېښود او هغه يې چوپ کړه.

"ته چيغې ولې وهې؟"

"اوه! الونه" ماشا الون ته په غوږ کې ووېل، هغه په دې کې پاته راغله چې خپله خوښي قابو کړي، کله چې کوټې ته ولاړه نو په نڅا او ګډا يې ږغ پورته کړ:

"ما انعام ګټلی دی، د يو لك روبلو انعام مې راوتلی دی"!

"انعام يوازې ستا نه دی" داسې ښکارېدل چې د الون ږغ د ماشا احساساتو لاندې کړ، هغه ته غوسه ورغله خو د وخت د نزاکت له احساس سره يې ځان ژر بېرته قابو کړ او په داسې حال کې چې حواس يې الوتي وو، ووېل:

"انعام زموږ په دواړو دی "

"موږ دوه ولې يو؟ يو، يو د يوه زړه دوه بدنه يو"

الون تر ډېره دغه هڅه کوله چې ماشا ته د خپلې مينې باور ورکړي، بيا چې يې کله د ماشا پر څېره يوه شوخه مسکا وليده نو خړ يې وموسل.

"انعام بې له شکه چې زموږ دواړو دی" ماشا د الون پر اوږه خپل سر  کښېښود او ويې ويل:

"موږ دوه نه يو، يو، يو"

"ماشا له دې ورسته به موږ يو نوی ژوند پيل کړو" الون د احساساتو سمندر له ځان سره ډېر ليرې يووړ:

"موږ ريښتيا هم يو، يو او همېشه به همداسې يو، يو" د هغه لاس ورو، ورو خپله د ماشا له اوږې څخه څنګلې ته ښوی شو او بيا د هغه لاسونو او شونډانو د خپلې ښځې پر بدن باندې د يوالې يوه نوې ژمنه ثبت کړه.

ماشا سترګې وموږلې او په پټو سترګو يې د الون حق ومانه:

"زه ستا يم، زما هر څه ستا دي، يو لك روبله هم ستا دي"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په پنځوسو زرو روبلو به موږ يو ښه کور واخلو" الون خپلي نااسوده غوښتني حس کړې.

"زه به يو شانداره کور واخلم او غواړم چي يو نوی موټر هم رانيسم، په لسو زرو روبلو به د نړۍ سيل وکړم او پاته پيسې به په بانك کي کښېږدو له هغه به يوه مياشنۍ مناسبه ګټه راته راځي"

ماشا په خوښي سره وويل:

"زه هم همداسي غواړم" بيا هغې په خيال کي د يو لك روبلو نوټونه وشمېرل، په هغو يې لوبي وکړي، او خپلي داسي کوچنۍ، کوچنۍ غوښتني يې تر سره کړې، چي هغه تر اوسه يوازي د پيسو د نشتوالي له امله محرومه ورځخه پاته شوې وه.

"هو ريښتيا موږ يو ښه کور ته اړتيا لرو، او شتا دويمه غوښتنه هم زه تايدوم ځکه د ښه کور لپاره يو موټر هم ضروري دی، په لسو زرو روبلو به موږ د نړۍ سيل وکړو، زما خپله له ډېره وخته زړه و چي د "ټيولا" او "اورېل" تکي شنې سيمي ووينم، پاته پيسې به په بانك کي کښېږدو چي مياشتنی عايد ورځخه پرې کړو"

له څو شيبو چوپتيا ورسته ماشا يو ځل بيا له ځان سره د خيالونو نړۍ ودانه کړه او ويې ويل:

"موږ به د ټولي نړۍ سيل وکړو، نياګر ته به لاړ شو، د روم سيل به وکړو، بس ټوله ژوند به عيشونه کوو، عيشونه"

الون په خيال کي د پاريس په سيل وتلی و، يوه نازنينه پېغله مخامخ ورته ناسته وه او په مسکا يې هغه ته جام وړاندي کاوه چي په دې کي هغه د خپلي ښځي ږغ واورېد او تکان يې وخوړ، داسي ورته ښکاره شوه لکه په اوبتل کي چي چاودنه وشوه او اوبتل مخ په ډوبېدو شو، هغه يو دم خپلي ښځي ته وکتل خو د ماشا شونډان نه ښورېدل، الون يو ځل بيا په خپلو خيالونو کي والوت، له دې ځلي د هغه د خيالونو بېړۍ په "ميامي" کي لنګر شوه، په ميامي کي تر يوې رنګيني چترۍ لاندي د نيمه بربنډو پېغلو د شباب له لمر ځخه هغه د خپلو خوښيو درد ټکوراوه، هغه يو شتمن سړی و، هيڅ پرېشاني يې نه وه او ميامي ته يوازي د سيل لپاره راغلی و.

هغه قدم واهه او مخ ته يې له يوې پسې بله ښکلې کړه ورړه تېرېده، ټولي د هغه د يوې اشارې په تمه وې خو الون ځېره جدي نيولې وه او هره يوه يې ردوله، نن ورځ هغه ډېر محتاط و، هغه د خپل ذوق د رانيولو وس درلود، انسان چي د ساعتېري د رانيولو وس ولري نو ذوق به يې نخرې ولي نه کوي؟ د هغه ذوق هم خپل ناز کاوه خو بيا مخکي تر دې چي هغه له يوه په زړه پوري بدن ځخه راتاو شي هغه د ماشا ږغ واورېد، ميامي يو ځل بيا د هغه د خوبونو جزيره وګرځېده او د ځوانۍ له اوره د سرو زرو غونډي ويلو شوو بدنونو ځای يوې بې ډولي او بدرنګي ښځي ونيو، الون يو سربېرن نظر پر هغې ناموزوني ښځي واچاوه، هغې د يو لك روبلو په اړه يو څه ويل، د يو لك روبلو په يادونه کي يو عجيب جادو پروت و، ځکه يوه شېبه ورسته بيا الون د اټاليا د يوه ستر هوټل حمام ته ورسېد، يوې نيمه بربنډې پېغلي په خپلو قلمي ګوتو د هغه د بدن ستړيا ايستله، او هغه د مدهوشۍ په حال کي و، چي په دې کي يو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دم یو زیږ خو اشنا ږغ د هغه ټولي هیلي د حمام له فرشه ووهلې، د هغو نازکو ګوتو ځای چي د هغه بدن یې تخنوی یو زېږ لاس ونیو:

"زه هم له تا سره ځم" ماشا د هغه له جذباتو څخه ناخبره په خوبولي لهجه وویل:

"زه هم غواړم چي د نړۍ سیل وکړم او عیش و عیشرت وکړم"

"عیش؟!" د ماشا دا توری پر الون داسي ولګېد لکه یو چا چي هغه له اسمان څخه پر یوه شګلنه مځکه راوغورځاوه.

"ماشا ته غواړې چي څنګه عیش وکړې؟ د عیاشۍ په مانا ته پوهېږې؟ الون تر ژبي لاندي وویل او بیا یې په تعجب د ماشا د څېرې د لوستلو هڅه وکړه، د هغه عصاب خراب شول، هغه ته داسي محسوسه شوه چي د هغې سترګي هم هغه رنګه خوبونه ویني لکه د ده په سترګو کي چي نغښتي دي، دې خوبونو هغه ته نوی ژوند وربخښلی و، خو همدا خوبونه چي د ماشا سترګو ته ولېدل نو یوه ډارونکې بڼه یې خپله کړه، د الون وینه په جوش راغله، د هغه په سترګو کي د خیالي کردارونو جنس اوښتی و، د الون په خیالونو کي د ښکلو پېغلو ځای هډورو ځوانانو نیولی و "ته غواړې چي څنګه عیش وکړې؟" د الون زړه و چي د زړه په زور سره چیغه کړي او خپله ښځه یوه کلکه څپېړه ووهي، بیا یې تر مرۍ ونیسي او پوښتنه ورڅخه وکړي چي "ووایه ته غواړې چي څنګه عیش وکړې؟"

د الون له زړه څخه یوه لویه چیغه پورته شوه خو تر شونډانو لا نه وه راغلې چي بېرته ورکه شوه، دې وېرې چي یو لك روبل به یې له لاسه ووځي د هغه غوسه ور سړه کړه او هغه یې خاموش کړ، ماشا اوس د هغه لپاره یوازي ښځه نه بلکي د یو لك روبلو چك هم و، او الون د یو لك روبلو له زور څخه ښه خبر و، ماشا ته په غوسه کېدل دا مانا درلوده چي هغه د یو لك روبلو څخه د همېشه لپاره ځان محروموه، او خپل خوبونه یې ټول په اوبو لاهو کول، هغه نه غوښتل چي خوبونه یې په اوبو لاهو شي، ځکه یې نو دا غوسه وزغمل.

له دې ځلي د هغه خوب تر "سینټ مارټن" پوري محدود پاته شوو هغه د یوې لوې مانۍ په تالاب کي لامبو وهل او په کټ، کټ یې خندل، د هغه دوو اولادونو یوه زوی او لور هم له هغه سره په لوړ اواز خندل، الون له دوو اولادونو سره مینه لرله مانا داچي هغه په ښار کي یو لوی کور هم پیدا کړی و او د دوو اولادونو ارمان یې هم پوره شوی، بیا چي کله له لامبو وهلو او ډېري خندا څخه ستړی شو او له تالاب څخه راووت نو یوه ښځه په داسي حال کي چي تودې چای او برګر یې په لاس کي وو، هغه ته مسکۍ ولاړه وه، دا ماشا وه، الون تکان وخوړ، خو خوب یې دړي وړي نشو، په دویم وار هغه د یوه خوشحاله او مطمین سړي غوندي د سمندر پر غاړه قدم واهه، د هغه نوکرانو شاوخوا منډې ورسره وهلې، د الون زړه و چي څو شیبې قدم ووهي، بیا د خپل ګاونډي کور ته لاړ شي، هلته د تاش یا شطرنج یوه لوبه وکړي او یو څه بانډار وکړي خو بانډار یې لا نه و شروع کړی چي ماشا یو ځل بیا د هغه خوب دړي وړي کړ، هغې په لوړ ږغ هغه ته ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"چيري ورك يې؟"

"هيچيري نه، هيچيري هم نه"

"تا زما د پوښتني ځواب ولي نه راکړ؟گ" ماشا يو څه ماښجن غوندي وويل:

"ښه، راته ووايه تر ټولو مخکي ته ما چيري بيايې؟ زه هم غواړم چي له تا سره فرانسه، اټاليا او هند ووينم" ماشا سترګي پټي کړې، الون هغې ته هيڅ ځواب ور نه کړ، هغه په دې اړه هيڅ ځواب نه درلود، هغه هيڅ هڅه نه کوله چي له خپلي ښځي سره په سيل ووزي، هغه کوچنی نه و، په دې ښه پوهېدی چي له خپلي ښځي سره تفريح نشي کېدای، دې خيال چي هغه به له خپلي ښځي سره يو ځای په سيل وځي د هغه پر بدن يوه سړه څپه راوسته، هغه سترګي پټي کړې او هڅه يې وکړه چي دغه خيال له ذهن څخه وباسي خو هغه په دې کي پاته راغلی، بيا هغه د زړه په سترګو وليدل چي ماشا په هر سفر کي له هغه سره ملګرې ده، له هغه سره له شيانو ډك صندقونه او غوټي دي، هغه د نوکر غوندي د ماشا شيان را اخيستي دي او ماشا په وار، وار سره په دې يادونه سفر بد خونده کوي چي پر سر مي درد دی، الون د اورګاډي په هر سفر کي د يوه کوچني پالنه کوي، دويم کوچني د ماشا په غېږ کي بغاري جوړي کړي دي، اور ګاډی چي به هر ځای تم شو نو ماشا به هغه ته ترماس په لاس ورکړ چي له يو هوټل څخه د کوچني د شيدو جوړولو لپاره تودې اوبه راوړه، الون په هر تم ځای کي د يو لالهانده پلار غوندي اېخوا دېګخوا منډي وهلې، کله به هغه د بسکټ پسې منډي وهلې کله به يې د ډوډۍ پسې، له هر سفر ورسته به يې د ماشا له طنزه ډکي خبري اورېدې چي تا له هغه ښځي سره خبري ولي وکړې؟ تا هغه نجلۍ ته دومره په ځير ولي کتل؟ له دې خيال سره د الون ټولي هيلي مړاوي شوې.

"ارمان چي د لاټرۍ ټکټ زما وای؟" الون سړه سا وايسته او خپلي ښځي ته ځير شوو ماشا هغه ته يوه بدرنګه او نابلده ښځه و ايسېده، " زه به له تا سره هيڅ کله سفر ونه کړم" الون له ځان سره وويل: "له تا سره يو ځای به زه عياشي څنګه وکړم؟" د هغه زړه و چي خپلي ښځي ته ووايې چي عياشي همېشه يوازي کېدای شي او يوازي نارينه حق لري چي عياشي وکړي، په تفريح کي ښځه له ځان سره ملګرې کول دا مانا لري چي نارينه پر ځان د عياشۍ هر ور بند کړي.

ماشا هغه ته يو څه وويل خو هغه وانهورېدل، په دې وخت کي هغه يوازي هغه خبري اورېدې چي هغه له ځان سره کولې او هغه خبري هم ورو، ورو بد خونده کېدې.

له دې ښځي سره د پاريس په شاهانه هوټل کي تم کېدل څه مانا لري، زه به د دې بې ډولي ښځي په واك کي يم، پر دې به هم هغه نيوکه کوي چي زه ولي دباندي وزم، زه به هر ځای له دې سره يو ځای يم له دې سره يو ځای هيڅ د عيلشۍ ځای ته نشم تلای، په يو هوټل کي د ښځي تر مرييتوب خو دا ښه ده چي په همدې کور کي پاته شم، دلته زه د دې امير يم، په کور کي دا له ما څخه دا پوښتنه نشي کولای چي زه چيري ځم يا چيري تللی وه، په دې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور کي چي هرڅومره ديغ يم، لږ تر لږه په عزت خو يم، دلته زما په زړه کي د اميد يو څرك شته چي يوه ورځ به لا د عياشۍ شپې راشي او يوه ښکلې پېغله به زما په ژوند را ګډه شي چي زه ماشا هيڅ ورڅخه خبره نه کړم.

"څه چورت وهې؟ګ" ماشا بيا هغه له چورتونو څخه را وايست:

"چيري ورك يې؟"

"هيچيري هم نه" د الون پر څېره يوه پيکه مسکا وغوړېده، هغه په ځير ماشا تر نظر تېره کړه، ماشا يو وخت ښکلې وه خو اوس د هغې په بدن کي د الون لپاره هغه جاذبيت نه و پاته چي الون خپل ځان پر خرڅ کړی وای او يوازي د يو لك روبلو لپاره تر خپلو غوښتنو تېر شوی وای.

دا ښځه به هيڅکله ما پرېنږدي چي زه يوازي "نيپلز" ته لاړ شم، دا خو ما تر "کيلن" پوري لا هم يوازي نه پرېږدي، سره له دې چي هغه نه غوښتل په زړه کي يې نفرت پيدا شو، هغه فکر کاوه چي ماشا څنګه يو لك روبله تر لاسه کړي نو بيخي به بل مخ شي، خپلي پيسې به قلف کړي او له ما څخه به تېر ټول کساتونه واخلي، د دې لپاره چي ما وځوروي له خپلو دوستانو سره به ښه پيل کړي، د ماشا د دوستانو په اړه چي هغه څنګه سوچ وکړ نو پر ذهن يې پرلپسې ګزارونه پيل شول، د ماشا له ورور، خور، اکا، خاله، عمه او ماما څخه د الون ډېر بد راتلل، هغوئ يې له خپله کوره منع کړي وو، الون له ځان سره فکر وکړ چي "د ماشا د يو لك روبلو د ګټلو خبر چي هغوئ واوري نو زما پر کور به يرغل راوړي" د ماشا له ځينو دوستانو څخه د الون دومره بد راتلل چي ّان د هغوئ مخ يې هم نه غوښتل چي ويې ويني، هغه د ماشا له مور څخه هم ډېر بېزاره و، هغه پوهېدی چي که ماشا د يو لك روبلو څښتنه شي نو هغه خپل کور ته د هغې د دوستانو مخ نشي ډب کولای.

اوف خدايه! الون داسي محسوسه کړه چي سر يې د چاودېدو په حال کي دی، هغه سر په دواړو لاسونو ونيو، سره له دې چي سترګي يې پټي وې هغه ليدل چي د ماشا دوستانو د هغه پر کور يرغل راوړی دی، هغوئ بې ځايه، بې ځايه خاندي، د هغه پر بې مانا خبرو ملنډي وهي، د هغه سپکاوی کوي، هغه له هغو کسانو سره ناست دی ډوډوۍ خوري چي نفرت يې ور څخه کېدی، دا يو ډېر بد حالت و، الون تر دې مرګ غوره باله چي د ماشا قريبانو ته سر ټيټی وي، د ماشا خپلوانو له هغه سره وړ چلند نه و کړی، دا يوازي ماشا وه چي د هغوئ صفتونه به يې کول، پر دې به د دوی دوو تر منځ اکثره سره شخړه وه او پای به همېشه د الون په ګټه او د ماشا په تاوان تمامېدی.

تر يو لك روبلو راوتلو ورسته خو هيڅ امکان نه لري چي ماشا دي چوپه پاته شي، نه يوازي داچي هغه به پر ده جابيره شي بلکي دی به هم د خپلي خسرګنۍ ستايني ته اړ کړي او پر هغه به يو دايمي عذاب نازل شي، د خسرګنۍ د خپلوانو عذاب!، "نه، نه" الون ولړزېدی، "يوازي د يو لك روبلو لپاره زه خپل ژوند نه بربادوم" له دې پرېکړي څخه الون يو عجيبه سکون تر لاسه کړ، د هغه پر شونډانو يوه پيکه مسکا وغوړېده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ولي خاندې؟" د ماشا پر شونډانو هم مسکا وغوړېده.

"ستا پر معصومیت او سادګي خاندم" الون ماشا په غېږ کي ونیوه.

لږ ورسته الون په جدي لهجه وویل:

"ماشا بخښنه غواړم، ستا هیڅ انعام منام نه دی راوتلی، ما ټوکي درسره کولې، د هغه ټکټ لمبر چي انعام یې ګټلی شپږویشت نه شپږڅلوېښت دی" الون چي دا جمله ادا کړه نو لکه یو لوی پېټی چي یې له اوږو لیري کړ، هغه خپل ځان ډېر سپك او حوسا حس کړ.

د ماشا پر څېره نا امیدي وغوړېده:

"ته داسي ټوکي ولي کوې؟" ماشا څو شیبې خپه شوه:

"که پر ما له خوښۍ څخه د زړه دوره راغلې وای؟ او مړه شوې وای، نو؟"

"ها، ها... ها" الون د زړه له اخلاصه وخندل او بیا د خپلي خپه شوي ښځي په پخلاینه بوخت شو، ماشا ډېره ژر پخلا شوه او لږ وروسته په ژور خوب ویده شوه.

الون ته هم خوب ورتلی، نور د هغه پر ذهن کوم فکر نه و خپور، هغه چورت واهه چي د هغه معصومي ښځي له پنځلسو کلونو څخه هغه ته د مجازي خدای په سترګه کتلي، له هغه سره یې د اطاعت ژوند تېر کړی دی، د هغه پر ریښتیا او درواغو یې په پټو سترګو باور کړی، ماشا به هیڅکله دا فکر هم نه کوي چي نن الون د خپل ژوند تر ټولو لوی درواغ وویل، هغه ورځپاڼه ټوټې، ټوټې کړه او په چټل دان کي یې واچول.

د الون خیال ریښتیا وختی، سهار د ماشا نه لاټرۍ په یاد وه او نه یې هم انعام په فکر کي وروګرځېدی، هغې الون ته سهارنۍ وروړه او د هغه د رخصتولو لپاره په وره کي ودرېده، هغه تر هغو مسکۍ وه او خپل سرې ته یې لاس ښوراوه، تر څو هغه له سترګو پناه شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عابده

## رابندرنات ټېګور/بنګال

کله چې زما شهرت خپل اوج ته ورسېد او زما نوم د ادبي جريدو په سرليکونو کې وليکل شو نو ما د دې ادبي رقابت له وېرې په يو داسې ګوښه ځای کې د اوسېدو اراده وکړه چې هلته زه خپله هستي او د هغې بې شمېره غمونه بيخي له ياده وباسم، له کلکتې څخه ځو ميله لېرې په يو کلي کې زما کور دی، هلته زه په پوره مانا ارام ژوند تېرولای شم، د دې کلي اوسېدونکی تر اوسه پورې زما په اړه کومې نتيجې ته نه دي رسېدلي، د هغوئ په نزد زه نه د سيل شوقي يم او نه هم داسي ميله بازه يم، هغوئ ما درويش هم نه بولي، زما او د هغوئ تر منځ چې کومه څه نا څه اشنايي شته هغه هغوئ له دې خيال څخه همېشه لېرې ساتي، له دې پرته هغوئ ما مساپر هم نه بولي په داسي حال کې چې زه له ازله ګښته يم، زه په کروندو کې اکثره بې مقصده ګرځم خو هغوئ يوازې دومره پوهېږي چې زه جره يم هغه هم په دې خاطر چې هغوئ له ما سره هيڅ کله زما کوچنيان نه دي ليدلي، داچې هغوئ زما په اړه په انسان يا حيوان شمېرلو کې پاته راغلي دي نو له دې امله يې زه پر خپل حال پرې ايښی يم ځکه نو زه په خپله دنيا کې يوازې اوسم.

خو زه اوس په دې پوه شوم چې په دې ټول کلي کې يوازې يوه هستي داسې شته چې هغه له ما سره دلچسپي لري، ما له هغې سره د جولايي د مياشتي په يوه غرمه کې وليدل، له سهاره څخه باران اورېدی او فضا تر اوسه پورې داسې نمجنه پاته وه لکه له اوښکو وروسته چې ليمه.

زه مست ناست وم د رود په غاړه کې د ځرېدونکو غواوو ننداره مې کول، د غرمې سور لمر پر مځکه باندې د خپلو وړانګو جال غوړاوه، د لمر دې ساده رڼا چاپېريال له معصومانه جذباتو څخه ډك کړی و، ما چې هغه ته کتل نو په زړه کې خيال را پيدا شو چې کشکې انسان د دې لباسونو پر ځای د فطرتي سنګار پيروي کولای، له دې څخه به نه يوازې دا چې د خياطۍ پيسې به سپمېدلای بلکې زموږ له بدن سره به د هوا هغه موسيقي لګېدلای چې د هغې له امله به زموږ رنګ د مصنوعي لباسونو په نسبت ښه ښکارېدلای.

په همدې شيبه کې چې زه په خيالونو کې ډوب وم يوه پخه ښځه راغلله ماته يې سجده وکړه او تندی يې پر مځکه وسولاوه، هغې په خپلې لمن کې د ګلونو غونچې را اخيستي وې، هغې په ډېر درناوي په داسې حال کې چې لاسونه يې يو ځای نيولي وو د ګلونو يو غونچه ماته راکړه او ويې ويل:

"ديوتا دا ستا نذر دی"

هغې دومره وويل او لاړه داچې زه په يو فکر کې ډوب وم ځکه نو د هغې د تلو احساس راته ونشو، که څه هم دا يوه عادي پېښه وه خو زما پر زړه يې ژور اثر وکړ، ما يو ځل بيا ځرېدونکو غواوو ته وکتل هغوئ اوړدې ساوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيستې، په شنو ورشوګانو کي پورته کښته کېدې او مچان يې په ساه باندي شړل، دې منظر زما د سترګو په وړاندي يو مرموز صورت اختياراوه، لوستونکي ښايي زما پر دې کم عقلي باندي وخاندي خو زه دا وايم چي زما زړه له صفت او ثنا څخه ډك و، بيا په همدې مهال ما د آم له وني څخه يو شين ښاخ را پرې کړ او غواوو ته مي په خپل لاس ور واچوه.

او ما دا خوښي محسوسه کړه لکه ما چي خپل خدای خوشحاله کړی وي.

په دويم کال چي زه کلي ته بېرته راغلم نو د فروري مياشت وه، يخ لا تر اوسه نه و وتلی، سهار مهال چي د لمر وړانګي زما کوټې ته راغلې نو ما د هغوئ له تودوخي مننه وکړه، زه په ليکلو بوخت وم چي زما نوکر کوټې ته راغی او ويې ويل:

د "وشنومت" يوه عابده غوارې چي له تا سره ووينې، ما په بې پروايي سره ورته وويل: چي پورته يې راولې او بېرته په ليکلو بوخت شوم، لږ ورسته عابده دننه راغله او ټيټه شوه زما قدمونو ته يې لاس وروړی، دا هغه ښځه وه چي ما يو کال وړاندي څو شيبې ورسره ليدلې و، اوس ما کولای شو ل چي هغه بيخي له نژدې څخه مطالعه کړم، هغه د عمر له هغې برخي څخه اوښتې وه چي يو نارينه يې پوښتنه وکړي چي ښځه ښايسته ده که بد رنګه؟ هغه په قد لوړه وه او غښتلې وه خو د هغې ملا د ډېر رياضت له امله کړوپه شوې وه، تر دې ټولو د پاملرني وړ د هغې دوې سترګې وې، په هغو کي ډېر کشش موجود و، کله چي هغه را ننوته نو د هغې دې دوو سترګو ماته ټکان راکړ .

"ديوتا!" هغې وويل:

"ايا د هغو ګڼو ونو سوری زموږ د ليدو لپاره مناسب ځای نه و چي تا زه خپل تخت ته را وغوښتم؟"

هغې زه به باغ کي د ګرځېدو په مهال ليدلی وم خو ما هغه نه وه ليدلې، دا څو ورځې کېدې چي ماته زکام راپورې شوی و ځکه نو زه له کوره دباندي نه وم وتلی بس د خپلي بالاخانې څخه مي د شنه ژوندي اسمان سيل کاوه.

تر لنډې چوپتيا وروسته هغې بيا وويل:

"ديوتا! زه ستا قدم ښکلولو ته راغلې يم"

زه چوپ وم، تر تلو وړاندي هغه بيا زما پر پښو را پرېوته او هغه يې ښکل کړې خو هغه نا کراره وه ځکه چي زما پښې پټي وې خو د هغې زړه و چي لوڅې يې ووينې.

په دويمه ورځ سهار زه له کوټې څخه راووتم او په بالاخانه کي کښېناستم، د ونو له قطار څخه چپ لور ته ما يوازې د کلي خوښناکه منظره ليدله، په هغه سهار دا ويل ناشوني و چي لمر را ختلی دی که نه؟ هر لور ته خوپ و، ما ليري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وليدل چي هغه ښځه له خوب څخه داسي را ښکاره شوه لکه له توري شپې څخه چي د شفق رڼا راپورته کيږي، هغې د ديوتا په وړاندي يو خوندور منتر زمزمه کاوه.

بيا چي کله خوب ليري شو او د لمر سترګه د اسمان پر نيمايي باندي وځلېده نو زه د څه ليکلو لپاره پر مېز باندي کښېناستم چي له ځينو څخه مي د چا د قدمونو ښکالو تر غوږ شوه او عابده په داسي حال کي چي يوه نغمه يې پورته کړې وه کوټې ته را ننه شوه، هغه ماته ټيټه شوه، ما د کاغذونو له بستې څخه سر راپورته کړ.

"ديوتا! ما پرون ډېر پاك او سپېڅلي خواړه وخوړل، هغه ډېر مقدس وو ځکه چي ستا مقدسو لاسو هغه لمس کړي وو"

ما تکان وخوړ او و مي پوښتل چي هغې څنګه له ما څخه پاته شوي خواړه تر لاسه کړي دي؟ هغې وويل:

"زه ماښام له وره سره په تمه وم چي کله ستا نوکر لوښي بيرته را اخيستي وو نو ما له هغه څخه يوڅه خواړه واخيستل"

د دې په اورېدو زه ډېر حيران شوم ځکه د کلي هر کس خبر و چي ما ډېر وخت په اروپا کي تېر کړی دی او له اروپايانو سره مي خوړل څښل کړي دي، هغوئ له ما څخه ډډه کول .

عابدې په اريانۍ سره وويل:

"چي زه ستا پاته شوني و نه خورم نو دلته مي د راتلو ګټه څه ده، ديوتا؟"

زه چوپ وم، هغه زما له حيرته څخه ډېره متاثره شوه او ورو پورته شوه لاړه.

ما څه وخت وروسته څرګنده کړه چي عابده له ډېري درنې کورنۍ څخه ده او د هغې مور ډېره ښه ښځه وه هغې دا د "درمسار" له خدمتګارۍ څخه منع کړه خو دې خپله د ځان لپاره دا ژوند غوره کړ، ما له هغې څخه وپوښتل چي هغه ژوند څنګه تېرګروي؟ هغې ماته وويل چي زما پيروانو ماته يوه ټوټه مځکه راکړې ده او ډوډۍ د څو ورونو له ټکولو څخه پيدا کوم، زما ټينګه هيله وه چي له هغې څخه دا وپوښتم چي هغې واده کړی دی کنه؟ خو هغې کله په اشاره هم د دې يادونه ونه کړه ځکه نو ما له هغې څخه دا ډول پوښتنه ونشواى کړاى.

ما د هغې په اړه دا مالومات هم تر لاسه کړ چي لوړ ذاتي خلك د هغې درناوی نه کوي، له هغه ورسته چي عابده بيا راغله نو هغې زه په مطالعه کي ډوب وليدم.

"ديوتا، زه چي هر وخت راشم، ته په ليکلو او لوستلو بوخت يې"

ما ورته وويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خدای(ج) خپل اوزګار بندګان بوخت ساتي، که نه نو هغوئ خامخا بدو ته مخه کوي"

عابدې ماته وویل: "چي کله زه ستا لیدو ته راځم نو نوکر ما خامخ دننه نه راپرېږدي، کله چي زه ستا لمانځنه کوم نوستا پښې همېشه په جرابو پټې وي او کله چي زه له تا سره خبري کوم نو ته هر وخت په فکرونو کي ډوب یې، له دې ځلي د تلو په وخت هغې لاسونه په خواست سره ونیول او ویې ویل:

"دیوتا، نن سهار ما ستا پښې پر خپله سینه باندي محسوسي کړې، اه! څومره سړې وې خو وې لوڅي، دا رنګه په جرابو کي پټې نه وې، ما له وخته د دوئ لمانځنه کول ځکه زما ټوله هستي ور څخه اباده شوه"

په هغه ماښام چي عابدې خپل ژوند راته بیانوه ستوري ورو، ورو له خوبه ویښ شول او د ونو شاته ښکارېدل چي په تیاره کي یې سترګکونه وهل، هغه د خپلي کیسې پای ته په رسېدو وه.

"زما مېړه ډېر ساده دی خو زه یې په دې ساده توب کي هم یوه ښېګڼه وینم، زموږ د واده مخکي زما او زما د مېړه مور او پلار مړه شوي وو، زما مېړه همیشه دا هیله لرلې چي یو څوك پر هغه باندي حکومت وکړي، او زه په دې ډېر شرم محسوسوم چي هغه ما تر ځان لوړه بولي او زه په دې هم ښه پوهېږم چي هغه تر هرڅه ما ښه بولي په داسي حال کي چي هغه په خبرو کي تر ما ډېر ښه دی، هغه پخپله دونیا کي تر هر چا زما ډېر عزت کاوه، یوازي عزت هم نه بلکي مینه هم او داسي مینه چي په دنیا کي ډېره کمه لیدل شوې ده، "ګورو ټهاکر" زما تر مېړه کشر و، اه! هغه څومره ښکلی و، زما سړي او هغه په کوچنیوالي کي یو ځای لوبي کولې او له هغه وخته څخه ده خپل روح او زړه د کوچنیوالي د دې دوست په خدمت کي وقف کړي وو، ټهاکر پوهېدی چي زما سړی څومره ساده دی ځکه به یې پر هغه هر وخت پسخند واهه، هغه او د هغه ملګرو به د ساعتېري لپاره پر هغه ټوکي کولې خو هغه به چار او ناچاره برداشتولې، چي زه واده شوم ګرو ټهاکر په بنارس کي درس وایه او د هغه خرڅ زما مېړه له جېبه ورکاوه، زه اتلس کلنه وم چي هغه کلي ته بېرته راغی، په پنځلس کلنۍ کي زما یو اولاد وشو خو زه دومره ځوانه وم چي د هغه مي هیڅ پروا نه کوله، زه د ټوکو ټکالو ډېره شوقي وم او یوازي د خپلو کلیوالو همزولو نجنو سره په ساعتېري پوهېدم، زوی به مي یوازي هغه وخت لیدی چي زه به له مجبورۍ په کور کي پاته کېدم، د کوچني د روزني لپاره افسوس! ما زوی و زوکړ خو د هغه د لوبو شیان مي ور برابر نه کړل، مور د هغه په زړه کي ځای جوړ کړی و خو هغې و نه مانه، هغه د غوصې په حالت کي زه پرېښودم او زه تراوسه په دې دنیا کي د هغه په لټه یم، هغه د خپل پلار د زړه راحت و خو زما بې پروایي هغه ته صدمه ور ورسوله، هغه دا بیانولای نشوه ځکه هغه له ازله همداسي خاموش طبیعته و، د اریانۍ خبره دا وه چي زما زوی زما له بې مخۍ سره له ما سره ډېره مینه کوله، د هغه دا خیال و چي یوه ورځ به زه هغه خامخا پرېږدم او لاړه به شم، زه او هغه چي به کله یو ځای وو نو هغه به زما په سترګو کي سترګي را ښخي کولې او تر ډېره به یې راته کتل او زه چي به هره ورځ د رود غاړي ته تلم نو هغه به خپل ناني، ناني لاسونه د اشارې په دود خلاصول چي ما هم درسره بوزه خو د لمبېدو ګودر یوازي زما او زما د همزولو د لیدو ځای و، د دې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره د کوچني پېټي پر غاړه ګرځېدل د منلو وړ نه و، يوه ورځ چې د تورو وريځو لړۍ ټولي شوې نو خادمې ته مې وويل چې هغه پر کوچني پام وکړي او خپله د رود په لور رهي شوم، کوچني چې زه وليدم چې ځم نو په چيغو شو.

زه چې څنګه ګودر ته ورسېدم، هلته هيڅوك نه وو، زه په کلي کې تر ټولو ښځو ښه لامبوزنه وم، رود غاړي تر غاړي ډك و، ما ور ټوپ کړل او په لامبو سره د رود منځ ته رسېدلې وم چې د رود له غاړې مې يوه چيغه واورېده: " موري!" ما چې سترګي ور واړولې او ومي کتل، زما زوی د ګودر په ځينو کي را تا کېدی، ما د درېدو ورته وويل، په زوره په زوره چيغي مي پر ووهلې خو هغه په خندا او داسي حال کي چې ماته يې نارې را وهلې مخ په وړاندي راروان و، زما پښې او لاسونه له وېري مړه شول، ما سترګي پټې کړې او چې بېرته مې خلاصي کړې نو په ځينو کي زما د زوی چيغي د ابد لپاره چوپې شوي وې، زه د رود غاړي ته راغلم، هغه مي له اوبو څخه راوکيښ او پر اوږو مي را واخيست خو هغه يخ پخ شوی و، يو وخت هغه زما ارمان درلود خو اوس زه د هغه ارمان لرم، کومې ستونزې چې زما سړي زغملې دي په هغه يوازې خدای پاك(ج) ښه پوهيږي، که هغه ماته زما د کړو ښه سزا راکړې وای نو دا به زموږ د دواړو لپاره ښه وای خو هغه خاموش و .

په کومو ورځو کي چې زه د هغه په غم کي په لېونتوب وم نو "ګوروټېهاکر" بيا راغی، له دې ځلي زما خاوند د هغه د استعداد له امله تر پخوا څو چنده ډېر د هغه عزت کاوه او د هغه په موجودګي کي به يې خبري لا نه کولې، پر هغه باندي د ګوروټېهاکر وېره لوېدلې وه، زما خاوند ګوروټېهاکر ته وويل چې هغه ماته تسلي راکړي، هغه پر ما باندي د مقدس ويدونو منتر ووايه، هغه منترو زما پر زړه باندي هيڅ اثر و نه کړ خو هغه ژبه ډېره اغېزمنه وه چې دا توري په ادا شوي وو.

ما د ګروټېهاکر په رنګ کي خدای وموند، هغه به هره ورځ سهار زموږ کور ته د ډوډۍ خوړلو لپاره راتلی، زه چې به څنګه راوېښېدم نو د هغه د ډوډۍ په فکر کي کېدم، زما مېړه چي وليدم چې زه د هغه ډېر عزت کوم نو هغه به زما ډېر عزت کاوه، همداسي زموږ د ؟وند پنځه کلونه تېر شول خو د پردې تر شا نور څه روان وو چې ما نشوای معلومولای خو زما زړه هغه کشف کړل، د پسرلي په يو سهار ګوروټهاکر تر لمبېدو ورسته کور ته بېرته روان و جې د آم تر يوې وني لاندي ما او هغه سره مخامخ شوو، هغه ټوال پر اوږه اچولی و او په سنسکرت باندي يې يو شعر زمزمه کاوه، زه ټوله لنده وم او کالي مي ټول پر بدن باندي نښتي وو، د هغه په ليدو زه ډېره وشرمېدم، هڅه مي وکړه چې ژر ځان وباسم خو هغه زما نوم واخيست.

زه سره کوچنۍ شوم او وشرمېدم، هغه په ما کي سترګي ښخي کړي وې او ويې ويل:

"ستا بدن څومره ښکلی دی"

ماته داسي محسوسه شوه لکه د مرغيو يوه دنيا چې زما د سر پر ښاخ چنيږي او ټوله ښاخونه له ګلونو ډك دي او داسي راته ښکاره شوه لکه مځکه ّاسمان او هر شی چې د خمار او خوښۍ په حال کي دي، زه نشم ويلای چې کور ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنګه ورسېدم خو دومره پوهېږم چي هغي کوټې ته ننوتم چي مور د دیوتا عبادت په کي کوو خو کمره خالي راته ښکاره شوه، زما د سترګو په وړاندي هغه وړانګي په نڅا وې چي ما له لمبېدو ښخه وروسته د راتلو پر مهال د ّام د وني تر سیوري لاندي لیدلي وې.

ګوروتېهاکر په هغه ورځ د خپلي ډوډۍ د وړلو لپاره راغی او زما پوښتنه يې وکړه، زما مېړه زما پسې ډېر وکتل خو پیدا يې نه کړم.

نه پو هېږم چي هغه ورځ ښنګه تېره شوه او د شپې چي ما خپل مېړه ولید چي ویده و نو زه په پټه د هغه پښو ته نژدې پرېوتم، يو ځلي هغه پښې کش کړې او هغه زما له سینې سره ونښتې.

سهار چي زما مېړه راويښ شو نو زه هغه ته نژدې ناسته وم، د کړکۍ دباندي له ښاخونو ښخه د شفق سرخي راښکاره شوه تر اوسه لا وختي و، کاغیو شور نه و جوړ کړی، زه ټیټه شوم او پخپل تندي مي د خپل مېړه پښې مچ کړې، هغه جګ کښېناست او په حیرانۍ يې ماته وکتل، ما ورته وویل:

"ما اراده کړې ده چي دنیا پرېږدم، نوره زه ستا نه یم، زه باید ستا کور پرېږدم"

ښايي زما مېړه تر اوسه خوب لیدی، هغه یو توری هم له خولې راو نه ایست، ما ورته ویل:

"زما په خبره ځان پوه کړه، ته اوس یو بل واده وکړه او زه له دې دنیا ښخه رخصتېږم"

زما مېړه وویل:

"تاته دا د لېونیانو خبري چا در زده کړې؟ تاته چا وویل چي ته دنیا پرېږده؟"

ما ورته وویل:

"زما ګوروتېهاکر"

زما مېړه په حیرانۍ وویل:

"ګوروتېهاکر؟ هغه تاته دا نصیحت کله وکړ؟"

ما ورته وویل:

"تېر سهار چي زه له روده ښخه بېرته راتلم" د هغه اواز ولړزېدی، مخ يې را واړوه، زما په ښېره کي يې سترګي ښخي کړې او را ښخه ويې پوښتل:

"هغه تاته دا ولي وویل؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وويل:

"زه نه پوهېږم، له هغه ځخه پوښتنه وکړه ښايي هغه دي وپوهوي"

زما مېړه وويل:

"د دنيا پرېښودل ممکن دي ولي چي انسان پکي اوسي، ته هيڅ ضرورت نه لرې چي زما کور پرېږدې، زه له ګوروټېهاکر ځخه په دې اړه پوښتنه کوم"

زما مېړه چوپ و او په تياره کي پر فرش باندي ناست و، کله چي څه رڼا شوه نو هغه ماته وويل:

"راځه چي ګوروټېهاکر ته ورشو"

ما په داسي حال کي چي لاسونه مي سره يو ځای ورته ونيول هغه ته وويل:

"زه به نور هيڅکله له هغه سره ونه وينم"

هغه زما په سترګو کي سترګي راواچولې، ما له شرم ځخه سترګي کښته کړې، هغه له دې وروسته هيڅ ونه ويل، زه پوهېدم چي هغه زما د زړه خبره درك کړې ده، په دې غملړلې نړۍ کي دوې هستۍ داسي وي چي هغوئ له ما سره مينه وکړه، زما زوی او زما خاوند، هغه مينه زما هر څه وو، له دوئ دواړو ځخه يوه زه پرېښودم او بل ما، نور به زه له صداقت ځخه کار اخلم يوازي له صداقت ځخه"

عابده زما پر پښو راپرېوته، پورته شوه او بيا راپرېوته او لاړه.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**